

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# د کـــــــتـــــاب پېژندنه

د کتاب نوم : بدنامه مرواء (ناول)


لیکوال: محمد نعیم وردګ

بریښنالیک: www.naeen.afghan@gmail.com

د فسبوك نوم: نعیم جان بوډا



انلاین چارې: انجنیر صفت الله (فضلي)

کــــــال: ۱۳۹۹ هـ . ش

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ــــ ناول ــــ

له بده مرغه نوځوانۍ ته درسېدو سره سم مو په معصومه، سپېڅلي مینه، ورځ تر بلې دعشق ناولی رنګ راګډېدو، حتا تر دې چې د دولس، دیارلس کلنۍ په دوره کې مو یې هغه مقدسه ملګرتیا اتیاه سلنه مسخه کړه، کني له دې مخکې که څه هم ماشومتوب خو هسې هم په تمامه معنا د سپېڅلتیا نوم دی، ولې زما او مرواه منځ کې دهلك او نجلۍ یا غیرې همجنس خبرې هم هېڅ وجود نه لرلو، نو له دې وجې مو په لوبو کې هم دهلکانو او نجینو لوبه نه وه معلومه، توشلې، لاټڅکې توپ بازۍ همداسې ډېری نورې لوبې به مو یو ځای سره کولې، ځکه چې یو خوا ، نه زموږ کور کې زما هم سني نور ماشومان و، او نه ددوئ، بلخوا دېوال په دېوال ګونډیان و، کله به چې تر دروازه راووتلو که دا به مې ولیده چې لاټڅکې یا کومه بله لوبه به یې کوله، زه به پرې ورګډ شوم، که به زه په کومه لوبه مصروف وم؛ دې به دلیدلو سره سم شروع راسره وکړه، حتا اکثره وخت به یو بل پسې کور ته ورتللو، په عین حال کې ډېره هوښیاره نجلۍ هم وه، خپله خو یې هېڅ داسې لوبه نه کوله، چې ځان یا نورو خلکو ته زیان ورسوي، بلکې زه به یې هم تل له تیرو وارولو، وغیره هغه لوبو چې جامې به پکې چټلېدلې یا به پکې شکېدلې منعه کولم، خلاصه دا ملګرتیا مو تر نهه، لس کالونو همداسې پاکه، صفا د کامل اخلاص او صداقت په بنیاد ولاړه وه، اما بد بختانه لکه څنګه مې چې سر کې ووېل، پس له یولس، دولسو کالونو یو د بل سترګو ته غله شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


خو دا چې نه مو ليدلي و، نه مو کتلي و، لمړی ځل و، د عشق عجيبې عريبې لېونۍ دنيا ته مو قدم راخېستی و، نور خو لا څه حتا له يو بل نه به هم شرمېدو، دسترګو غلا به مو هم، په ډېره غلا کوله، مخکې مې يادونه کړې، مرواه له يوې خوا ډېره هوښياره، چالاکه وه، بلخوا طبعي ده، دهلکانو په پرتله نجينې څه زياتې شرمګيره وي، نو په همدې اساس، نظر ماته دې به تر ډېره خپل احساسات کنترول ساتل، په ډېر احتياط او هنر به يې دسترګو تنده ماتوله، حتا اکثره وخت به يې دځينو دروغجنو حرکاتو په مټ ځان داسې ښودو چې ګواکي زه همغه ماشومه مرواه ګې يم، نه عشق پېژنم، نه يې نوم.

که څه هم، ما هم دا هڅه کوله خو دا چې د مرواه غوندې هنر مې نه لرلو کله ناکله به خبره رانه آتڼ شوه، نيغ په نېغه به يې ګير کړلم، لاس به مې کار کې و؛ سترګې ددې په اننګيو کې يا به کوم بل داسې شرمېدلی حرکت رانه وشو، خو دا هم خير، يوه ورځ د اختر لمړۍ ورځ وه، د حويلۍ له خوا مې يو غږ واوريدو چې کتل مې مرواه يې دکور له خوا د دېوال په کنډو کې راولاړه وه، يو لاس يې زموږ حويلۍ ته راځوړند کړی و، د پنځوسو 50 روپيو يو لوټ يې ګوتو کې ښکارېدو وېل يې:

– خير لالك به مې شې دا پيسې درسره واخله دمور مې معده خوږېږي يو پاوکت ګولۍ ورته راوړه.

له يادولو دې پاتې نه وي چې مرواه، يو سپينږيرې پلار لرلو؛ يوه مور هغه هم سخته مريضه، يوه يې مشره خور چې دا واده شوې وه، نور يې هېڅوك نه و، ددې له پاسه خپله ځمکه يې هم نه لرله پلار به يې دنورو خلکو دهکانۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library


کولې، که څه هم ضعیفه و، ولې بیا هم ډېر غیرتي سړی و، د خپلې درې کسیزه کورنۍ د اړتیاوو پوره کولو سرېېره دکلي کور سره مړی، ژوندی یې هم ښه په مېړانه کول، خو بیا هم یو خوا سپینږیری و، بل خوا یې کور کې مریض لرلو، نو طبعاً وخت ناوخت به دګونډیانو په صفت د اقتصادي اړخ علاوه د ځینو فزیکي کارونو لپاره موږ ته درېدل مرسته به یې غوښته، موږ هم دمسلمانۍ او انساني ترحم له مخې، مخ نه ترې اړوه خپل وس مو ورسره کولو، ډېری وخت به مو خپل پوخ د پګ ورسره نیمه و. هغه واده شوې خور او اوښی یې د ډیورنډ تر پوله هاخوا کوټه کې اوسېدل، اقتصاد یې ښه و، جامې، مامې خو ټولې دوئ ورته راوړلې او رالېږلې.

خو په هر حال راځم خپلې مخکنۍ خبرې ته،

مرواه ته مې ووېل:

- ښا، صحیح ده، څه پیسې دې درسره واخله زه یې راوړم، اګر چې ماسره هم دومره پیسې نه وې، ټول ټال مې یونیم دوه سوه افغانۍ جیب خرچه لرله، بیا عید هم و، پیسې پکارېدلې، خو دا مې هم نفس نه منله چې د مرواه له ګوتو هااا پنځوس روپۍ راواخلم، اما مرواه ټینګه شوه، بلاخېره پیسې یې را خطا کړې، نور مې نو پیسې راوخیستې، موټر سیکل مې چالانډ کړو، اول د ډاکټر وصیل کور ته ورغلم، پوهېدم چې داختر ورځ ده، حتما کور دی، دواخانه به یې بنده وي، همداسې وه، کله مې چې دروازه ور وټکوله ډاکټر راووتلو، دکیسې د آورېدو سره جوخت په موټرسیکل راپسې سور شو، دواخانې ته یې ولاړو، یو پاوکټ ګولۍ او یو شربت یې راکړل، ټولې یې یوسلو شل روپۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library


شولې، نور راسواره شو، ډاکتر مې يې دخپل کور سره ښکته کړو زه راغلم، موټر سيکل مې دخپلې او مرواه دغو د دروازو تر منيځ ودرولو، ور ننوتلم، دبرنډې په دوهمه زينه کې مې پښه ايښوله چې کتل مې مرواه د دهليزه تر وره راووتله د اختر جامې يې اغوستې وې، څه يې نور په ځان ګوتې وهلې وې بل شان خوږه ښکارېدله، مخکې له دې چې زه يې دمور پوښتنه ترې وکړم؛ زر زر يې وېل:

- خير يوسې ددې اختر په ورځ مې دومره زحمت درکړو، شکر مور مې هم ښه شوه، ور غبرګه مې کړه:

- ښا، څه شکر چې ښه شوه، ته تر مخ شه دا اختر به ورسره مبارك کړم، د ددك (پلار) سر خو مې دې ښه و، سهار جومات کې مبارك کړو.

- راځه!

مرواه مې تر مخ شوه، کوټې ته ور ننوتلم، دمرواه مور چې ما به هم د مرواه په خوله ادې ورته وېل، بسترې ته څنګ وهلی و، د وريځو اوبه يې څښلې، د اوليه سلام کلام سره ګډ مې د اختر مبارکي هم ورته ووېله، مننه يې وکړه، همداسې د دواه راوړلو په خاطر يې دعاګانې کولې، او وېل يې:

- کينه چې مروا چای درته راوکړي!

- نه خير يوسې چای نه خورم،

موټرسيکل مې لاره کې درولی خدای پامان!

(c) ketabton.com: The Digital Library


ترې راروان شوم، زما او د ادې دخبرو په جريان کې مرواه له کوټې راووتلې وه، کله چې زه د دهلېزه له وره برنډې ته راووتلم، دمخامخ وړاندې دالان په وره کې مې په مرواه سترګې ولګېدې په لاس کې يې زمونږ دمحلي رواج اړوند په يو فشکاب کې وچه مېوه نيولې وه، ور يې ځينځير کړو، خوشحاله خوله غونډه، منډه زما په خوا رارونه شوه، پاکې پاکې تورې او سپينې سترګې يې خوږې، خوږې اړولې، د پربکړې پيکي د ويښتو لام يې دهر قدم سره د چپ اننګي په سر ټال وهلو، د ښځو سرې جامې زما هسې هم خوښېږي، خو د مرواه سره د سرو جامو له پاسه سره نازك ټکري او په ځنډو يې نرۍ زېړې زريني پيتې دلمر په وړاندې الوتو سپرغيو بله نمونه خوند کو، زما حد ته په رارسېدوه سره يې په يو قسم خوش او عاطفي انداز وېل:

– ونيسه جيب دې!

په مسکا مې ور غبرګه کړه:

– خير يوسې زه يې نه اخلم، زما په ځای يې بل چاته ورکړه!

– ونيسه بيا نو اختر په څه شو؟

نور ما هم نه او نو ونه کړل، کميس کې دا دچپ بغل دجيب خوله مې ورته ونيوله، مرواه رانژدې شوه يو قسم يخه جوهري خوشبوئي ورسره مل وه، دفشکاب دا يوه ځنډه يې زما جيب کې ور ځوړنده کړله، تر څو په ځمکه تويې نشي، د احتياط له مخې د يوې ګونډې په کم قات کېدوه سره په دې يوه ځنګ زما په طرف راماته ولاړه وه، په دې وخت کې يې نو دا يو اننګی زما له خولې ديوې لوېشتې په فاصله کې سخت ښه مچو ته برابر شو، له تاسو يې

(c) ketabton.com: The Digital Library


څه پټه بس زما نه هم ورخ اوبو يوړو دشرم او عقل سربېره ټولو حواسو مې کار پرېښود ، نرمې مې شونډې پرې وکېښوې، دشونډو ور رسېدو سره سم نجلۍ چيغه وکړه، ځای په ځای دپښو په سر کېناسته سر يې په ګونډو، کېښودو څو داني ناخود ، کشمش يوه وه، که دوې چاکلېټې هم پسې ورتوې شوې، قاب يې لاښه و، ونه غورځو کني شيشه يي و ماتېدو، زه هم ووېرېدم چې مور يې يا زموږ کور کې يې چا چيغه نه وي، آورېدلې، راونه ګوري، همداسې مې پرېښوده، غټ، غټ قدمونه مې راوخيستل تر دروازه راوتلم، موټرسيکل مې تر ښکرو ونيولو غوښتل مې چې چلاند يې کړم، خو ومې نشوی کولی، داسې لړزېدم لکه پاڼه، پښو کې مې بلکل د پايډل وهلو سيك نه وه، په همدې کش او ګير کې وم تر شاه مې د وړو وړو سلګيو غږ شو، چې سترګې مې ورواړه وې مرواه وه؛ زما د ورکتلو سره سم يې شروع وکړه:

– سپيه! کوني! بې شرفه! ته صبر چې زه دې مور درباندې خبره کړم، هغه يې کوله چې تېره شي، خوا دا چې زموږ دکور لاره ما او موټرسيکل بنده کړې وه، ويې نشوی کولی، تېزه تېره شي، تر څو تېرېدله ډېرې زارۍ مې ورته وکړې:

– خير دا ځل مې وبښه بيا قران که داسې وکړم، په خدای ج که دې خوا ته در وګورم!

خو نجلۍ ونه منله، مخامخ ښکته شوه، له هغه بل څنګ نه يې زموږ دروازې ته ځان جوړ کړو، ور ننوتله، زما له زړه يو خدای ج خبر و، هاا‌ا لړزه څه وه، تا به ويل چې په روانه زنجه کې سور يم،

(c) ketabton.com: The Digital Library


اګر چې مور مې ددې شان اندك تریني بد اخلاقۍ په وړاندې تل ډېر سخت حساست ښودو، خو بیا هم وېرېدم دومره نه، لکه شرمېدم چې، ځکه تر دې دمه مې دخپلې کورنۍ سربېره په دوستانو کې هم دیو ډېر باادبه، سنګین، نیکصالح هلك موقف درلود، هېڅ داسې د بې حیایۍ، بدخلاقۍ دوسیه مې نه لرله، پوره باور یې راباندې لرلو، په درنده سترګه یې راته کتل، کشران څه، اکثره وخت به مشرانو هم لالا راته وېل، نو طبعاً چې هر څوك زما په ځای وای، وېل به یې: کاشکې دا ځمکه چاق شوې وای، غوټ پرې ننوتلی وی، دغم مچو یې کړې دا مې څه وکړل؟ په همدې فکرونو کې مې د موټرسیکل تر څنګ حیران بریان ولاړ وم، دروازې ته مې دوې سترګې نیولې، چې اوس به څوك راوځي څه به وایي، اوس به راوځي، خلاصه لس، دولس دقیقې به وتلې وې، لاڅوك راښکاره نه شول، یو وخت و، د دروازې دستګیر وکړېپېدو چې کتل مې مراوه را ووتله بل هېڅوك نه و، ورسره، بیا یې هم له ما لاړ چپه کړه، هسې په مخکنۍ لاره راتاو شوه، کله چې زما تر شاه خپلې دروازې ته تېرېدله په همدې تلو کې یې وېل:

- بې شرفه! ډېر زړور شوی یې، ته دې یو، وار کور ته ورشه، غرځ د روازه یې راپورې کړه ننوتله، زه څو دقیقې نور هم ولاړ وم لا هم زموږ دکور نه څوك راښکاره نشول، موټرسکل مې لږ د دېوال خواته کړو، زړه کې مې تصمیم ونیوو چې کلي ته به ښکته شم تر ببګاه به دا خبره څه سړه شي، ببګاه ته نو توکل په خدای ج چې هر څه پېښ شول، چون بوټو ته مې چې فام شو ډېر زاړه خیرن او بدشکله و، دعید د ورځې دپښو کېدو خو بلکل نه و، او همدسې پښو بوی هم پکې کولو، صرف د موټرسیکل لپاره به مې کله کله پښو کول،

(c) ketabton.com: The Digital Library


اوس نو نه ددي بوټو سره کلي ته تللی شوای، له ځینو هغه همزولو او هلکانو شرمېدم چې ما به تل دهر څه په برخه کې سیالي ورسره کوله، کوشش به مې کوو چې هره برخه کې تر دوئ ښه اوسم، نو په همدې اساس هېڅ مې نشوای کولای، چې په دې چټلو، زړو، بوټو کې پرې ورګډ شم، هغه هم د اختر په ورځ، بلخو په کور کې وضعه داسې خړه پړه وه، چې پرې ورننوتل زما له جریت بلا لوړ کار و، تر څو دا بوټ مې ایستلي وای، څپلۍ مې راپښنو کړې وای، دهمدې پاڼ او پړانګ تر منځ لا هم د دروازې تر مخ هك فك ولاړوم، چې د دستګیر کړپار شوه، سم دم دروازه پسې راخلاصه شوه، هغه دچا خبره زړه مې دپښنو تر تلو تېر شو، مور مې راوتلله دتل په څېر عادي یې راته وکتل، په غټه سره پلاستکي کاسه کې دلوښو منځلو لوښنی (اوبه) یې مخامخ وړاندې وشیندې، واپس یې ماته مخ راواړولو ویل یې:

- دوا دې راوړه، څنګه وه دمروا مور؟

- هو، را مې وړله، ښه وه.

- څه ښه ده، مرواه هم اختر مبارکۍ ته راغلله وه ، ویې ویل، زړه مې ښه شو.

دمور سره د همدې خبرو په جریان کې د دروازې تر خلاصه پله یې غږ راتلو خویندو مې په برنډه لوبې کولې خندل یې، مقصد د کور اوضا مو د پخوا په څېر کاملاً نرمال وه، پوه شوم چې مرواکۍ خبره نه ده کړې، ایله مې لږ د سکن ساه واخیسته، نور نو تر هر څه تېر شوم، راساً سرې خونې ته ولاړم د چفرکټ له پاسه دبسترو په سر اوږد وغځېدم، ساعت نیم ساعت به وتلی و، چې مور مې له وره سر راهیسته کړو ویل یې:

(c) ketabton.com: The Digital Library


–اوو وړکيه! ته اختر، ښه شپه نه لرې؟ مريض خو به نه يې ولې پروت يې؟

– نه مريض نه يم، هسې لږ ستړی شوم.

درځم!

ـ ښا ستړی خير ماوېل چې مريض نه وې، له دې خبرې کولو وروسته واپس وګرځېده ور يې راپورې کړه. څو ثانيې لا نه وې تېرې چې له حويلۍ يې په جګ آواز غږ راغلو وېل ئې:

– وای شکر څنګه ښه ميلمانه راغلل، سودا مې شوه راجګ شوم، کړکۍ ته مې سر ورکوږ کړه، خاله مې وه؛ دوې يې لوراني يو يې وړکی زوی ورسره و، ترڅو چې دې دوئ سترمشې سره خلاصيده زه هم د دهلېزه وره ته ور ووتلم، ستړي مشي مو وکړه اطاق ته راروان شو، څه وخت ورسره کيناستم لږ غوري مرې مو وکړې، چای مو وڅښلو؛ نور مې دوئ پرېښول زه ترې راجګ شوم؛ خو که به چېرته ناست وم، که ولاړ؛ د مرواء د مچو راباندې تېر ډار اثر راکې و، خدای ناخوسته؛ لکه په ښه غټه بدکارۍ چې ګير وم؛ يا لکه بنګ مې چې څکولي وي، فکر مې يو قسم هوايي و؛ هېڅ مې تمرکز عادي ژوند او کارونو ته نه راوښتلو؛ خو په هر حال خپلې مې پښو کړې مخ د کلي په خوا مې حرکت وکړو؛ کلي کې دماشومانو چغو فوغ و، چا چارمغز ګټل، چا نورې رنګ رنګ ساعترۍ کولې، اما زما توجه هېڅ خوشند نه پرې وهلو، ټول خيال او فکر مې په مرواء او سهارنۍ کيسه کې و، داسې وم، لکه په سفنج چې ګرځم. خو لا هم هاخوا دې خوا مې لږ، لږ قدم وهلو، يو وخت مې په لوړ غږ خپل نوم تر غوږه شو چې ور ومې کتل صديق د مسجد د دېوال تر څنګ شنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


خوله نیولې، سلطان او کریم یې هم تر څنګ ولاړ دي، ورغلم سلام مې ورواچوه؛ ستړي مشي مو وکړه، په ستړي مشي پسې پیوست صدیق ویل:

– چېرته یې د تره زویه! د اختر په ورځ هم نه ښکارې؟ راځه چې د حفظ دغو کره ولاړ شو، د اختر مبارکه ولو سربېره یو چای به پرې وڅښو، یو لاسه قیطې، میطې به هم وکړو.

– ولا برادره! ښه خبره دې وکړه، خو افسوز زموږ کره میلمانه راغلي زه یې ترکارۍ پسې رالېږلی یم.

– ځه نو بیا ترکاري دې یوسه، دلته څه (.......) ورکوې؟

ددې خبرې په کولو سره ټولو یوه خوله وخندل،

که څه هم صدیق مې کلك ملګری و، تل به یې ټوکې کولې، خو بیا مې بې ځوابه هم نه پرېښودو؛ مګر دلته مې هېڅ فکر نه راټولېدو چې د ټوکې په تول تلی ځواب مې یې ورکړی وای، صرف دومره مې ورته وویل:

– ماښام ته به دې زه خوښ شم، ته هم پوهېږې چې اوس وخت نه لري. ددې خبرې سره سم ترې راروان شوم، کور ته له را رسېدو سره نارسیده تقریباً د دېرشو مترو په انداز لاره به لا پاتې وه، چې زموږ د دروازې ته څېرمه د مرواء دغو دروازه خلاصه شوه د قسیم انا ترې راووتله، فکر کړم د مور پوښتنې ته یې او یا به د اختر مبارکۍ ته راغلې و، پسې جوخت مرواه هم پاکې پاکې غټې خوماري سترګې په دروازه کې راودرېده په اننګې ئې د پرېکړ ویښتو لام ټال وهلو، ددې سربېره د نازك سره ټیکري په څنډو زرینې پټې یې همغه

(c) ketabton.com: The Digital Library


دسهار په شان دلمر په وړاندې سپرغۍ پاشلې، په ما د سترګو لګېدو سره يې سم، ما خپلې سترګې تر مخ غځېدلې لارې ته راښکته کړې ځان مې په جيب کې په لاس وهلو مصروف کړو.

مرواء دقسيم په انا غږ وکړو:

– تروري خداى ج دې مل شه؛ خپه نشې، اې وخته دې لکه چې دروازه ډېره ټکولې وه، اطاقونه مو لرې دي، زر نه پرې خبرېږو، په خوا به مې د ورځې ښخې نه ځينځيره وله، اوس وېرېږم، بې حيا خلك پيداکېږي.

– نه؛ نه؛ لورې! ښه کړې دروازه دې ځينځيروه، پيغله نجلۍ يې هسې نه کوم سپي دې دروازې ته متيازې وروکړي.

ددې خبرې په آورېدو سره مرواء ښه په کړس وخندل، زړې انا بيا ورغبرګه کړه:

– ټوکه مې ونکړه وخت خراب دى بيا پيغلې نجينې خو لکه شيشه داسې آسانه خط کېږي.

– رښتيا وايې تروري! پښې دې وچې نشي، ځه خداى ج دې مل شه په ملاله، او بصيره مې سلامونه وايه.

– وعليکوم سلام ښاده شې!

نور د قسيم انا روانه شوه؛ په دې وخت کې زه هم تقريباً د دوئ دروازې ته په رارسېدو وم؛ سترګې مې ښکته اچولې وې، نه پوهېږم چې مرواء به ماته کتل کنه؟ لا به هم قهرجنه وه؛ که به مې دقسيم د انا دخبرې تر اثر لاندې سره شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library


رنګ ته مسکۍ وه؟ ځکه چې زما وضعیت خو هسې هم په څڅېدو و، دې قسیم د انا دې جملې چې: (دروازه دې څنځیره وه، کوم سپی متیازې ور ونکړي،) سم خمبره کړم؛ فقط لکه له سهارنۍ موضوع چې خبره وي، او دا خبره یې مستقیماً ماته کړې وي.

خو په هر حال د انا له

رخصتولو وروسته په داسې حال کې چې زه یې هم تر مخ خپلې دروازې ته دتېرېدو په حال کې وم درب دروازه یې راپورې کړه، زه هم خپل کور ته ننوتلم، خلاصه دا ورځ تېره شوه؛ سبا مې ایله څه ناڅه رنګ ځای ته ورغلو، بل سبا لا پسې ښه وم، او همدسې...

(البته دې ځای کې کیسه دمینې او حیا تر منځ یو، دوه قدمه لږ آرامه مخکې ځي، هاخوا بیا سره چراغونه پکې لګي بلا نادرې به واورئ، تاسو راځئ کیسه راسره تقیب کړئ.)

راځم واپس مخکنۍ خبرې ته مې بلاخېره دهفتې په تېرېدلو سره تقریباً خپل عادي حالت ته راوګرځېدم.

د زړه دربار، د ښنو لړزه مړزه مې ورك شول، خو كه څه هم د مرواء خوږو سترګو؛ نوراني ښکلي مخ، دهر رنځ دوا نازکو شونډو، او د چپ اننګي له پاسه ویښتو تال وهونکي لام لیدلو، او همدارنګه د هوښیارو، چالاکه خبرو اورېدلو ته اوبه اوبه وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ولې بدبختانه په زړه کې مې د هغه ورځې وېرې داسې منګوې خښې کړې وې، چې د زمري زړه به مې په زړه کې کېښود لا مې هم نه شوای کولی چې سترګو ورپورته کړم، اګر چې تر شل، پنځه ویشت ورځې مروتیا وروسته دمرواء وخت ناوخت غیرې مستقیم ځینو کړنو او خبرو داسې پیام له ځان سره لرلو چې غواړي زر تر زره مې ورسره وغږوي

دبلګې په ډول: یوه ورځ مې خاله راغلې وه، مرواء یې دخپل کور له خوا زموږ حویلۍ ته د دیوال په کنډو کې راولاړه وه؛ د خاله سره مې غږېدله، زه مې له خاله هاخوا په برنډه ناست وم؛ د برق ملید مو خراب و، په هغې مې پېچکش را اخیستي و، په همدې وخت کې مې د خاله زوی چې تقریباً شپږ، یا اووه کلن و، د حاویلۍ په دروازه راننوتلو، دومره پوزه یې راوتلې وه، چې له خولې یې هم تېره وه تر زنې یې ښکته زنګېده، د خاله خو مې لمړی ورته فام نه و، چې ښه ورلنډ شو ور فام یې شو، لمړی یې په لوړ آواز ناري کړې وی‌ی‌ی‌ی... خدای ج دې ورکړه دا ګړنګو ته دې ګوره! بیا پرې ورټېټه شوه د پوزې وریاکولو سره سم یې په شاه کې یو کلك سوق هم ورکړو، هلك په زړا شو، خاله مې چې له مرواء نه پرې وشرمېده ویل یې:

– چې قران ورته ونیسم ببرون (بهر) ته مه وځه خبره مې نه پرې لګي، اوس وګوره ځان یې په یخ داسې کړی په خپلو ګړنګو نه خبرېږي.

مرواء ویل:

– وهه یې مه خیر په وړکتوب کې ځینې ماشومان ګړنګن وي، چې غټ شی دا یې بیا تر ټولو هسکه وراچوي، زموږ کلي کې یو هلك و، اوس ځوان دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې په وړوکوالي کې دې لیدلی وای؛ خدای که دې اوس هم ټکله (ډوډۍ) زړه ته شوې وای؛ مګر نن سبا چې دده کیسې او غوره وویني بووو...

ددې خبرې سره یې زه هم مسکی کړم، اګر چې په خپل کار مصروف وم کوشش مې کولو خپله مسکاه خپ تېره کړم خو دمرواء ګۍ را فام شو خبره یې همدلته پرېښوده، لمړی شاه ته په ملا ماته شوه واپس راسمه شوه جوړه څپړې یې ددېوال له پاس ووهلې، یوه شیبه یې ښه په کړس، کړس وخندل، که څه هم ظاهراً یې زما خاله ته ډاډ ورکوو؛ خو په عین حال کې یې له ما نه دوړې وځندلې، ځکه چې په ماشتوب کې زما دپوزې وضعیت هم ډېر خراب و، حتا تر دې چې یوه ورځ دواړه د کوټه ګیو جوړولو په لوبه مصروف و، ددې په لاس مې له پوزې یو غټ ځاځکی (.....) ور وځځېدل. دځځېدو سر سم ما ترې منډه کړې، دا هم راپسې شوه لاس یې له ځان نه لرې نیولی و، منډې منډې غوښتل یې چې راګیر مې کړي لاس یې په ما را وموښي، خو ښه وه سترې شوه نور یې دمنډې وس نه وو، ودرېده، لاس یې د کاظم کاکا په دېوال ور ومښلو، بیا یې دفاروق دغو له ډېران نه یو کاغذ راپورته کړو پرې پاك یې کړو واپس ور وګرځېده ټول غوسه یې زما په کوټه ګۍ سړه کړه، په لغت یې ووهله رنګه بنګه یې کړه، ددې علاوه پېکې یې کولې:

– ته دې بله ورځ دا مرداره پوزه ما ته رانژدې کړه، پلانکیه، بستانکیه...

او همداسې دې مثال ته ورته، هغه د مچو له موضوع نه دوې درې ماشتې وروسته، چې لا هم نه سره غړېدلو، یوه ورځ مې مور ټکله پخوله مرواء د

(c) ketabton.com: The Digital Library


سپاچې په څنډه ور ناسته وه، خدایزده چې کیسه یې په څه کې وه، خو کله یې چې زه تر څنګ تېردلم مرواء وایي:

- هو خاله! ځینې نوي ځوانان همداسې دي لمړی په ځان پوه نشي حمله وکړي، خو لږ دي چې وه وېره و، ته به وایې چې ساه یې وختله لکه پاڼې داسې به لړزېږي، تر کاله یې رنګ ځای ته نه ورځي.

او همداسې یوه ورځ یې د زردالیو خستکې ماتولې، چې په ما یې سترګې ولګې دې، یو دم یې خېز کړل جګه شوه، سوټك یې هاخوا وغورځولو، دچپ لاس ټولې ګوتې یې په خوله ننیستلې، بل لاس یې په ګېډه ونیولو، څه په ملا را کوفه، څه یې ګونډې قات کړې، کږ وږه ولاړه وه، په جفته، پښو یې پورته، پورته خیزونه وهل ځای په ځای ځرخېده، په زوره، زوره سسوېدله.

خدایي چې شي سخته خندا ئې راوستله، ځکه چې دا هم دګوتې ټوکلو په وخت زما دماشومتوب له عادتونو نه و، عین شی تمسیل یې وکړو.

خو ځان مې کلك کړو دلته مې ونه خندل؛ شکوریه حیرانه ورته ولاړه وه، یو مخ یې وېل:

- ته لرې کړه، ته لرې کړه، چې لږ خوږ ده، که ډېره؟ زه ترې تېر شوم، ددهلېزه په وره ننوتلم؛ دننه مې نو په ستوني کې ایساره کړې زوروره خندا ها دکندهاریانو خبره رایله کړه، ښه مې ورته وخندل، په عین خندا کې مې ددې دخندا غږ هم تر غوږه کېدلو؛ شکریه ته به یې نو خدایزده چې بیا څه بهانه کړې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


خلاصه، تل به یې وخت ناوخت له مناسبې موقع نه په استفاده پورته مثالو ته ورته نامستقیم ګوزارونه کول، هڅه یې کوله چې ومې خندوي بلاخیره ور ومې غړوي، شاید دا به په دې نه پوهېده چې هلك مې په وړاندې روحیات له لاسه ورکړي، کني په زړه کې یې راپسې زیړې دی، یا به پوهېدله په دې کیسو به یې ماته جرات راکو تر څو ور وغړېږم، دپخوا په څېر عادي اوسو.

خو ما به چې هر څو ډاډ ځان ته ورکړو؛ د زمري زړه به مې په زړه کې کېښود، یا به مرواء بار بار چانس راکړو، مستقماً به یې دخبرو کولو موقع راته برابره کړه؛ بدبختانه زه به دتل په څېر خوبو وړی ابو وړی پاتې شوم چانس به مې له لاسه ورکړو، په داسې حال کې چې زه دبل هېچا په وړاندې بې جراته نه وم، په پاچا مې بریك نه نیولو، خو خدایزه چې دې دکافر مرواګۍ څه را وکړل ولې یې ستورې دومره راباندې لوړ و؟

اما فکر کړم زه خپل وجدان اندام په اندام زولنه کړی او شرمینده د مرواء په پښو کې غورځولی وم، له دې وجې مې پورته نشوای ورته کتلی، ځکه چې مرواء او د مرواء مور او پلار په ما دخپل کور د یو غړي په شان باور لرلو، په ټولو اتاقونو کې به یې آزاد ګرځېدمه، که دشپې به ور واوښتم که دورځې دیوې روپۍ بد یې نه رانه وړل، کله به یې چې څه ښه شی پخ کړي و، غږ به یې راته کولو یا به مې یې برخه ساتلې وه، حتا هغه واده کړې خور به یې چې کله راتلله حتماً به یې څه نا څه موسمي مېوې له ځان سره راوړلې بیا نو ددې سربېره چې ټول کورته به مو یې راولېږلې، زما برخه به یې پخپل کور کې هم راته ساتلې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا هم په هر صورت دهغه مچو دورځې ياد چې دوئ خدای ج ته هيله وکړه او ما ته يې وکړه، ولې ما يې له احتياج او مجبوريته سوء استفاده وکړه، يا مې د دوا راوړلو يعني اندکترين احسان په مقابل ترې د دومره پست، او بد باج اخيستلو هڅه وکړه؛ له ټولو ډير ذيله کړی وم.

چون بيا هم ما به هڅه کوله تر څو مرواء پوه نشي، چې په وړاندې مې يې روحيات له لاسه ورکړي.

بلکې کوشش به مې کوو ځان داسې ورته وښايم چې ګواکې سخت درنه خپه يم.

اګر چې که زما او مرواء تر منځ وضعه هر څومره اصطراري شوې وه،

خو ددك به مې يې چې چېرته وليدو پوښتنه به مې ترې وکړه، بيا به يې که کوم کار مار و؛ ورته کولو به مې، يوه ورځ مرواء زما دمور او خويندو سره د شاته کونډيانو کره واده ته ولاړه؛ زه ورغلم دمور پوښتنه مې يې وکړه، او همداسې هر کله به مې چې موقع پيدا کړه، ورتللم پوښتنه مې يې کوله.

لنډه يې دا چې دې حالت تر ډيره دوام وکړو، بل ورځ ژمی وو دشپې واوره شوې وه؛ سهار مې چې لمونځ وکړو وختلمه لمړی مې خپل بامونه تور کړل، بيا د کلا دشاه له طرفه ددوئ بامو ته ور وختلمه، د بامو په توره ولو مې شروع وکړه، يو دوه پاتې و چې څښنو، پښن مې تر غوږه شو ترڅو مې ورکتل غږ يې وکړو:

- دا درواخله!

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې ور ومې کتل مروا د حاویلۍ له طرفه د زینه په نیمایي کې راولاړه وه، سر او څه اندازه سینه یې ښکاریدل، په لاس کې فشکاب یې زما په لور رانیولی و، زر مې واپس مخ ترې راوړولو، په همدې مخ راړولو کې مې صرف دومره وویل:

– همدغلته یې کېږده!

– یخبږي زر یې وخوره!

– کېږده!

پشکاب یې کېښود، ددې چې څنګه سر دبام له څنډې پناه شو، پارو (واوره پاکون) مې وغوځوه، ورمنډه مې کړل چې کتل مې دوې دانې ښې ګرمې پراټې پکې وې لا هم لړ لړ غوړ پرې چونېدل زه نو له یوې خوا سترې او وږی وم؛ بل خوا یخ نیولی وم، په دې وخت کې به نو له پراټو ښه خواړه څه و؟ پرې ور بسم الله مې کړل دا یوه خو مې په دوه ګولو کې نوشیجان کړه، په دوهمه مې چې شروع کوله وړاندې د دالان په دربچه کې مې یوه سایه تر سترګو شوه، لکه دالان کې چې څوك وي، فکر مې وکړو شاید مرواء ګۍ وي، ما به خاري چې پراټې خوري کنه؟ ددې کیسې په لیدو که څه هم دلمړۍ پراټې په دوې ګولې کولو، یا دیو آلوږي انسان په شان خوړلو وشرمیدم، خو هغه اوبه تر ورخ تېرې وې؛ ددې دوهمې په خوړلو مې نو بیا ډېر ادبانه د یو سېر چشمه انسان غوندې پیل وکړو؛ د یوې سنځلې په اندازه به مې رانیمه کړه وروسته به مې پنځه، شپږ دقیقې ژوله. فقط لکه زوم چې په لمړي ځل دخوابښې کره تللی وي، تر څو مې یوه اندازه خوړله نور یخه کرخه شو؛ ولې بیا هم تر دې نیمایي

(c) ketabton.com: The Digital Library


مې ور وخوړه، نور مې ګوتې په پیشکاب کې تر پړاټو لاندې اخبار (کاغذ) په څنډو پاکې کړې، پیشکاب مې واپس سره دپاټې نیمې پراتې دبام په ژۍ ورکېښود ، اګر چې موړ نه شوم دا نیمه څه که دوې نورې هم وای

نوشجان کوله مې.

مقصد پس له دې آتو، نو میاشتو لمړی ځل و، چې دا دوې، دری کلمې خبرې مو مستقماً سره وکړې، تر پسرلیه مو دا لړۍ همدسې وساتله، چې ډېر ضرورت به شو په لنډو کې به مو یوه دوې خبرې سره وکړې، که څه هم دې به هڅه کوله چې دا ریکاټ مات کړي، خو په ما کې لا هم دا توانایي نه وه، دټولو خبرو ځواب به مې یې صرف دیوه (هو) یا (نه) په وېلو ورلنډ کړو.

بلاخېره پسرلی نه پوهېږم چې د ثور دمیاشتې پنځلسم، که شپاړسم وه؛ چې طارق له کابل نه زنګ ووهلو ویل:

- دکانکور نتایج اعلان شوي، زیری مې دربانديې دمزار کمپیوټر ساینس پوهنځۍ ته کامیاب یې، او زیاته یې کړه چې په پنځه ویشتم دثور درسونه شروع کېږي باید ځان ور ورسوې.

ددې خبرې په آورېدو سخت خوشحاله شوم، طارق ته مې دمننې سربېره دزیرې ورکول وعده ورکړه، نور تلیفون قطعه شو؛ رامنده مې کړل په مور او خویندو مې زیری وکړو، دوی هم بلا خوشحاله شول، حتا مور مې په ژړاه شوه، ددې عادت و، اکثره وخت به چې ډېره خوشحاله شوه، په ځای ددې چې وخاندي، اوښکې به یې راتویې شوې، څو لهذې نه وې وتلې چې کتل مې

(c) ketabton.com: The Digital Library


مرواء منډه را اخیستې وه، ګومان کړم د وړکۍ خور مې فرېښتې له خولې خبره شوې وه، لمړی مې یې مور ته په خندانه او خوشحالوکي آواز وېل:

– خاله مبارك، مبارك!

– خیر یوسې لورې، ښاده شې، تاسو ته دې هم مبارك وي اکبر خو تنها زموږ نه دی، ستاسو هم دی!

بیا یې ماته مخ راواړو:

– اکبره! مبارك ما خو دومره تکړه نه ګڼلې!

– خیر یوسې!

– بختوره انجینر به شې! فرېښتې خو وېل: انجینرۍ ته کامیاب دی؟

– تقریباً همداسې یې وګڼه.

– څه فکر کړې چې زه، به ډېره خوشحاله یم کنه؟

زړه مې و، یوه تشکوري ترې وکړم؛ خو له بده مرغه جرات یاري ونکړه، یوازې په لږ مسکا مې ځان تېر کړو.

بیا مې یې مور ته مخ ورواړو وېل یې:

– هو رښتیا له ما نه خو هېر و، مورکې مې هم مبارکي وېله ډېره خوشحاله شوه.

– خیر یوسې لورې مورکې ته دې خدای ج جوړ وجود ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ربښتيا هم د مراوۀ په دې خوږو او پستو الفاظو بار، بار مبارکي ويل تمسيل، يا يوازې زموږ خوشحاله کول هدف نه و، بلکې له هر حرکت، ناستې ولاړې يې، همدارنګه لهذه په لهذه، زموږ او تر خپله کوره مستانه، خوشحاله تلو راتلو يې اخلاص دلمر سترګې په شان مطلقو ړندو هم حس کولی شواى، يعني که ووايم چې له ما او زموږ د فاميل له نور غړو ډېره خوشحاله وه، شايد دروغ مې نه وي ويلي.

خو په هر صورت دڅو ورځو شپو په تېردلو سره هغه ورځ راورسېده، چې سبا بايد زه خپل پوهنتون او درسونو ته ورشم؛ ان له سهار نه مې شروع وکړه، جامې په بيک کې کېږده، بوټونه رنګ کړه؛ زموږ په اصتلاح خليفه (سلمان) ته ورغلم ويښته مې اصلاح کړل او همداسې نور.

مقصد ورځ په همدې منډو ترړو تېره شوه، د مابنام آذان ته څو دقيقې پاتې وې، د دروازې کړپار شوه، کړکۍ ته ورسم شوم چې کتل مې مرواء يوه سپينه نوې پلاستي خلته چې سرې غټې غټې انګلسي نوشتې پرې شوې وې لاس کې رانيولې تقريبا ديو چارق په اندازه څه پکې وه، تر څو مې له سترګو پنه کېدله دلته مې په مرواکۍ کې ښې سترګې خنبې کړې، ځکه تر شيشه دننه څوك نه ښکارېدل زه يې نه ليدلم؛ بل خوا مسافر کېدم، ماوېل: خدايزه بيا يې څه وخت ووينم؟ مرواکۍ راغله په دهلېزه کې مې دمور سره مخامخ شوه وېل يې:

(c) ketabton.com: The Digital Library


– دغه واخله اکبر ته مې راوړې، څه وچه مېوه ده، یو څو رنځوښې (بوسراغې) دي خور مې راوړې وې، زموږ یې څوك نه خوري، په مسافرۍ کې ښې دي، که چېر ته یې ټکلې ته لاس ونه رسېږي، وبه یې خوري.

– نه لورې! خیر یوسې دا بېرته یوسه کوم میلمه به درته راشي، اکبر خو څه بیابان ته نه ځي مزار لکه کابل غټ ښار دی، هلته هر شی پیداکېږي، موږ هم لږ لږ شیان ورته ایښي.

مرواکۍ نرم وخندل بیا یې وویل:

– د میلمانو برخه مې پرېښې، ټول خو مې نه دي راوړي واخله!

– په دې کار خو دې په خدای ج خپه کړمه

– نه مه خپه کېږه، خوشې خرابېدلې.

نور نو د پلاستکي خلتې کړپار شوه، مور مې ترې راواخیسته، په عین اخیستلو کې یې دعاګانې ورته کولې.

مرواء دخلتې تر تسلیمېدو وروسته ویل:

– دخدای پامان لاړم.

– پاپې شه شپه وکړه.

– خیر یوسې مابنام دی اوس به مې ددك هم راشي دشلغمو شکنه (پیاوه) یې غوښتې هغه ورته پخوم.

– موږ تور بانجان پخ کړي، یو قاب درکړم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


– نه هسې مې سهارنۍ لوبيا هم پاتې ده، خو ددك مې لوبيا نه خوري په معده يې ښه نه لګي.

– ښا، څه نو خدای ج دې مل شه.

ددې سره سم د دهلېزه د وره غنګ شو، زه بيا کړکۍ ته ور سم شوم، په حويلۍ کې لکه دګلابونو ګېډۍ، ځانګې ځانګې روانه وه، قدرتي سرې نازکې شونډې يې ورو، ورو ښورېدې، پسې مسکه شوه وې خندل، خدايزده په کوم خيال پلو کې تللې وه، دروازې ته په رسېدو سره يې کم قدم ونيولو، پيکي ته يې شور ورکړو لمړی يې په اننګي راپوروت د ويښتو لام دغوږ په چارپېريال وسپارو، بيا يې غبرګ لاسونه ورجګ کړل دسر له پاسه د شيرچيي رنګه نازك دټيکري

ژۍ يې په دوه، دوه ګوتو ونيوې څه يې مخ ته راټېر کړو، خرف دستګر يې تاو کړو ووتله، خو ښه و، زما دهيلې سره سم، تر څو يو سمستر خلاصېږي بيا راځم وينمه يې ددې وروستي ديدن بلا مزه دار انځور يې په سترګو کې راپاتې شو.

واپس مې مخ راوړولو چې ګورم مور مې زما د اطاق په نيم کښ وره کې راولاړه ده، که څه هم ښه خجالت شوم؛ خو زر مې ووېل:

– دروازه خلاصه شوه ماوېل چې څوك دي، مرواء لکه چې راغلې وه، هسې يوه نجلۍ خو مې لږ تر سترګو شوه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


- ښا ماوېل چې ښنګه کړکۍ ته ور په ګوندو یې، هو! مرواء راغلې وه، دا خلته واخله څه یې درته راوړي، چې درسره یو یې سې.

- څه دي؟

- ته وګوره!

لاس مې ورتېر کړو خلته مې ترې راواخیسته، چې کتل مې په یوه پاوکت کې یې دیوې کېلو په اندازه چارمغز؛ پسته؛ بادام، شنه کشمش پاوکت کړي و؛ بل پاوکت کې رنځوښۍ وې.

زړه مې وه؛ ددې مېوې له پاوکت نه یو څه راوخلم وئې خورو؛ چې راپورته مې کړو خوله یې داسې کلکه ور چسپولې وه، په شکولو مې یې زړه ونشو. مور ته مې سترګې ورواړولې:

- ویې شکوم اشتیا یې لري؟

- نه، نه پرېږده بیا دې بیک کې باد پرېږي.

- ولا مورې! له مورږ نه دوئ ښه دي، مورږ خو هغه دچا خبره دا شیان لا پېژنو نه؛ په اختر کې مو هم یو، یو پاو سپېره ناخود؛ سیمیان؛ پوچك کشمش رانیولي وي، د اختر په پنځمه دومره نه وي، ترې پاتې چې ملا یې دم کړي.

- هو زویه! دا شیان یې مشره خور ورته راوړي، کني ددك بېچاره خو یې چې صرف هغه ډوډۍ هم راپیدا کوي افرین پري.

(c) ketabton.com: The Digital Library


څه سر مو ګرځوم لنډه يې دا چې کالي مالي مې په بيك كې ځای په ځای کړل، شپه شوه؛ تراب استاز ته مې مازديګر زنګ کړی و، چې موټر کې يې ديوه نفر ځای راته پرېږدي، سهار وختي ان له اذانونه مخکې يې زنګ وکړو ويل يې: راوځه!

زر، زر مې واسکټ واغوستو، بيك مې اوږې ته کړو، په وېښتو مې ګوتې کش کړې، يوازې مور مې ويښه شوه، تر دروازې راپسې وه، په دروازه کې مو خدای پاماني وکړه، زه ترې راووتلم، موټر کې کېناستلم، حرکت مو وکړو، تر څو چې سترګو کار کولو له شيشې مې ليدله مور مې په نيم کښه دروازه کې راپسې ولاړه وه بلاخېره سرك ته راووتلو لا هم توره تياره، له يونيم موټر هاخوا چې په مخه به راغلو چيراغونه به يې ښکاره شول، نور هېڅ نه معلوميدل، او همداسې يوازې د موټر دماشين غږ، او شا سيټ کې دياسين کاکا خرارې چې سره هماهنګ و، نور خاموشه خاموشي وه، پس له يو ساعت مزل وروسته د آسمان لمنې راسپينې شولې، کرار کرار نور هم رڼا شوه، د دوراني بازار ته نارسيده استاذ موټر يو دتيلو پمپ ته ورتاو کړو ويل يې:

– دا لمانځونه به وکړو!

موږ هم ورسره امين کړه، ښکته شولو د پمپ په وړکی مسجد کې مو لمانځونه وکړل،

واپس مو حرکت وکړو، شاوخوا لس بجې وې کابل ته ورسېدو، خدايي چې شي سخت وږی وم، خو ډوډی مې ونه خوړله، ويرېدلم چې ناوخته نه شي بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library


به دمزار موټر نه پیداکېږي، په ګړندي قدم ښکته راغلم دهوايي پله په هغه غاړه ټېکسي وانانو ناري وهلې: بادم باغ، سرای شمالي، ...

دیوې کرولا یو نفر کم و، پکې ورکېناستم؛ حرکت یې وکړو؛ څو دقیقې وروسته سرای شمالي ته ورسېدو؛ بیك مې غاړه کې واچو د مزار اډې ته ور روان شوم، په لاره کې مې له یوې کراچۍ نه دوه پیرکي (بولاني) هم په اخبار کې راسره ونغاړل، چې اډې ته ورسېدم، یو مارسدیس مخ کې ولاړ و، ډرېور یې ناري وهلې دو نفر، دو نفر...

همدې ته ور وختلم تر څو زه کېناستم بل نفر هم راپیدا شو، موټر چلاند شو، دمخ په سیټ کې ناست ډنګر سپینږیري غږ وکړو:

دعا د خیر!

لاس مو پسې پورته کړل

ډرېور یې له برګ دسمال چلتار ووهلو حرکت یې وکړو، د کوتل تر سره ډېره لاربندي وه، د ډرېور مو د نور ډرېورانو سره څو ځل چغ پورته شو، یو بل ته یې کنځلې کولې، تر کوتل هاخوا لار خلاصه وه، طبعیت یې جوړ شو سګریت یې ولګولو، ما مې هم غلي دګونډو تر منځ د بولانیو اخبار راخلاص کړو، د ښنګ ملګری ته مې هم د سر په ښورولو سره ساعت وکړو؛ خوله یې جنګه کړه، ګونګیانو غوندې یې لاس خولې ته جګ کړو، ګواکې ما ډوډۍ خوړلې، خیر یوسې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


نور مې نو ددې سر له بولاټي نه یوه غټه ګوله رابېل کړو؛ چې خولې ته مې کړو داسې تریخ وه لکه زهر هغه دچا خبره په دوه پښو یې ودروم، له پوزو او سترګو مې اوښکې راروانې شوې، واپس مې اخبار کې راتف کولو؛ خو له څنګه ناست ملګري نه وشرمېدم؛ زر زر مې یو دوه ځله غوابښ پرې تخته کړل، غوړوت تېره مې کړه، نور مې بېرته په اخبار کې ویېچلو دخوړلو نه وه، دماشین او مخې چوکۍ تر منځ قات کې مې ورتخته کړو؛ که څه هم ډېرې لاړې مې پکې وشړپولې؛ خو خوله مې لا هم ویده وه، بېخي نه پرې پوهېدم؛ دا هم په هر حال باور وکړئ له معدې مې داسې سور تاو راختلو لکه د تناره نه؛ تر چهاریکارو مې وضیعت ښه نه وه؛ پس له هغې څه ښه شوم؛ اګر چې معده مې سوزېدله، زړه مې و؛ ډرېور ته ووایم: د یوه دوکان مخ ته دځو ثانیو لپاره راته ودرېږه یو، دوه بیسکوټ، میسکوټ را اخلم، خو ښه و تر څو مې ورته وېل بیک ته مې فام شو، دمرواء رنځوښۍ رایادې شوې، زر پرې ورټیټ شوم، بیک مې خلاص کړو؛ په خلته کې مې لاس ورواچولو دپاوکټ خوله یې ډېره کلکه ورچسپولې وه ، مجبور شوم پاوکپ مې له څنګ نه وشکولو، یو ښه موښت مې ترې راوخیستې له یوې خوا زه ډېر وږی وم، بلخوا فکر کړم په شیدو کې یې پخکړې وې بل قسم خوشخوره؛ پستې رنځوښۍ وې؛ په جبل سراج کې مې بیا لاس ور وغځوو یوه ښه موټی نورې مې راواخیستې، دسالنګ ښاسته منځیره، او د مرواء خوندورې رنځوښۍ هغه د مشرقیانو خبره بل رقم چك یې لګولو، ان تر پلخمریه مې خوړلې، لنډه دا چې دشپې اوه نیمې بجې وې مزار ته ورسېدلو، شپه مې همدا د اډې په هوټلو کې وکړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library


سهار سرك ته ووتلم پوهنتون ته و رامعلوم يوه ټيكسي مې راودروله، ډرېور شيشه ټيټه كړه وېل يې:

- كجا؟

- تا پوهنتون چند ميري؟

- صد افغانی!

- نه چې ميگی شست بتم؟

- بيا هشتاد بتی!

درواز مې راخلاصه كړه ورسره وختلم؛ حركت يې وكړو لس، دولس دقيقې وروسته يې موټر ودرولو وېل يې:

- اينه پوهنتون!

بيك مې راوخيستلو رابښكته شوم؛ اتياه روپۍ مې تر شيشه ورته ونيولې ټيكسي مې روخصت كړه، لړ لړ مې په ويښتو ګوتې ووهلې، د اوږې دسمال مې راوخيستلو له جامو مامو مې دسفر دوړې څنډوهلې؛ پرې ور روان شوم، د پوهنتون مخ كې لس ګونه محصلين هاخوا دې خوا ټولی ټولی ولاړ و، څوك ناست وه.

دروازې ته نژدې يو ځوان د ګلدان په څنډه ځان تكيه كړی و، دوه نور يې مخې ته ورولاړ وه، افغاني جامې يې په تن وې، ښايسته ويښتان غټې، غټې ستركې، نوراني څېرې يې لرلې، ميده ميده يې سره خندل، شك مې پرې

(c) ketabton.com: The Digital Library


راغلو شايد پښتانه وي، لږ پښنه نيولی شو، چې د دوئ هم رافام شو، ور روان شوم سلام مې وراچولو، د وعليك سره سم لمړی مخکني هلك لاس راته ونيولو بيا مو دې نورو سره سترې مشي وکړه، شك مې په يقين بدل شو هلکان پښتانه و، ورته خوشحاله شوم؛

ګلدان ته تکيه هلك ووېل:

- پوهنتون ته راکامياب شوی يې؟

- هو!

- ښا، ډېر ښه الله ج دې راول!

- مننه ژوندی اوسې!

- دکوم ځای نه راغلې؟

- له وردګو نه!

مخامخ هلك ته مسکی شو وېل يې:

- امممم آصفه بچېشه کار دې جوړ شو نور ولاکه موږ بېخي ووينې!

بيا يې ماته مخ رواړو د سترګو په واسطه يې دچپ لاس ملګري ته اشاره وکړ وېل يې:

- آصف هم د وردګو دی؛ زه دننګرهار يم نوم مې فريد احمد دی؛ ضياء لوګری دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


- ښا؛ خوشحاله شوم ولا.

- مننه، کومې پوهنځۍ ته راکامیاب شوی یې؟

- کمپیوټر ساینس ته!

- ښه ځانګه ده خدای ج دې ورته تکړه کړه!

- ژوند ستاسو سره!

- ته به ستړی یې ځئ لیلیه ته ولاړ شو، دمه به جوړه کړې بیا به راشو ثبت نام به وکړې!

ضیاء غږ وکړو:

- هسې لا ستړی کېږې، چې اوس یې تر لیلیه بیایې، یو ساعت وروسته یې راولې، معاون صیب شته ځی ثبت نام به وکړو مخ به مو یوه شي!

- هو ولابد دې ونه وېل راځئ!

فرید احمد مو تر مخ شو معاونیت ته ورننوتلو یوازې معاون صیب ناست و، سلام یې ور واچو ستړې مشي مو وکړه. معاون صیب وویل:

- فرید خیرت است؟

- آ معاون صیب! خیرت است، این جوان قومي ام است نو به پوهنځي کمپیوتر ساینس آمده.

معاون صیب ماته مخ را واړولو وېل یې:

(c) ketabton.com: The Digital Library


- ای ډي نمبر پیشت است؟

- بلې!

- مرا ، همرای تذکره تان بتې!

ای ډي نمبر او تذکره مې ورکړل، په راغلو لیستو کې مې یې نوم پیداکړو، حاضرۍ ته یې ورسولو، فریداحمد ته یې مخ ور واړولو وېل یې:

- دیګه چه خدمت باشه؟

- قربانت شوم معاون صیب، به اجازه شما ، باش که امی حساب لیلیه را خلاص کنم.

- برو پنایتان به خدا!

له معاونیت نه راووتلو، د لیلیه د مدیر شبه ته ورغلو له اولیه سلام کلام وروسته فرید احمد زما په اړه خبرې ورسره شروع کړې، مدیر صیب وېل:

په لمړي منزل دوهم اطاق کې پنځم چپرکت خالي دی.

فرید احمد په خندا کې ورغبرګه کړه:

- د دریم منزل نوي چپرکټ او بسترې چاته ساتې؟

- تر څو لاندې منزل ډك نشي برسېره څوك نشو لېږلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


- لاندې به هم ډك شي مدير صيب! دا زما ملګرى ډېر ښه سړى دى، په خندا يې پسې زياته كړه: ته به ګورې چې اوړى څنګه د وردګو منځ درته راوړي. په دې خبره يې مدير هم مسكى كړو؛ بلاخير خبره يې پرې ومنه.

يو كوچنى خط يې راكړو د ليليه د تحويل دار لپاره. نور مو خداى پاماني ترې راوخيستله را روان شو، تقريبا شل پنځه ويشت دقيقې لاره وه، ليليه ته له را رسېدو سره سم، په مخه كې دې تحويل دار شبه ته ورننوتلو دمدير خط مو ورښكاره كړو، تحويل دار دخط متابق ښه نوې بستره راكړه او په دريم منزل كې لمړى څپركټ يې راپسې ورسولو، ولاړو بستره مو په چپركټ كې هواره كړله؛ آصف ماته مخ راواړولو ويل يې:

- تنها دزړه تنګېږې، تر څو دې نور اطاقيان راځي ته به له موږ سره اوسې يو ملګرى مو له ډېره وخته نشته چپركت يې خالي دى.

- ژوندى اوس نه انشاءالله نه تنګېږم.

- ته هم ژوندى اوسې، راځه خو كه بيا دې موږ سره زړه تنګ شو، واپس به راشې.

ورسره روان شوم اته شپې مې د آصف دغو سره وكړې كور يې ودان څومره چې له قوارونه ښكلي و، همغومره يې زړونه هم ښكلي و، په ټول توان يې زما دخوشحاله ساتلو هڅه كوله. پس له اتو شپو مې خپل اطاق ته راغلم څه اطاقيان مو راغلي و، نور مې نو په نورمال ډول دخپلو درسونو وېلو ته ادامه وركړه؛ ان تر دې چې اوړى شو د ټول پوهنتون امتحانونه شروع شول، يوازې زموږ دلمړيو ټولګيو يې وځنډول استاذانو وېل: ستاسو پروګرامونه پس پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library


دي، پسرلی دکانکو دنتا یجو ځنډېدو له کبله درسونه مو په خپل وخت شروع نکړل، خلاصه تر څو زمونږ امتحانونه شروع کېدل دنور پوهنتون محصلين ټول د اوړي په روخصتۍ کورونو ته ولاړل، تر څو زمونږ امتحانونه خلاصېدل دوئ واپس راغلل، مقصد زمونږ رخصتي پکې مدغم شوه، ومې نشوای کولی چې کورته ولاړ شم، که څه هم نوې مسافري وه کورته مې زړه ختلی و، روخصتۍ ته به مې شپې ورځې شمارلې خو له بدمرغه نصيب مې نه و، په دوام دار ډول مې دوهم سمستر ته ډډې ورکړه؛ لمړۍ شپې ورځې وې اطاق کې مې د نوکرۍ نوبت و، د دهلېزه په دست شویۍ کې مې ګیلاسونه مینځ چې یوه ملګري مې غږ راوکړو:

- راشه زنګ درته راغلو!

ګیلاسونه مې ځای په ځای پرېښول چې ورغلم، زنګ مې مور وهلی وه، مبایل مې راسره راوخیستلو واپس دهلېزه ته راووتلم، اوکې مې کړو!

- سلام علیکوم مورې ښه یې؟

- شکر دی زویه! ښه یو، په دې حال شکر دی، ستا ملګري ښه دي، سبق دې زده کېږي؟

- هو شکر ښه دي، د درسونو سره هم ښه یم؛ دغلته مدینه، فرېښته ښې دي؟

- ښه دي شکر مونږ ښه یو؛ خو پرون نه، هغه بله ورځ د مرواء مور مړه شوه؛ د پاکستان خور یې هم راغلې وه، دواړو داسې چیغې پسې وکړې اګر چې تر اوسه پورې ژړي، خو ښې دي هغه ډېرې چیغې نه وهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


– نځه، نځه خدای ج دې وبښي!

– آمین ښه ښځه وه، خدای ج به ببښلې وي.

– ددك يې څنګه دی؟

– دهغه بېچاره هم مزه نشته لوېدلی و، ګونډه يې ختلې، دا ډېر وخت ځای په ځای دی، سږ کال يې دچا ځمکه هم ونشوای کرلی، دمور له مرګ نه يې مخکې ډاکتر سمیع یوه بوجۍ اوړه یو ټیم غوړ لږ چای او صابون ورته اخیستې و، یوه بوجۍ وريجې دقاضي فضل الحق زوی ورته راوړل، خور او آښي يې هم ډېر لاس ورسره وکړو؛ د مور په مرګ کې يې پنځه زره افغانۍ حاجي فتاح ورکړې څلور زره مسليم ورکړې نور هم خلکو کمك ورسره وکړو، ښه و هغه دمړي دسقواط او د کفن کار يې پرې وشو.

خدای ج دې رویا نه کوي میلمانه يې د غرمې او بیګاه ډوډۍ ته موږ راوستل دسهار چای مو هلته ورولېږو؛ روزي خان او داود هم څو تنه میلمانه ورسره بوتلل، خو ډېر زور يې موږ واخیستلو؛ کني دومره میلمانه يې هم نه وه، ټول نر او ښځې پنځلس نفره نه و،

– ښا، ښه مو کړي، په دې بېچاره ګانو خو مې ولا سخت زړه بد شو.

– هو، په حال يې دمرغانو ژړا وه!

– مرواء خو یو ناسکه کاکا هم لري، دمړي مصارف ولې هغه ونکړل؟

– نه زويه! دهغو هندو له کیسې خبر نشوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


- نه څنګه؟

- دوې میاشتې مخکې راغلی وه، د مرواء دې ددك نه يې مرواء وغوښته زوی ته يې، ددك يې ورته وويل:

- ستا زوی خو ګونګی دی عصاب يې هم خراب دي، دا به ظلم نه وي؟

ده بې ښه او بده ورغبرګه کړه:

- نو ته وايې زما له زوی نه به ښه سړی ورته پیداکړې؟ ټول ولس ستا په لور کې غړېږي، خدای دې وښني ستا دپلار نوم يې واخیستلو وېلې: ئې ستاسو ددې ګونډې سالم دزوی سره يې بوی ولګېدو، له دې هاخوا مو نوم مه پرې سپکه وه، صرف ددې لپاره راغلی یم چې دا خپله مرداري په خپله پټه کړو کني ښځې کمې نه دي.

نور هم ډېر وګړزېدو اخېر دمرواء ددك هم ورته په قهر شو، ښه څه يې ور وکړل، سپي غونډې يې تر دروازه ويستلو.

په همدې خاطر مړې ته دخلکو له شرمه راغلی و؛ خو لکه پردی سړی لرې به ولاړو.

- بووو دا څه خر سړی دی، زوی يې زه پېژنم يو ګړنګن لېونی دی، پرتوګ په خټ اغوندي.

- ما لیدلی چې وړکی و؛ د مور سره به يې کله کله راتللو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


- ښا؛ مورې لمونځ قضا نشي، په خدای ج دې سپارم، دوئ ته دې خدای ج صبر ورکړي، مور يې دې خدای ج وبښي، ولاډېر زړه مې پرې بد شو.

- آمين! ځه خدای ج دې مل شه!

- ستاسره!

تليفون قطعه شو واپس فکر خرابی په ګيلاسو مينځلو لګياه شوم له مينځلو وروسته مې اطاق ته ننه ايستل، صفي الله له چپرکټ نه پښې را زنګولې مسکی؛ مسکی کېدلو وېل يې:

- ښه يې چې ښځه نه يې کني ميړه بيچاره دې په شنه آسمان غرق و!

ددې خبرې په اورېدو ټول هلکان په خندا شول، ما هم په ورين تندي ورغبرګه کړه:

- هو ولا وبښئ ځنډ مې وکړو؛ يو زنګ راغلو دهغو سره مصروف شوم.

لنډه دا چې په همدې شان شپې ورځې وې تېرېدې بلاخېره دا سمستر مو هم ختم کړو، امتحانونه شروع شول، شل پنځه ويشت، ورځې يې ونيولې، عمومي نتايج نه و اعلان شوي، خو موږ به تر هر امتحان وروسته له مربوطه استاز نه دخپلو نمرو معلومات کولو، په همدې باب تر اخير امتحان وروسته ډېر خوشحاله وم، له يوې خوا مې تقريباً اتيه سلنه فيصدي پوره کړې وه، بل خوا د ژمي په روخصتۍ سبا کور ته روان وم، ليليه ته ولاړم، جامې مامې مې راټولې کړې ټوله شپه مې زړه باغ، باغ کېدو سهار وختي اډې ته راغلم،

(c) ketabton.com: The Digital Library


دکابل په سه سدوسه کې راوختلم، قریب دولس بجې وې دخیرخانې کوتل بېخ کې یې بریك ووهلو، کلنډر غږ وکړ:

- بیایی پاین شو، بخیر رسیدي

راښکته شومه، وارندې سرای شمالي خوا راغلم د کوتسنګي په موټرو کې وختلمه، ګوتسنګي ته له رارسېدلو سره سم د ګمپنۍ یوه مارسدیس موټر ته وختلم حرکت یې وکړو؛ چوك ته لا نه و رسېدلي زموږ دکلي اډې ته مخامخ مې غږ پرې وکړو.

- پاین میشم!

بریك یې ونیولو راښکته شوم؛ په دې مخه کې مې لږ مالتهې ترکارۍ مرکارۍ راسره واخیستلې اډې ته ننوتلم چې کتل مې صادق استاز یې دموټر له څنګه ولاړ دی هاخوا دې خوا په سوارۍ پسې سترګې اړوي، ورغلم سترې مشې مې ورسره وکړه؛ وېل یې:

- لکه چې کور ته دې ځې پخیر؟

- هو:

- کینه حاجي فقیر او ښځه یې ډاکتر ته تللي زنګ یې وهلی و، اوس راځي، ځو به پخیر!

ور وختلم په موټر کې له ناستو کلیوالو سره مې سترې مشې وکړه، تر څو مو لږ لږ پوښتنه سره کوله، حاجي فقیر او ښځه یې هم راورسېدل، صادق استاز جلب ته کېناستلو، د دعا دخیر په ویلو سره یې حرکت وکړو، ماښام آذان ته

(c) ketabton.com: The Digital Library


لا څو شیبې پاتې وې دخپل کور مخ کې یې ښکته کړم، تر دروازه ورننوتلو سره سم خوشحالۍ شوې، مور مې په کړکۍ کې خوشحاله خوله رانیولې و، په عین حال کې یې موټۍ په سترګو رغړولو اوښکې یې وچولې؛ خویندو مې دروازې ته رامنډه کړل، سترې مشي یې وکړه، بیك او د سودا خلته یې رانه وخیستله، بلاخره کوټې ته ورسېدم د مور سره مې هم سترې مشي پوښتنه موښتنه وکړه، له لمانځونو کولو وروسته مدینې چای راوړو، لمړۍ مو د مور او خویندو دپوښتنو اړوند د مسافرۍ، پوهنتون؛ مزار شریف؛ درسونو کیسې وکړې، د چای په اخېر کې مې مور ته سترګې ور واړولې:

- د مرواء دغو څه حال دی، ددك یې څنګه دی؟

- ښه دي بېچارګان د ددك یې خونده نه و؛ پنځه شپږ شپې کېږي د کوټې خور یې ورسره بیولی دواه پرې کوي، مرواء هم ورسره تللې دروازه یې قلف ده.

خدایی چې شي ددې خبرې په آورېدو مې طبعیت بل شان ګنډه شو؛ مرواء مې سخته یادېده همغه د پسرلي اخېرې ورځې انځور به مې یې تل په سترګو او ذهن کې را اړولو وخت به مې پرې تېروه؛ بل خوا مې سودا وه، چې پرې تېرو طوفانونو نه به څنګه وتلې وي لږ به یې خرابه کړې وي، که ډېره؟ خو ظاهراً مې خپل سور او تال نرمال وساتل تر څو دوئ مې په خفګان پوه نشي.

مور مې بیا د مرواء د مور دمرګ کیسه راوچوله، په تلیفون کې خو یې هسې سر سرکې څو خبرې راته کړې وې، دلته یې چې کیسه وکړه، د نه منلو احتیاجونه؛ خفګانونه، سختۍ په خوارانو تېرې وې، ماته په اسانه ژړاه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library


راځي، مګر دې کيسې راخوړين کړم؛ هغه وخت مې رایاد شو مرواء چې وړه وه، که څه هم دې به چې هر څه خوړل ما به ورته ويل:

- څه شی خورې؟ خير لږ راکړه.

تنها زما نه دا دټولو هلکانو او نجينو عادت و يو له بله به مو دخوراکي شيانو سوال کولو، که به يې راکړل خوشحاله به و، غنمت مو ګڼل، که به يې رانکړل هيڅ خبره نه وه.

اما ما يا نورو ماشومانو به چې هر شی خوړل دې يوه ورځ ونه ويل چې څه شی خورې؟ خير لږ راکړه، يعني له همغه وخته يو ډېر ښه صبر او غرور، خدای ج ورکړی و، هيڅ يې نشوای زغملی چې چا ته دې کمه شي، چا ته دې احتياج شي، او همداسې يوه ورځ زما او مرواء په شمول څلور پنځه ماشومان و، دساعت تري په محال مو منډې وهلې د مرواه د پروګ کشك وشکېدو؛ زر يې لاس ورواچوه پرتوګ يې يوه ذره ښوېدو ته پرې نه ښود، خو صرف ددې کشك له شکېدو سره لمړی له شرمه داسې تکه سره شوه، لکه سره منه، بيا پرېنګ په ژړا شو، پرتوګ يې کش پورته ورنيولی و، په سلګيو سلګيو يې کور ته روانه شوه.

په داسې حال کې چې زما په شمول د نورو هلکانو او نجينو به هر ورځ شکېدل حتا ترخو به درېدو څلور پنځه قدمه منډه به مو په لوڅ ځان کړې وه، وروسته به مو پرتوګ له پښو نه راپورته کړو، بيا هم کيسه کې يې نه و.

نو دې ټولو ته په کتو زړه کې مې ويل: هغه شرمګيرې، هغه د احتياج او څه غوښتلو په وړاندې اساسې، صبرناکې، ننګيالۍ مرواء به دمور دغم سربېره،

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا احتیاجونه؛ دکفن پیسو نه لرلو، دمیلمانو لپاره د ډوډۍ نشتون، دردونه څنګ زغملي وي؟

خو په هر حال راځم خپلې خبرې ته، نه یوازې دا چې زما په سترګو کې یې اوښکې را ډنډ کړې، مور مې هم پس له نیمايي پاتې کیسه په ژړا ژړا پای ته ورسوله.

نور مو دمجلس پیښکې را ونغاړلې، موټرو خسته کړی وم؛ ویده شوم، شپه تېره شوه، سهار وختي مې حمام وکړو، جامې مې بدلې کړې دا ورځ مې میلمه غوندې تېره کړه؛ سر له سبا مې په خپلو کورنیو کارونو لاس پورې کړو، د پخوا په څېر عادي ژوند مې پیل کړو؛ د هر ګام په اخیستلو دهغه ځای اړوند د مرواء خاطرې او یادګارونه ذهن ته راتلل، ځینې به جالبې وې لکه لیونی ځان سره به مسک شوم وبه مې خندل؛ ځینې به خواشنونکې وې، تر ټوله بده صحنه به بیا هغه وه چې په دروازه پراته ستر قلپ به مې یې سترګې ولګېدې، خو په هر صورت شپې ورځې وې تېرېدې که څه هم هره ورځ به مې یې لارې څارلې، کلي ته به چې موټر راغلو ورځك به شوم؛ خو له بدمرغه پسرلی شو؛ زما واپس پوهنتون ته دتلو وخت شو، مرواء دغو رامعلوم نه شول، ما مې دتېر په څېر جامې مامې بیك کې واچولې روان شوم، لکه څنګه چې تېر ځل په خوشحالۍ او پوره انرژۍ سره روان وم، چون دا ځل برعکس ډېر په مات زړه روان وم؛ بار بار به مې ځان ته ډاډ ورکړو: چې سړیه! نه دې کور څه مشکیل و، نه دې پوهنتون او درسو کې کومه ستونزه شته، بیا نو دا خفګان په څه معنا؟ ګوشکې به مې غوږو ته کړلې مبایل کې به مې یوه ښه مسته سندره کلیك کړه، اما دځو شیبو په تېرېدو به دا هم راباندې بوج شوه؛ دتبلې دربار

(c) ketabton.com: The Digital Library


به مې په سر کې داسې غږ خپل کړو لکه جنګي راکېټونو، واپس به مې لرې کړي.

خلاصه په همدې ډك زړه پوهنتون ته ورسېدم، د پخوا په شان مې خپلو درسونو ته دوام ورکړو، نه پوهېږم چې پنځلسمه؛ که شپاړسمه ورځ وه؛ کور ته مې زنګ وکړو، موبايل مديني جګ کړو، پوښتنه موښتنه مو سره وکړه، دخبرو اترو اخېر کې يې ويل:

پرون مرواء او ددك يې هم راغلل!

– ښا، ددك يې څنګ دی پښې يې نه دي ښې شوې؟

– تر هغه وخت نه لږ ښه دی اوس په لکړه تر برنډې راوتلی شي.

– څه ښه دی، خدای ج دې نور هم ښه کړي.

– آمين

– که کوم خدمت نه وي، سلامونه کوه، نور دې په خدای ج سپارم صرف احوال مې اخيستلو.

– ژوندی اوسې وعليکوم سلام؛ خدای ج دې مل شه!

تليفون قطعه شو خو دقعطه کېدو سره سم آرمان راغلو چې ناکي مې دمرواء پوښتنه هم ترې ونکړه؛ بيا مې وېل: څه ښه و چې ترې ومې نکړه ډېر بې حيا به يې تر فامه ورغلی وم، چې ان له دې ځايه مې دپيغلې نجلۍ پوښتنه ترې کوله؛ تش په پوښتنه هم څه نه کېږي دری مياشتې وروسته رخصتيو کې به

(c) ketabton.com: The Digital Library


يې پخير په خپلو سترګو ووينم، په همدې انتظار مې شپې ورځې تېرولې، بلاخېره امتحانونه راورسېدل حتا نور لاتېر وو، يوازې درې امتحانونه پاتې وو؛ ماسپښين و موبايل ته مې زنګ راغلو له جيب نه مې راويستلو مور مې وه، د اوکې سره سم مې سلام ور واچو، پوښتنه موښتنه مو وکړه لږ هاخوا دې خوا وغږېدو اخېر کې يې وېل:

- د مرواء خور او آوښې راغلي د راتلونکې جمعې په ورځ مرواء او ددك يې ورسره بيايي وايي: دا دوا يې د دريو مياشتو وه، ډاکتر بيا ورغوښتی.

افففف دا خبره نه وه، د تبر ګوزار و، ويې کړو، ځکه چې راتلونکې جمعې ته زموږ هم امتحانونه خلاصېدل کور ته راتلم، خو په هر حال د مور دباقي خبرو ځوابونه مې په لنډو لنډو الفاظو ورکړل بلاخېره دخدای پامانۍ په کولو سره مو موبايل قطعه کړو.

نه پوهېدم چې اوس څنګه وکړم يو ځل مې تصميم ونيولو چې تر وروستي امتحان تېر شم، چې فکر مې وکړو وروستی امتحان مو د استاذ رسول و، دا داسې يو عجيب جدي انسان و، که له نن ورځې خطا شوای وای پس له وخته يې بيا هېڅ عذر معذر نه منلو، له همدې کبله مې دوهم تصميم دا شو چې دپنج شنبې په ورځ د وروستي امتحان له ورکولو وروسته د کابل اډې ته راغلم دهغه موټرو ټيکټ مې وکړو چې د شپې په دوه بجو به راوتل، تر څو مخکې له دې چې زموږ دکلي موټر کابل ته راورسېږي زه هم بايد ور ورسېږم خدای ج مهربان دی که اډه کې يې يو ځل ووينم، ځکه چې دوئ هم لمړی کابل ته راتلل له کابل نه بيا د کندهار په سی سدوسه موټرو کې تلل، په همدې نيت

(c) ketabton.com: The Digital Library


مې ورته واړول شپه مې اډه کې وکړه دشپې په یوه نیمه بجه مې ساعت زنګ وکړو پسې ورجګ شوم موټر کې په خپله چوکۍ کېناستم د وعدې سره سم په دوه بجو یې حرکت راوکړو، لنډه دا چې تقریباً په اوه نیمو بجو یې سرای شمالي کې ښکته کړلو، سم دم ټیکسي کې راوختلم کمپنۍ کې خپلې محلي اډې ته راغلم، هاخوا دېخوا مې پسې وکتل له وحید استاذ پرته نور کلیوال ډرېور مې تر سترګو نشول، موبایل مې راویستلو مور ته مې زنګ وکړو له کورنۍ پوښتنې وروسته مې ووېل:

- د مرواء ددك یې ښکه کړلو خور یې ورسره بوتلو کنه؟

- هو زویه! سهار د رفعي تونس ورته راغلو ټول پکې سواره شول اوس به کابل ته رسېدلي وي.

د رفعي شماره تیاره راسره وه، د مور سره تر تماس قطعه کېدو وروسته مې رفعي ته زنګ ووهلو: رفعي مې همزولی و، یوه نیمه ټوکه مو هم سره لرله، له همدې وجې د اوکې سره سم یې دسلام په ځای یوه لوچك خبره وکړه چې یادول یې مناسب نه دي خو په هر راز سره ومو خندل بیا مې ووېل:

- وړکیه! چېرته یې؟ که کابل ته راروان یې چې درته منتظر شم له دې خوا مې درسره یوسه اډه کې یم.

- تر چوك ارغندۍ درتېر شوم، فقط لس دولس دقیقې صبر وکړه در رسېږم.

رښتیا هم لس پنځلس دقیقې پس راوسېدو موټر یې په اډه کې وړاندې ګوښې ته تېر کړو سوارې یې ښکته کړه، یوازې مرواء، ددك، او مشره خور یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library


شاه سېټ کې ناست و، اوښی يې هم راښکته شو په ټيکسي راوستلو پسې ولاړو ترڅو دسه سدوسه غټو موټرو تر اډې پکې ولاړ شي، نور زه هم لنډ ورغلم لمړی مې د رفعي سره ستړي مشي وکړه تر يوه لهذه ورسره تم کېدو وروسته را تاو شوم د تونس د ډډې دروازه مې راکش کړه، موټر ته د سر ور دننه کولو سره جوخت مې سلام واچولو دسلام ځواب راکولو سره هم محال د مرواء مشرې خور چې ما به هم د مرواء په خوله خورکه ورته ويل دا هم تقريبا ځوانه نجلۍ وه، ډېره ښه ځواني يې درلوده، په عين حال کې خورا شريفه ښځه هم وه، دې لاس راته ونيولو ستړي مشي مو وکړه، بيا لږ ور وځغېدم د ددك لاس مې راونيولو ددې سره تر ستړي مشي وروسته، مرواء چې له دوی تړلو وړاندې ناسته و، وخوځېد زړه يې وو، چې لاسونه سره ورکړو، خو له بده مرغه لاسونه، نه سره رسېدل ممکن تر منځ مو د ددك پښه خوږ کړې وای، مجبور شوم له همدې ځای نه مې ورته وويل:

- مرواء ته هم ستړي مشې!

- خير يوسې!

بيا مې د ددك نه پوښتنه وکړه:

- ددکه! څنګه يې؟

- په جړ وړ غږ يې وويل:

- شکر دی ښه يم!

(c) ketabton.com: The Digital Library


- الله ج دې کامل صحت درکړي، په دې خبره پسې پیوست مې د مرواء مشرې خور ته سترګې را واړولې زیاته مې کړه:

- ددك لکه چې بیا پاکستان ته درسره بیايې؟

- هو، ډاکتر ویل: تر دوا خلاصېدو وروسته یې راولئ، اوس یې دوا خلاصه شوې د پښې درد یې هم زیات شوی.

- نخه، نخه الله ج د عاجله شېفاء ورکړي.

- خیر یوسې اکبرجانه! امین، ته ښه یې له خاله خو مې دې پوښتنه کوله؟

- الحمدالله شکر دی په دې ساعت.

همدې خبره پسې مې مرواء ته سترګې ور واړولې:

- مرواء! ددك خو شکر ښه دی، انشاءالله نور به هم ښه شي، ډېره اندیښنه مه کوه.

مخکې له دې چې ماته ځواب راکړي لمړی یې د عربو ښځو غوندې له سره تور پیچلی ټیکری چې یوازې سترګې یې ترې ښکارې دې لرې کړو، ترې لاندې یوازې یو سپین نازك ټیکری یې په سره پاتې شو، لاړې یې تېرې کړې، ستره ساه یې واخیستله، غټې غټې پاکې اوږدو باڼو لرونکې سترګې یې آرامې راپورته کړې ویل یې:

- هو شکر ښه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


نور يې په خوله څه ونه ویل، خو د همدې دوه ثانیو سترګو را اړولو په لړ کې یې راډکو سترګو پرې تېرو ټولو سختیو، احتیاجونو، دردونو، غمونو کیسه وکړه. او د زرې زرې ماته زه انځور یې راته وښودو.

نه یوازې دا بلکې زما په زړه یې هم توره خپړې خوره کړه، خو افسوز نور مې هېڅ په وس نه و، صرف دومره مې ورته وویل:

- څه خدای ج مهربان دی، هر څه به سم شي. واپس مې یې مشرې خور ته سترګې راواړولې ومې ویل:

- خورکې! څه شی درته راواخلم چې په لارو یې وخورئ؟

- خیر یوسې هر څه راسره شته.

تر څو مې دوهم ځلي ټینګار کولو تر شاه مې ټکسي ودرېده، د مرواء اوښکې ترې راښکته شو، ورسره کمك شوم ددك مې په ټکسي کې ورسره کېنولو د خدای پامانۍ په مهال مې د مرواء خور ته بیا وویل:

- خورکې! زما د مور نمبر به درسره وي؟ د ددك د صحت په اړه یو نیم حوال ورکوه، ددې طرف نه زنګ ډېر په مشکېل روخ کېږي.

- ښا، په سترګو دوئ هم انشاءالله زر رالېږم نور ټیکسي حرکت وکړو، رانه دتېرېدو په محال د شاه دسیټ له شیشې مرواء ډکې ډکې سترګې راواړولې ترڅو نور څوك پوه نشي صرف دوې ګوتې یې په شیشه راکېښوې ګواکې بای بای.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ما هم د رفعي له خاطره دتندي ګړولو په بهانه لاس ورته جګ کړو، څو ټيکسي نه وه پناه ګوټې يې په شيشه ښکارېدې، دټيکسي تر پنا کېدو وروسته رفعي دشاه له خوانه په اوږه لاس راکيښود مسکی، مسکی کېدو وېل يې:

- بيچش! ګونډياني دې لکه چې ډېرې درباندې ګرانې دي؟ خورکه، غږ دې راتلو، نور پسې شين شو ښه په کړس يې وخندل.

خدايي چې شي ما ته يې هم خندا راوستله خو برعکس په تونده لهجه مې ورغبرګه کړه:

- ځغله خوار شې بېکاره سړی هر چا ته دځان فکر کوې. نور هاخوا ترې روان شوم.

خو په هر حال راځم خپلې مخکنۍ خبرې ته که څه هم دمرواء دغو دې وروستۍ صحنې د ژړا تر حده راورسولم، ولې بيا هم خوشحاله په دې وم چې د مزار د اډې په ګرغړن هوټل کې شپې کولو او تلواري راتللو مې ځای ونيولو مرواء مې وليدله، که څه هم ډنګره شوې وه، هغه تته مسکا، د ادب په دايره کې شوخي يې ترې لوټ کړې وه، دمخ سرو او سپينو يې کم زېړوالی هم خپل کړی و، اما په ټول کې نوې دری رنګه ښکلاء يې دغليتوب سره په همغږۍ لا مزه کوله؛ خو ترڅو سترې مو نکړم راځم دې ځای ته چې د رفعي دموټر له را ډکېدو وروسته دکور په لور راروان شوو قضاء ماسښين و رفعي مو د دروازې سره بريك ووهلو، راښکته شولم په موټر کې سوارۍ ته مې ساعت وکړو، مننه يې وکړه، موټر روان شو، زه په خپله دروازه ورننوتلم مور او خويندو مې د نورو ځلونو په څېر خوشحالۍ راته وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په اجازه مو دلته به هم کیسه رالنډه کړم په کور کې د راباندې تېرو شپو ورځو په جریان کې دهسکو ټیټو په یادونه به کانې کېږدم، البته یو څه باید ووایم هغه دا چې د مرواء د خور خبرې ته په کتو چې وېل یې: زر یې رالېږم، دری څلور ورځې وروسته به مې یې راتلو ته سترګې وې، خو له بده مرغه رامعلوم نشول رخصتي خلاصه شوه، بیا پوهنتون ته راوان شوم؛ زما له بخته دوې شپې مې نه وې وتلې، چې کور ته مې زنګ ووهلو مدینې وېل:

– مرواء دغو هم راغلل، که څه هم دې ته خو مې څه ونه وېل اما دخپل نصیب په وړاندې مې احساساتي شوم.

خو په هر راز، راځۍ دلته به هم لږ وړاندې تېر شو هغه داسې چې دراتلونکې یوې نیمې میاشتې نرمال تر پوهنتون او لیلیه دتلو راتلو تر کیسه به تېر شم په خلاصه ډول به ووایم یوه نیمه میاشت وروسته یوه ورځ مې مور زنګ راته وکړو له سلام کلام وروسته یې وېل:

– اله زویه! د تورګل کاکا د زوی په وراه تللې وم، په مدین خیلو کې مې یوه نجلۍ ولیده، نیم زړه مې یې وړی، په پېغلو کې داسې ښکارېده لکه دپنځلسمې سپوږمۍ، یوه ځواني خدای ج ورکړې وه، یو سترګې یې وې، یوه هوښیاره، حیاناکه نجلۍ وه. دشکور لالا د اننګور ورېره ده، پرون دشکور لالا کره ورغلې وم، پوښتنه مې یې وکړه اینګور یې وېل: ورور مې دکلي په لیسه کې سرمعلم دی، دوه دکانونه لري، ځمکې باغونه یې هم ډېر دي، یو کورلا موټر یې هم شته، فقط د خپلې کورنۍ چکر، د دوستانو دعاوې، او مبارکۍ پکې کوي. ډېره درنده کورنۍ ده، کني زما خو زړه وه، چې پوهنتون دې

(c) ketabton.com: The Digital Library


خلاص شي، مرواء به درته وکړم، که خلك هر څه پسې وايي موږ ته خو يې ښايست، پاك لمني، هوښياري، انسانيت، پاکيزه ګي هر څه معلوم دي، چې زموږ کلي کې خو څه شاوخوا کليو کې يې هم جوړه نشته، مګر دا نجلۍ مې چې وليدله مرواء يې په دوره پسې نشي رسېدلی.

- ښا نو اوس زړه دې څه دی؟

- زړه خو مې داسې دی چې راتلونکې جمعې ته دې خاله هم راسره بيايم، ورځو درته غواړم يې، که يې راکړه هغه نجلۍ مې خدای ج اينګور کړه، د ډېرو به ذره وچوي.

- ولا موري څه درته ووايم؟ خو اوس دې په خدای ج سپارم صنف ته مو استاز ننوتلو، وروسته بيا زنګ درته کوم.

تلفون قطعه شو ورمنده مې کړل، داجازې اخيستلو په پار مې دصنف ور ټك ټك کړو، استاز غږ وکړو:

- راځه!

سلام مې واچو دوهم کتار کې په خپله چوکۍ کېناستم، استاذ درس ته دوام ورکړو، که څه هم په ډېره اړينه موضع يې خبرې کولې، ولې ما به چې هر څو کشش وکړو فکري تمرکز مې د استاذ په خبرو نه راټولېدو، همغه دمور نه په لمړي ځل آورېدلي عجيب او غريبه کيسه کې ورجړ و، لکه بنګ مې چې څکولي وي، يا زنګو کې ناست وم؛ چوکۍ کې به مې ټال ووهلو؛ لنډه دا چې درسي ساعت خلاص شو ليليه ته راغلم ډوډۍ مې زر زر وخوړله؛ د پردې په

(c) ketabton.com: The Digital Library


راخورولو سره مې چېرکت ته له نورو اطاقيانو پنايي ورکړه، اوږد پکې وغځېدم نور مې نو د مور خبرې په ډېر دې قت تر غور لاندې ونيولې، تقريباً دوه ساعته مې ئې په ټولو اړخونو فکر وکړو، په نتجه کې زړه نازړه شوم، چې د مور سره مې د مدين خيلې جلۍ خبره اوکې کړم کنه؟

ځکه چې له يوې خوا مې مرواګۍ رګ رګ کې خوره وه؛ د لاسه په ورکولو مې يې هېڅ زړه نه کېدو؛ بل خوا مې دمور له خولې دمدين خيلې دښکلاء، اخلاقو، شرافت او همداسې سترې کورنۍ بې ساري صفتونو د زړه مراندې ور کړې کړې.

او له يادولو دې پاتې نه وي چې، په تول ددې يونيم کال پوهنتون ويلو کې زما هم څه سويه جګ شواى و، د رانګا رنګ، بېلو، بېلو ولاياتو د ځوانانو سره مې شناخت پيداکړى و؛ دداسې ځوانانو سره چې سترې سترې، کورنۍ يې لرلې، ځانو ته يې يو څه وېل، دهمداسې کورنيو نه يې وادونه هم کړي و، يا يې کول؛ خو ما هم ځان کم نه ترې ګڼلو؛ ولې برعکس که څه هم خپله په مرواء کې د يوې ذره کمى نه و؛ اما د کورنۍ له حساب بېخي په ټيټه خانه کې و؛ خصوصاً په دې وروستيو کې چې زموږ دهغو کليوالو هلکانو کورنيو هم خپل حشر او زکات مرواء دوئ ته ورکولو، کوم چې ما رقابت او سيالي ورسره کول

ددې سربېره؛ څو متحلو اطاقيانو ملګرو به مو تل په خپل مېنځ کې دګېپ شپ په لباس کې، دخوانبې، ښمينو له خوا نازونو؛ خسرګنۍ کې دميلو، مزو نه ژبه شړپوله؛ چې د وخت په تېرو سره يې موږ هم له اثره ګوښه پاتې نشو؛ زما په شمول، نورو مجردو اطاقيانو ملګرو مو يې هم دخوانبې ښمينو يعنې

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دوئ په شان خسرګنیو ته زړونه موښۍ موښۍ کړل. بدبختانه پورته تهولو نقطو ته په کتو، تر ډېره دمور سره ددې دخبرې منلو ته مایل شوم، اما له مرواګۍ هم دومره آسانه نشوای تېردی، همدا وجه وه چې وروسته له دومره وخت فکر کولو لاهم ونتوانیدم یوه قاطع پرېکړه وکړم. شپه مې د همدې پاڼ او پړانګ ترمنځ کله ویښ کله ویده هیجاني حال کې تېره کړه، سهار شاوخوا اوه بجې مې بیا مور زنګ راته وکړو، له اوکې سره سم مې سلام ورواچوه، پوښتنه موښتنه مو وکړه، له پوښتنې وروسته یې وېل:

– تا خو زنګ ونکړو؛ زما پرونۍ خبرې دې لکه چې حېرې شوې؟

– نه مورې! هېرې مې نه دي، ولاکه پوهېږم څه درته ووایم؟

مور مې بیا دمدین خیلۍ نجلۍ د پرونیو صفتونو په تکرار سربېره دومره نور صفتونه وکړل:

یو عجیب ویښته خدای ج ورکړي و، یو غټې غټې ښایسته سترګې یې وې، نرۍ نازکه پوزه، غونډه منډه خوله نازکې نازکې شونډې؛ میانه جګ قد لکه د ګلو ونه او...

خلاصه دومره ستاینې یې وکړې، د نوځوانۍ جوش و؛ بې ادبي دې معاف وي؛ نژدې و چې په رښا ورځ یې د شیطان د بازۍ ښکار کړی وم، البته بیا هم ښښنه غوړم فکر کړم بې ادبي مې وکړه. خلاصه په نالیدې صدف پسې مې یې د زړه ستنې بل شان ور رنګې بنګې کړې، د ځمکې په سر دیوازنې ښکلې بشر په حیث مې یې په سترګو او تصور کې بې انتها ښایسته، ښایسته تصویرونه تاوېدل راتاوېدل. بس نصیب دی کنې دومره ساده هم ولاکه وم، او

(c) ketabton.com: The Digital Library


که خدایزده په دې باب د نوځوانۍ په دوره کې د جنسي غریزې دسختې تندې زر تر زره ماتولو له وجې سړی په عقل پرېکړه نشي کولی.

خو هر څه چې و، مقصد د مور دخبرو په اخېر کې مې ور غبرګه کړه:

– خوښه دې مورې! هر څنګه چې کوې دنرمې تمسیلي خندا په کولو سره مې، زیاته کړه: کني ما خو وېل چې زه به ټول عمر واده نه کوم اما ستا چې خوښه شوې...

نور مې څه ونه وېل خبره مې همدلته په کنایه ولاړه پرېښوده.

په مقابل کې دمور مې هم لمړی د خندا غږ راغلو، بیا یې ووېل:

– مور دې در ځار شي زویه! نه، نه بېغمه اوسه که دا نجلۍ مې درته وکړه، په ډېرو به اور بل شي ته غوږ نیسه.

– سمده مورې! ورشئ.

– راتلونکې جمعې ته دې زه او خاله ورځو؛ ترې غواړم یې که راضې مو کړل، بله جمعه به پخیر یو څو نفره ورشو ګل به ترې راوړو.

له دې خبرې وروسته یې تلیفون قطعه شو، زنګ مې پسې ووهلو، شبکې جواب راکړو مبایل خاموش و؛ د دوهم ځل لپاره مې هڅه وکړ، بیا هم همغه ځواب و؛ فکر کړم تلیفون یې چارج خلاص کړو. خو په هر حال ما هم خپل مبایل جیب ته واچو چې ساعت ته مې وکتل آتو ته څو دقیقې پاتې وې زر زر مې تقسیم اوقات وکتلو ددې ورځې درسي مضامین مې برابر کړل، پتلون او یخنکاك مې واغوستل ویښته مې غوړ کړل؛ تدرسۍ ته روان شوم، صنف ته

(c) ketabton.com: The Digital Library


له رسېدو سره سم مې په همصنفیانو سلام واچو تر څو په چوکۍ کېناستم استاذ هم راورسېدو په درس ویلو یې پیل وکړو؛ که څه هم هوش او فکر مې لا هم هوایي و؛ ولې بیا هم نظر پرون ورځې ته ښه وم، یوه شیبه به مې فام صنف کې و؛ بله به د واده په معامله کې سرګردان آوښتو، راوښتو لنډه دا چې دا څو ورځې شپې هم تېرې شوې جمعه راورسېده؛ مور او خاله مې مدین خېلو ته رواني شوې، شپه یې وکړه، سبا ماسپښین په دریو بجو مې مور ته زنګ وکړو، مبایل یې اوکې کړو، په سلام پسې پیوست مې پوښتنه ترې وکړه:

- چیرته یې؟

- دغه دي زویه! همدا اوس کورته راورسېدو.

- خاله هم درسره ده؟

- هو؛ دبیچاره سر موټر نیولی، دلته یې ښه ګک وهلی سلام درته وایي!

- وعلیکوم سلام؛ ښا ښنګه مو وکړل؟

- الا زویه دومره درانه خلك و؛ داسې قدرونه عذتونه مو یې وکړل؛ لماخستن له ډوډۍ وروسته مو خبره ور یاده کړه اول خو یې وېل:

- مورې به خوښه وکړو؛ بیا حوال درکوو، چې خاله دې ورته ووېل:

- وراره مې په مزار کې فنتون (پوهنتون) وایي کپتړ سایس دی که څه شی دي زما یې نوم نه زده کېږي هغه وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا خبره یې چې ورته وکړه ښځې میړه ته، میړه ښځې ته خوشحاله، خوشحاله سترګې ور واړولې، خو نور یې غږ ونکړو؛ لږ وروسته دې خسر وېل:

– ماما ناوې! خپه نشئ، نن ټوله ورځ وګرځېدم خسته یمه یو ساعت ویده کېږم، خیره، خدای ج دې خیر پېښ کړي.

نور یې هېڅ ونه وېل چُپ شو؛ موږ هم یو ساعت نور ناست و؛ پسې ویده شو؛ د شپې په بستره کې مېړه او ښځې مسلحت سره کړی و؛ سهار چې راروانیدلو؛ خسر دې وېل:

– ماما ناوې! ستاسو له کلي نه بر په ډنډکلا کې مې یوه خور واده ده، ته به یې خدایزده پېژنې کنه؟ د نورګل کډه، اوس مې زنګ ورته وهلی و، تاسو یې پېژندلی، ډاډ یې راکړو؛ توکل په خدای ج هر وخت چې راځې راشئ، څه چې زموږ رواج دی، زه به یې په یو کاغذ کې درته ولیکم؛ که مو خوښه و؛ په دواړو سترګو دعا به سره وکړو.

– نجلۍ دې ولیدله؟

– نه مشر ورور یې په هرات کې، اوسي اوس یې زوی شوی و، ښځې یې کار نشوای کولی، نجلۍ دهغه کره تللې وه، لیدلو ته یې حاجت هم نشته یو ځل مې لیدې په نجلۍ کې دیوې ستنې عیب نشته؛ نغمه دې ځان وخوري، الا زویه ته به وایې په ګوتو دې جوړه کړي.

– سمده مورې: خو کاشکې وای خاله به هم لیدلې وه، چې هغې څه پکې وېل؟

– نه، نه بیغمه اوسه!

(c) ketabton.com: The Digital Library


- ښا نو له دې وروسته دې څنګه زړه دی؟

- راتلونکې جمعې ته دې ماما راغواړم، خاله خو دې تیاره راغلې، ټول ورځو، که په ولور، او د واده په نور خرڅ کې جوړ شو؛ دعا ورسره کوو، خو زه دې دخسر په خوله پوه شوم، که خدای ج کول راسره جوړېږي، ډېر راته خوشحاله شو.

- سمده مورې! پوښتنه مې کوله چې راغلئ کنه؟ نور دې په خدای ج سپارم زما لږ نوټ پاتې دی دا رسوم، خاله ته مې بیا هم سلامونه وایه!

- وعلیکوم سلام؛ څه خدای ج دې مل شه!

موبایل مې ورقطعه کړو، کتابچې متابچې مې راخورې کړې په نوټ لیکلو مې پیل وکړو، بلاخېره مازدیګر شو په اوداسه او لمانځه پسې جګ شوم؛ پس له لمانځه د مصویر سره دلیلیه تر مخ باغچې ته ووتلم، مصویر له هاخوا او دې خوا غړېدو؛ ټوکې یې وهلې خندل یې؛ ما هم خوله جینګه ورته نیولې وه؛ نور مې فکري ډېرى برخه د وطن په معامله کې سرګردانه آوښته راوښته؛ ان تر دې چې د ماښام لمانځونه مو هم په همدې باغچه کې وکړل؛ له لمانځه وروسته مصویر سګریت تازه کړو؛ یو دوه کشه لاپاتې و، چې د طعام خورۍ په لاډسپیکر کې غږ وشو:

- بیایي نان تیار است!

یو غټ کش ئې بل هم ورکړو، نور یې سیګریت وغورځو؛ ور روان شو؛ طعام خورۍ ته ننوتلو ډوډۍ مو راوخیستله، د ډوډۍ اخیر و، یوه ګوله لوبیا مې لا

(c) ketabton.com: The Digital Library


په قاب کې پاتې و؛ مبایل ته مې زنګ راغلو، چې ومې کتلو شماره نابلده وه؛ په طعام خورۍ کې چغو پوغ و، غږ نه آورېدل کېدو؛ تر پاتې یوه ګوله لوبیا مې تېر شوم؛ تر طعام خورۍ راووتلم په همدې راوتلو کې مې مبایل اوکې کړو، واپس د باغچې په لور ورسره روان شوم، غږ مې پرې وکړو:

- سلام علیکوم!

له مقابل لوري لمړی یوه غټه ساه وخیستل شوه، بیا په ښځینه مایوسه آواز ځواب راکړل شو:

- وعلیکوم سلام؛ اکبره! ښه یې؟

که څه هم په لمړي قدم کې مې وپېژنده چې مرواء ده، خو ځان مې واچو ومې ویل:

- شکر دی ښه یم، وبښه ومې نه پېژندې؟

- مرواء یم!

- ښا ، څنګه یې، ددك دې ښه دی، د خور نه دې حوال لرې ښه ده؟

- شکر دی ښه یو؛ ته څنګه یې؛ د درسو سره دې څه حال دی، مسافري ښه تېرېږي؟

- په دې حال شکر دی ښه یم، خیرت خو به وي غږ دې ولې لوبدلی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


- هو خيرت دی، مازديګر مدينه راغلې وه، وېل يې: پرون مې مور او خاله مدين خيلو ته تللې وې کومه نجلۍ يې کتلې، لالا ته مو يې کوو، دا رښتيا ده، که دروغ ته خبر يې؟

- هو، رښتيا ده، څنګه؟

په دې وخت کې د مرواء له خوا دسترې ستمېدا؛ غټو غټو زندۍ شو سلګيو سره ګډ يو غږ راغلو، لکه څوك چې په خوله لاس ونيسي، په چيغو چيغو ژړا ستوني کې حصاره کړي، نور هيڅ غږ نه راتلو؛ بيا مې ووېل:

- آورې؟

دا ځل هم چا جواب رانکړو؛ مبايل کې همغه د زندۍ سلګيو او ستما، آواز راځي.

تر څو مې بيا غږ پرې کوو، تماس قطعه شو، له دې خوا مې زنګ پسې وکړو؛ تر اخېره يې زنګونه تېر کړل، ولې ګوشي يې پورته نکړه؛ بيا مې زنګ ورته وکړو، دا ځل يې هم پورته نکړو.

څو لهذې نور هم تم شوم؛ زنګ يې ونګړو؛ مبايل مې جيب ته کړو اطاق ته راوختلم، ملګرو مې چای راکړی و، ټوکې ټکالې يې وهلې زما په راتلو سره اميرخان ووېل:

- هغه دی، ملګری مې راغلو تاسو اوس په ما ټوکې وکړئ، هلکان په خندا شول، فهيم د خندا سره موازي ووېل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


- د ملګري دې هم دا څو شپې خونده نشته طوطي يې مړ دی؛ لکه چې خيرالله خان ستاذ ته په کومه ګوښه؛ موښه کې تر ګوتو ورغلی.

ددې خبرې په اورېدو سره دخندا غږ دومره جګ شو چې په ټوله ليليه کې يې انګازه ولګېده؛ قاري نصير خو چې په خندا کې يې شهرت لرلو په ګېډه لاس نيولي و؛ له خندا ښېران په غولي رغړېدو؛

خيرالله خان زموږ پوهنتون کې يو پوخته ساله استاز و، خدای ج يې دې غيبت نه کوي، خپله مې څه نه دي پکې ليدلي خو هلکانو به ويل: ډېر سخت بچباز دی؛ په ليليه کې يو شبرغانی هلك و، کمه کمه ګيره يې اوس راغلې و؛ واقعاً ډېره ښه ځواني يې لره؛ خو دا ګنګوسه هم پسې پرته و؛ چې تېر کال امتحانو کې خيرالله خان استاذ د يوې نمرې په کمولو سره ناکام کړی و، تاو سر، تاو سر؛ بلاخېره ديوې مچو په مقابل کې يې ورپوره کړه، همداسې دې ته ورته نورې حتا له دې نه ورانې نورې کيسې به هم د خيرالله خان استاذ په تړاو کېدلې، نو ځکه زما تغير شوي رنګ او نارامۍ ته په کتو دفهيم خبره دومره جالبه تمامه شو. خو په هر حال ما هم څه رښتيا څه د زړه په زور خوله جينګه ورسره نيولې وه، خندل مې، چای مې راوچو د چيرکټ په څنډه کېناستم؛ هلکانو د انتظار شيبې شمارلې چې له فهيم نه به اوس خپل ورا اخلم، ځکه زه دوئ پېژندم چې په ټوکو کې په ټوله ليليه کې څوك راته دټينګې نه و، اما بدبختانه دلته هېڅ ټوکه ذهن ته نه راتله چې دفهيم نه مې خپل وار اخيستی وای؛ که وار نه وای اکلاً چې ددې نورو هلکانو توجه خو مې له ځان اړولې وای خولې ته مې يې نغې نغې سترګې نه وای نيولې، له همدې مجبوريته لا

(c) ketabton.com: The Digital Library


هم د يوې ټوکې د راجوړولو په هڅه کې وم؛ چې کتل مو د ليليه مدير ډېر تېز او په قهر اطاق ته راننوتلو ټولو ته مخامخ ودرېدو وېل يې:

- دا ليليه ده که د شغالو ځنګل دی؟ انسانان يئ که څه بلاوې يئ؟ خدای ج مو ووهه، د پوهنتون او ليليه بلا دې درواوړي... همداسې ډېرې نورې سپکې سپورې يې وويلې، اخېر کې يې وېل: که دا ځل مو د خندا غږ راغلو ولاکه په ليليه کې پل رانه کېږدئ، نور ښه شو ووتلو.

که څه هم مدير صيب سخت خپه او خجالت کړو؛ مګر يوه ګټه مې وکړه؛ مخکنی مجلس رنګ شو، دفهيم په وړاندې له هغه مکلفيته په پرده کې خلاص شوم چې زما دتېرو عمر ټوکماری ته په کتو ملګرو يې دقوي ځواب هيله رانه لرله؛ په داسې حال کې چې ذهن ته مې هېڅ نه راتلل؛ چوپه خوله هم نشوای پاتې کېدلی، ځکه چې په تېر کې چاته چوپ نه وم پاتې شوای، نن که چوپ پاتې وای، څنګه چې فهيم ووېل: (دا څو شپې دې دملګري خوند نشته رنګ يې الوتی) طبعاً ټول ملګري به شکي شوي و، چې ربښتيا سړي ته خو څه کيسه ورشوې؟ له همدې کبله اړ وم يو څه مې ويلي وای چون ښه شو د مدير له وتلو وروسته مړه، مړه خپلو چپرکټو ته جګ شو، ما هم خپل پاتې چای يو غوړپ کړو؛ پرده مې راخوشې کړه، په چپرکټ کې وغځېدم، ګوشکې مې په غوږو کې ورکړې؛ دهغه تاجکی نجلۍ سندره مې پلې کړه چې وايي: (رنجيده ای، رنجيده ای غزيزم جان جان از من ګنا چی شده؟)

تر يوه وخته سندرې ته غوږ وم؛ پس له څه وخته سندره غږېده، زما فکر د مرواء د تماس په وروستيو زندۍ سلګيو او ورك آواز کې محشوش شو، قصد

(c) ketabton.com: The Digital Library


مې وکړو یو ځل بیا زنګ ورته وکړم، ساعت ته مې وکتل نهه بجې وې ناوخته وه، واپس پښېمانه شوم؛ چې ویده به وي، وطن کې خلك وختي ویده کېږي. ګوشکې مې له غوږو لرې کړې، راکیناستم کمیس مې ویستلو ایته کرسي مې وویله، زما عادت دی ډیری وخت پړمخې ځملم همداسې مې دمه جوړېږي، ښه خوب راځي، دلته هم دخپل عادت له مخې پړمخې پرېوتم، یو ساعت ویښوم له یوې خوا خوشحاله وم، چې هر څنګه شي په یو مجرد ځوان د واده غږ ښه لګېږي، بلخوا د وېرې تر څنګ هیجاني غوندې وم، لکه مور چې وایي: دا نجلۍ به رښتیا همدومره ښکلې، باحیا، اخلاقي، وغیره صفتونه لري کنه؟ او همداسې مرواء مې هم نه لورېده چې پردۍ دې شي، که څه هم ما به کوشش کولو نور دمرواء له اثره ځان راوباسم، خو غیرې ارادي مې یې د روح په مرۍ پښه ایښې وه، پوره یې نارامه کړی وم.

په همدې خوشښیو؛ وېرې او اندیښنو کې ویده شوی وم.

دشپې مې خوب لیدو؛ دکلي په خوړ کې مو ډېر ستر او خطرناك سیلاب راغلی وي، لکه اوښان داسې آوښتو، اوبه یې له زیات خړولي تکې توري ښکارېدې، دربار یې لګېدو غټ غټ دغره شنه کمر یې له ځان سره رغړول؛

مرواء دیوه پاڼ له پاسه ورته ولاړه وه سیل یې کولو، غلی غلی دشاه له خوا ورغلم په ولیو مې یې لاس ورکېښول دلاس ایښودو سره یې تر دې یوه څنګ لږ ولیدم څو یې پوره مخ را اړولو ټېل مې وهله، د ټیلوهلو سره سم یې دچیغه په انداز کې ویل: ای ظالمه ولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


نور دسيلاب زوروه څپه پرې راوښتله ترکې تامه يې کړه زه د همدې پاڼ په څنډه ولاړ وم؛ لاس مې د پيك په شان د سترګو له پاسه نيولى و؛ په خوړ کې مې ښکته د سيلاب غرونه؛ غرونه څپو ته کتل چې مرواء سره ته راوړي کنه. ډېر وخت ووتلو تر سترګو مې نشوه، زړه کې مې راتاو شول: شايد دکمرو تر منځ ورغلې وي، ذره ذره به يې کړې وي، هغه و نور را روانيدمه چې ډېر کوز دسيلاب منځ کې يو ډېر ښايسته تخت مې تر سترګو شو، په څنډو يې رنګا رنګ اشارې ډېرې او فول کېدلو سربېره غنچه غنچه ګلونه پرې کتار و؛ لکه کيښنتئ په مزه مزه دسيلاب دغرونه غرونه څپو له پاسه روان و؛ مرواء په ښکلو رنګينو جامو کې بلا سينګار کړې دهغه پخوانيو اصيلو قالينو له پاسه ديو ښکلي څوان سره چې سپينې جامې او تور واسکټ يې په تن و، شاته اړولې تورې مزداې څڼې يې په ولېو پرتې وې، په کوچ ناسته وه، په نازکه سپينه غاړه يې د زيړو څنځير پړك وهلو، مخ ته يې دميز په سر قسم، قسم مېوې په قابونو کې ايښې وې، سېلاب که هر څومره وحشتناك و، څپې، څپې اوښتو يا يې غوړمبار کولو، خو د دوئ په تخت يې کوم اثر نه لرلو، همغه شان په آرام او په خوند خوند روان و، زه ددې عجيب او غريبې صحنې په تماشه لاهم لاس په تندي ولاړ وم؛ فام مې نه و، تر پښو لاندې پاڼ مې د سيلاب څپو وهلى و؛ حرکت يې وکړو دجګې چيغې په کولو سره مې راټوپ کړل، خو له بده مرغه بريالى نشو، روان پاڼ د مست سيلاب وحشي څپو په خوله ورکړم، چيغې مې وهلې هاخوا دې خوا مې منګولې اچولې، يوې څپې به تر انبار انبار خړو ګيلاو لاندې کړم؛ بلې به واپس د اوبو سر ته راجګ کړم؛ ددې تر څنګ يو قسم وحشت ناکو غتو غتو داړو لرونکو بلاو څېرې مې تر سترګو

(c) ketabton.com: The Digital Library


کېدې زما لور ته يې خولې را اچولې؛ ما ته يوازې چيغې راپاتې وې، نور به مې څه کړي واى، بلاخبره تر ډېرو غپو مپو وروسته چې نور له چيغو هم لويدلى وم، ساه مې پاکه ولاړه وه، يوې څپې د ابوه سر ته راپورته کړم، د راپورته کېدو سره سم مې دمرواء دغو په تخت سترګې ولګېدې ترې د تېردو په حال کې وم؛ که څه هم د مرواء سيلاب ته راغورځولو ورسره کړي ظلم له وجې مې د مرستې اميد نه ترې لرلو، خو هغه متل ده چې وايي: بد ساعت سړى هر څه ته مجبور وي، بد ساعت اخيستى وم؛ په ټول توان مې د مرستې غوښتلو په پار دوې بدريغه چيغې پرې وکړې، چې ددوئ رافام شو، تخت يې زما لور ته رانژدې کړو، مرواء او ورسره ځوان دتخت له څنډې جوړه لاسونه د مرستې لپاره را وغځول، ما هم ددوئ لور ته منګولې غورځولې، څنګه مو چې دګوتو سرونه سره ولګېدل.

د اطاق ملګري مې فيصل تر مټ ونيولم ټکان يې راکړو په لوړ غږ يې ويل:

– اکبره! اکبره! جګ شه ولې چيغې وهې؟

چې سترګې مې رالوخې کړې دليليه په چپرکټ آرامه پروت وم، نه سيلاب و، نه مرواء وه، نه تخت،

په خپلو خولو کې لوند خوشت وم؛ زړه مې لا هم د راباندې تېر ترس له کبله لکه د مورېك په يوه ذربه غورځېدو.

کلمه مې ووېله راکيناستم؛ فيصل ته مې ووېل:

– مننه وروره چې راويښ دې کړم، ډېر يو وحشي خواب مې ليدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


– داسې چيغې دې وکړې چې زما دې نژدې ذره چاودلې وه، د همدې خبرې په کولو سره فيصل رانه راوون شو.

دسمال ته مې لاس کړو دمخ او غاړې خولې مې وچې کړې، دخولو وچوالي سره سم څو لهڅې دليدلي خوب په فکر کې ولاړم؛ اخېر کې مسك شوم زړه کې مې وېل: د خوب هم عجيب کارونه وي، نور پسې ونه ګرځېدم.

مبايل ته مې لاس ورتېر کړو ساعت مې وکتلو پنځه بجې وې تقريباً سهار و، واپس پرې نه وتم؛ کميس مې واغوستلو جګ شوم، له اطاق نه راووتلم د آذانو ګړنګو پړونګ و، اودس او لمونځ مې وکړل، واپس مې چپرکټ کې وغځېدمه مبايل کې مې ګوتې وهلې، د اطاق نوکري د کريم وه، غږ يې وکړو، راځي چاى تيار دى، چې پرده مې پورته کړه؛ دسترخوان په غولي هوار و، ډوډۍ پرې اېښې وه، کريم په ګيلاسونو کې بوره اچوي، ملګري راځي له دسترخوان هاخوا دې خوا کيني، زه هم ورجګ شوم، دفيصل ترڅنګ کيناستم فهيم چې د دسترخوان له هاخوا مخامخ راته ناست و، وېل يې:

– دشپې دې څنګه چيغې وهلې، خوب اخيستى وم، د وسه مې نه کېدل چې درجګ شم، کني تر پښه مې نيولې له دې کړکۍ مې د ليليه د تعمير شاه ته وارولې.

هلکان په خندا شو، جاوېد پسې زياته کړه

– خوب کې به خيرالله خان استاذ بيا په کومه ګوښه موښه کې راحصار کړى و.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ددې سره د خندا غږ لا جګ شو؛ قاري نصير خو له ډېر خوځېدو نه ګيلاس هم وراړولو.

د هلکانو خولې لا له خندا نه وې راټولې چې د دسترخوان له بر کونج نه د اطاق دمشر فرهاد په تونده لهجه غږ جګ شو هلکان چپ شول، فرهاد وېل:

– هغه بېګانی عذت مو بس نه دی، چې مدير صيب راکړو، اخير شرم دی، رښتيا يې وېل شغال خانه خو نه ده؟ پسې اوږده يې کړه...

اخېر کې يې وېل: که دا ځل مې په اطاق کې د چا له خولې ټوکه او داسې خنداګانې واورېدې، زه له دې اطاق نه تبديلي اخلم، تاسو به نه شرمېږئ، د مدير بېګاني بد رد وېل به اثر نه دربادې لري. مګر زه يې نشم برداشت کولی.

د مشر له خبرو وروسته مې په ټيټ آواز فهيم او جاويد ته صرف دومره ووېل:

– زه به په تدريسی کې ستاسو سره ګورم.

نور خاموشي خوره شوه، چای مای مو وخوړلو جګ شوم درشي مې وغوستله تقسيم اوقات مې برابر کړو، روان شوم، کريم غږ وکړو:

– تر اوسه وخت دی صبر لږ وروسته به ولاړ شو.

– تاسو راپسې راځئ؛ په بازار کې مې ديوه هنصنفي دوکان دی زه هلته ځم لږ کار مې دی ورسره.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په همدې بهانه له اطاق نه راووتلم، د ليليه تر عمومي دروازه وتلو وروسته مې مرواء ته زنګ وکړو، څو زنګونه يې تېر کړل اخېر کې يې اوکې کړو د دساړه حوسيلي سره موازي، يو لوېدلی دمرواء دغږ سره کاملاً متفاوت غږ راغلو.

- سلام اکبره ښه يې؟

- شکر ښه يم، مرواء يې؟

- هو!

- غږ دې څنګه بدل شوای؟

- خدايزده ستونی مې لوېدلی ددې تاثير به وي.

- ښا ددك دې څنګ دی؟

- شکر دی ښه دی!

- پرون دې زنګ ووهلو له هغه يو څو خبرو وروسته دې غږ ورك شو، سودا مې شوه څه دې وېل؟

- زړه کې مې ډېرې خبرې وې او دي، خو يوه د سوز چيغه مې مرۍ ته راغله په خوله مې لاس کېښول همغه مې تربت کړه نور هر څه ولاړل.

- ولې؟

- د ولې په ځواب دې خپله ښه پوهېږې، مګر دومره درته وايم؛ منم، مدين خيلۍ نجلۍ به له ما ښکلې وي، ولې څومره مينه چې زه ستا سره لرم، کومه

(c) ketabton.com: The Digital Library


مينه مې چې د راتلونکي لپاره درته ساتلې وه، که دټولې دنيا نجينې ستا مينه شي، بديل به يې نشي.

بل خوا تاته ښه معلومه ده، چې زه له ماشومتوبه ستا په تور بدنامه يم، که څه هم زه او ته ښه پوهېږو چې پرته له دې خالي خبرو چې هغه هم له يوې خوا واړه سره راستر شو؛ بل خوا زما مور مريضه وه، پلار مې سپينږيرى و، د مجبوريتونو له وجې مې نشواى کولى په تا غږ ونکړم، مرسته درنه ونه غواړم.

صرف هغه يوه مچو چې په هغو کې هم زه درسر همغږې نه وم، حتا ډېره خپه شوم تر ډېره وخته وجدان ځورولم، داسې احساس راته کېدو چې ګواکې د پلار د عذت غيرت او شملې سره مې لوبې وکړې، ځکه تا ته معلوم دى چې ددك مې مخکې له دې مريضۍ که څه هم سپينږيرى و، خو غيرتي سړى وه، د خپلې کورنۍ يوه ګوله حلاله ډوډۍ، لباس او نور ضرورتونه يې ښه په مېړانه راپيدا کول، او همداسې په کلي کې د ښې او بدې، مسجد د مصارفو ورسېدلې ونډه يې په نره پرې کوله نو طبعاً به مې ددې کار په کېدلو سره دخپل غيرتي پلار په حق کې وجدان کړولم، خو دا چې ستا خاطر ډېر راباندې ګران و؛ خوله مې پټه ونيوله.

له دې هاخوا کومې نامشروع اړيکې نه سره لرو؛ اما د خلکو خولې به څوك وربندې کړي؟ چې څه، څه نه وايي او تر کومې اندازې مو نه سره توروي، خو تر پرونه ددې خلکو د خبرو او ستا په نوم د بدنامۍ کيسه کې هم نه وم، مګر ددې نوې کيسې له خبرېدو راپه دې خوا يې ډېر تاثير راباندې کړى.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ددې سربېره له کالونو راپه دې خوا ستاسره د یو ځای والي په خوشبینۍ پایم؛ خصوصاً په دې وروستۍ بهراني دوره کې چې له یوې خوا د مور دمرګ او ابد لپاره دبلتانه دروند غم و، بلخوا د پلار مریضي، ځای په ځای کېدل، او همداسې د غربت انتها لوړې، تندې، احتیاجونه، دخلکو عشرونو، زکاتونو ته کېناسته؛ واقعاً قام په قام زړه چاودونکې صحنې وې، لا هم جریان لري، خو ددې ټولو په وړاندې زما د زړه تکیه، لمړی په الله ج وه؛ بیا په راتلونکې کې ستاسره د ژوند دملګرې په حیث له مینې مالامال ښکلې زندګۍ په خوشبینۍ وه.

یقین وکړه ددغه ټولو اندیښنو سره سره مې یوه ورځ له یاده ونه وتلې له هر لمانځه وروسته مې اول تاته د سر دسلامتیا؛ خوشحالۍ او صحت دعا کوله بیا د ځان لپاره په ژړاغوني غږ یې پسې زیاته کړه، نن به مې ولې بې اختیاره سوې چیغې خولې ته نه راځي...

نور خبره ترې ولاړه، آواز یې ورك شو.

بار بار مې غږ پرې وکړو:

- بلې؛ بلې غږ مې آورې؟

یوازې دتېرې ورځې په څېر دځښنو پښن سره موازي د سترې ستمار او زندیو سلګیو آواز مې تر غوږه شو؛ سم دم مبایل پسې راقطعه شو.

بیا مې زنګ پسې وکړو، شبکې ځواب راکړو؛ خاموش و.

مسیج پاڼه مې را خلاصه کړه، د سلام په پیلولو سره مې ورته ولیکل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


– څنګه چې تاویلي؛ همداسې مې د خپل راتلونکي ژوند مینه، د زړه سکن راز او نیاز ګڼلې اما هغه د اختر په ورځ دې چې د یوې مچو په مقابل کې کوم تریخ عکسل عمل راسره وکړو، دومره دې وویرولم چې تر میاشتو میاشتو مې د خپل زړه دربار آوریدو. له همغې ورځې په دې باور شوم چې ته مینه نه راسره لرې،

زه هسې خطا وتلی وم.

مګر اوس خو نو تر ورخ اوبه تیرې دي، ددې خلکو سره غږېدلي یو کیدی شي راتلونکي جمعې ته دعا سره وکړي.

نور تاته هم ښه بخت او راتلونکي کې ښه ژوند غواړم.

په همدې خبره مې لیکنې ته د پای ټکی کېښود، مسیج مې ور واستلو،

التبه له یادولو دې پاتې نه وي. چې مرواء هېڅ د مکتب دروازه نه وه لیدلې، او نه هلته دنجینو مکتب و، پرته له دې چې په ماشومتوب یې مسجد کې له ملا نه (الف او ب) سپاره ویلې وه، او را وروسته یې له ددك نه قرانکریم زده کړی و؛ نور یې هېڅ زده کړې نه وې کړې؛ بس هسې خدای ج ډېر ښه استعداد ورکړی و؛ یعني که ووایم چې د دولسم د فارغینو له اکثریتو یې روان لیك او لوست کولو، دروغ به مې نه وي ویلي.

خو په هر حال د مسیج له ور استولو وروسته مې ساعت ته وکتل، صرف څو دقیقې پس درس شروع کېدو ته پاتې وې، که څه هم د مرواء سره د خبرو په محال قدم، قدم کې تر ډېره راغلی وم، ولې لا هم څه لاره پاتې و، حرکت مې

(c) ketabton.com: The Digital Library


ګرنډي کړو. کافي وخت مې صنف ته ځان ورسو، دوه ساعته درس مو وويلو؛ دريم ساعت خالي و، راووتلم مرواء ته د لېږلي مسيج ځواب ته مې سودا وه، له دوهم منزل نه راښکته شو زينو کې د راښکته کېدو په حال مې مبايل راويستلو صفحه مې وکتله کوم مسېج نه و، راغلی، واپس مې جيب ته کړو، ليليه ته ولاړم، ليليه کې مې بيا وکتلو لاهم کوم مسيج نه و، له ډوډۍ خوړلو اودس او لمونځ کولو وروروسته مې بيا وکتل څه مې ونه ليدل، بلاخېره هر ساعت، يونيم ساعت وروسته مې کتلو، تر دې چې د شپې يولس بجې شوې، مسيج رامعلوم نه شو، نور مې مبايل دبالښت تر څنګ کېښود ويده شوم. سهار چې راجګ شوم دمبايل په صفحه د نوي مسيج علامې ټوپونه وهل کليك مې کړو، مرواء ځواب را استولی وو؛ خو دلوستلو وخت يې نه و، لمونځ قضاء کېدو بېخي ناوخته وه، جګ شوم زر زر مې اودس او لمونځ وکړل، خدای ج يې دې قبول کړي فکر او فام مې ټول مسېج کې و، چې څه به يې ويلي وي؟ لنډه دا چې مسيج مې راوسپړلو، زما دسلام په جواب راکولو پسې يې ليکلي و، البته لمړی يې يو دخفيفې مسکاه ستيکر لګولی و، وروسته يې پسې ليکلي و:

- زه ماشومه نه يم چې په دې خام دليل مې دې غلطه کړې، بل دا چې هغه ورځ هم ما کوم داسې عکسل عمل نه دی کړی چې تاته يا ستا شخصيت ته مې ذره تاوان اړولی وي، نه مې خپل مور او پلار ته وويل، نه مې ستا کورنۍ خبره کړه، صرف له دې وېرې چې سبا تر دې زيات جرات ونکړې د لوړو نفسي خوهشاتو لپاره زړه راښه نکړې، تمسلي قهر او غذب مې په څېره خواره کړل؛

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دروغو ژړا تور او ترپې مې وکړې. هغه هم ديوې لهذې لپاره يوازې ستا مخ کې.

خو اصلاً دا خبره نه ده، ستا چې په مياشتو، مياشتو رنګ الوتی يا دې زړه دربېدو، سترګې دې نشواى پورته کولی دخپلې بې شرمانه حملې او کړنې تر اثر لاندې دې راغلی وې د شرمه دې سترګې نشواى راپورته کولی، کنې له هغې ورځې راوروسته ان زما د مورکې تر مرګه ما ستا سترګو کې زما د مينې شفاف او تاز انځور ليدلو اما بدبختانه دې وروستيو کې په موږ کوم طوفانونه راغلل، نه يوازې دا چې جسمي؛ روحي، مالي تاوانونه يې راوړل، دکلي کور، سيالانو دوست او دښمن په وړاندې يې حيثيت رانه لوټ کړو. بلکې ستا له ديدګاه يې هم دومره کم اصله بې ارزښته کړم چې راتلونکې کې دژوند دملګرې په حيث راباندې شرمېږې له ماشومتوب نه تر دې دمه په ټوله مينه او هيلو مې خاورې اړوې لاړ جدا کوې، خو زما دې بيا هم دنور ټولو دردونو سربېره ددې ستر امتحان په وړاندې هم صبر خداى ج ته وې.

مسيج همدومره وه، که څه هم داسې واقعات يې وېلي و، لکه زما زړه چې ويني، خو بيا هم ما هڅه کوله د رد الفاظ ورته راپيداکړم؛ تر مابنامه مې ذهن ښه پرې سترى کړو، ولې له بدمرغه بيا هم منطقي يا تر يوې اندازې قناعت بخش الفاظ ذهن ته رانه غلل؛ بلخوا ددې فکر هم ډېر تېز و، په وړاندې يې ښه فولادي دليل ته اړتيا وه؛ همدا وجې وې چې ناکام شوم بلاخېره ببخي مې په مسيج ورکړلو خاشه واچوله، څو شپې ورځې تېرې شوې، دې هم بيا ځان پوه نکړو، نه يې مسيج وکړو نه يې زنګ ووهلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


زه هم حیران بریان وم، نه پوهېدم چې په څه کې به مې خیر وي، د مور صفتونو ته په کتو مدین خیلې نجلۍ ته مې هم زړه کېدو، هم مې ساړه کېدل، خو په هر صورت.

راځئ دلته به بیا یو قدم وړاندې ګام واچوم لنډ به ووایم بلاخېره د پنج شنبې ورځ راوسېده، مازدیګر و، د دریشۍ په منځلو اخته وم، ګړنګار شو، موبایل ته مې زنګ راغلو زر زر مې لاس په څنګ کې پرته خیرنه زېړ پېرانۍ وچ کړو، موبایل مې راویستلو، زنګ مې مور وهلی و؛ د اوکې سره سم مې سلام ورواچوه له لمړنیو پوښتنو، موښتنو وروسته یې وېل:

- زویه! ماما دې راورسېدو، خاله خو مې دې پرې نښوه تیاره دا یوه هفته همدلته ده، سبا پخیر مو زړه دی چې مدین خیلو ته ولاړ شو، دعا کوه.

- صحیح ده مورې، خدای ج دې خیر درپېښ کړي، کالي مینځم اوبه مې یخېږي بیا مو حوال اخلم ماما او خاله ته مې سلام وایه.

- وعلیکوم سلام؛ ځار زما نازولیه زویه! کاشکې ثوك درتللی دغه خیر کالي به دې رالېږلي و، پاك به مو درلېږلي و.

- نه مورې د یخنکال غاړه مې لږ خیرنه شوې وه، اسانه پاکېږي.

- ښا زویه! څه خدای ج دې مل شه!

مبایل قطعه شو؛ دخوشحالۍ تر څنګ د حیرانتیا او وېرې کچه مې هم ساعت په ساعت زیاتې ده. خلاصه شپه راغله دشپې هم همداسې کله به خوشحاله وم د نوځوانۍ او مستۍ جوش و، دواده غږ لکه په تږې فصل باران بلا خوندور

(c) ketabton.com: The Digital Library


لګېدو، کله به اندېښنو په مخه کړم، هسې نه مور مې پرې غلطه شوې وي، په داسې چا واوړم، ها د مشرانو خبره: چې پرتوګ په غاړه راوړم.

په همدې چورتو فکرو کې تر دوه بجو بستره کې اړخ په اړخ اوښتم خوب نه راتلو پس له دوه بجو ويده شوای وم، سهار داود غږ وکړو:

- جګ شه وخت دې لمانځه دی.

- ښا درجګېږم.

داود ولاړو زه بيا خوب وړی وم، يو وخت مې چې سترګې رارنې کړې آته بجې وې يو دوه هلکان نور هم ويده و، مصوير په غولي کړوپ و، خط يې ليکلو نور هلکان وتلي و؛ دجمعې ورځ وه، چا په چا کار نه لرلو، چېرته چکر ته تلل که استراحت يې کولو، دجمعې ورځ به دايم همداسې معاف وه، راکېناستم کميس مې واغوستلو، بېر وېښته مې په ګوتو خلال کړل؛ نور مې له چپرکټ نه پښې راوځړولې، د مخ او لاس مينځلو په پار تشناب ته روان شوم؛ په عيني روانېدو کې مې د مور شماره هم ور اوکې کړه، تر اطاق له وتلو سره سم يې زنګ تېر کړو، دهلېزه کې د دېوال خواته مې قدم ورسره ونيولو، تر څو زنګونو تېرولو وروسته ئې اوکې کړو، مبايل کې يې ډېر غورو، بر ځښنو پښ و، څو ځل مې غږ پرې وکړو:

- سلام عليکوم! بلې! بلې! هېلو! له ډېر ځنډ پس مې دمور غږ راغلو ويل يې:

- غږ دې نه اورم زويه! موټر کې يو مرجان کلا ته رارسېدلي يو.

- ښا ځئ خدای ج مو مل شه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


تليفون مې ورقطعه کړو، تشناب ته ننوتلم مخ او لاس مې پرې مينځل ويښتو ته مې د نم مساج ورکړو، واپس راووتلم.

څه سر مو خوږوم، ورځ د تېرې شپې غونډې د دوزخ او جنت تر منځ يعني خوشحالۍ او انديښنو په فکر کې تېره شوه، ماسښين مې مور ته بيا زنګ وکړو مبايل يې خاموش و؛ د ماما نمبر مې ونيولو دې هم زنګ تېر نکړو، سم دلاسه مې را فام شو چې هاخوا خو يوازې له سلام نورې مخابراتي شبکې کار نه کوي.

د شپې مې بيا زنګ ورته وکړو؛ زنګ ورنه غلو؛ پوه شوم چې شپه يې شوه

سهار اوه بجې مې هم دواړه شمارې داېرې کړې لا يې هم زنګ تېر نکړو.

تقريباً نهه بجې وې مور مې زنګ وکړو د اوکې سره سم مې سلام ور واچو، د سلام ځواب راکول سره پيوست يې په خوشحاله آواز ووېل:

– مبارك دې شه زويه! خدای ج دې بختور کړي داسې نجلۍ مې درته وکړه لکه د کوچو غونډارى. خاله دغو دې هم مبارکي وايي.

– خير يوسئ، مننه.

نور مې ورسره اوږده نه کړه څه دشرم احساس راته وشو دخبرو سور او تال مې ولاړو.

مور مې راغبرګه کړه:

– موټر کې يو چې کور ته ورسيدو بيا به غږېږو، اوس دې غږ هم سم نه آورم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


- ښا ځئ خدای ج مو مل شه.

تلفیون قطعه شو خو ددې کیسې په اورېدو یو عجیب او عریب حالت راباندې راغلو هېڅ داسې الفاظ ذهن ته نه راځي چې راټول یې کړم په مټ یې هغه حالت مې څه ناڅه درته وښایم، نه پوهېږم خوشحالي وه؛ خفګان و، لکه خوب چې وینم یا لکه د ټولې دنیا چرس مې چې څکولي وي، دباقر صیب خبره ښېخي په پنځم موسم کې ګرځېدم، خو خیر د وخت په تېرېدو سره کرار کرار خپل نرمال حالت ته راوګرځېدم، برقونه خراب و، مبایل چارج خلاص کړو، مازدیګر یا دشپې ونه تاونېدم چې د کور سره تماس ونیسم. سهار وختي ښه وه برقونه راغلل مبایل مې چارج ته کېښود چاې ماې مو چې وخوړلو، له لیلیه راوتلم کورته مې زنګ وکړو، مبایل مدینې پورته کړو، له سلام وروسته یې وېل:

- لالا واده دې مبارك، په دې مبایل کې پیسې خلاصې دي کنی مخکې مې زنګ درته کولو.

- خیر یوسې خورې ژوند! ستا دې هم مبارك وي، څه غورې دي کور؛ مور چېرته ده؟

- خیر یوسې، کور خیرو خیرت دی مور په وړه کوټه کې ویده ده.

- لکه چې دشپې یې ځان په دریالو (دریا) او آټهو ښه له ښو غوځولی؟

- نه د ریال مو ښېخې وهلی نه دی، پرون چې دوئ راورسېدل زه ورغلم په مرواء مې زیری وکړو، مرواء د برنډې په څنډه ناسته وه، ګیلاسونه یې مینځل چیغه

(c) ketabton.com: The Digital Library


يې وکړه لاندې راولوېده، رامنډه مې کړل مور مې خبره کړه واپس ټولو ور منډه کړل برنډې ته مو پورته کړه اوبه مو پرې واچوې سترګې يې را رڼې نکړې، ډېر وخت ووتلو جوړه نشو، بيا مو دا نور همسايګان هم پرې خبر کړل سليم کاکا يې موټر راويستلو مور مې هم ورسره ولاړه د ډنډ کلنيك ته يې يوړه، هلته ډاکترانو ورته وېلي و، چې عاجل يې کابل کې جمهوريت شيفاخانې ته ورسوئ، سليم کاکا دمرواء تره او ښځه يې کلينيك ته ورته راغوښتي و؛ مور مې وېل: چې راغلل داسې غوړمبدل کنځلې يې ورته کولې موټر ته يې واچوه يويې وړه، اوس احوال نه ترې لرو چې څنګه به شوې وي.

- نڅه، نڅه، خدای ج دې ښه کړي، بېچاره، ښه مو کړي چې د رياله مو نه دی وهلی، بد کار دی تر څو نه ده ښه شوې وېې نه وهئ.

- نه چېرې زموږ هم داسې زړونه پرې بد دي، د واده په خوشحالۍ بېخي پوه نشو.

- ددك يې څنګه دی؟

- د بېګاه ډوډۍ او سهار چای موږ ور وړل، ډوډۍ هم نشي خوړلی، خو ور وړو يې، وخت ناوخت پرې راګرځو څه يې چې پکار وي کمك ورسره کوو؛ بېچاره يو خو له ځای نه مريض و؛ بل اوس د مرواء غم داسې کړی چې هسې خدای ج ساه پکې چلوي.

- نڅه، نڅه الله ج يې دې مرسته وکړي، سړی څه ووايي؟

- آمين

(c) ketabton.com: The Digital Library


- ښا مقصد چې جوړ وئ، پوښتنه مې کوله، هو رښتيا خاله دغو شته که ولاړل؟

- شته بالاخانه کې چاى خوري، زه آشپز خانه کې يم.

- چې ورغلې سلام مې ورته وايه، ځه نور دې په خداى ج سپارم.

تماس مې ورقطعه کړو، راتاو شوم له پنجرې مې لمر ته غوړولى پتلون او يخنکاك راټول کړل، اطاق ته راغلم، د اطاق ملګري مې لا د واده په موضوع نه و خبر، او ما هم کوشش کولو تر څو کور ته نه يم تللى پيسې مې نه وي راوړې بايد خبر نشي، ځکه هر چا به چې واده وکړو هلکانو به ډېر تاواني کولو ساز به يې پرې راوستلو، يوه ښه درنده ميهماني به يې پرې کوله، ددې سربېره ځينو نازولو به په انفرادي ډول شيرني غوښته سړى به يې له حلالو خلاص کړو. دا خو خير خبر نه و، مګر د کلي له خوا هم هېڅ، کليوال، دوست، ملګري زنګ راته ونکړو مبارکي يې رانه کړه، که څه هم سترګې مې وې، خو دا ورځ او شپه هم تېر شول د چا زنګ مې ونه ليدو، دريشي مې واغوستله پوهنتون ته ولاړم، واپس چې له پوهنتون نه راغلم مور ته مې زنګ وکړو، د لمړي زنګ سره يې اوکې کړو، سلام مې ور واچولو پسې پيوست مې د کورنۍ د فرد فرد پوښتنه وکړه، برعکس دې هم د خپل صحت او آرامتيا د ډاډ راکولو، همداسې ما هم دځان له حال او احوال نه ډاډمنه کړه، بيا مې د مرواء پوښتنه ترې وکړه؛ مور مې فکر کولو چې دى به د مرواء له کيسې بېخي خبر نه وي، د مدينې د پرونيو خبرو په تکرار يې شروع وکړه؛ خبره کې يې ور ولويدم، غبږ مې پرې وکړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library


- پرون مدينې کيسه راته وکړه، اوس خبر ترې لرئ چې څنګه شوه؟

- کاکا او د کاکا ښځه يې سهار خپل کور ته ترې راغلي، مرواء يې خدايزده څه کړې؟ څوك وايي مړه شوې چېرته يې غورځولې، څوك وايي ضعف يې کړی و، په لارو ښه شوې وه، د کډو په کوچيانو يې خرڅه کړې دوئ ترې راغلي، څوك څه وايي، څوك څه وايي.

ورغبرګه مې کړه:

- هغه دکوټې خور به يې ورته راغلې وي؟

- نه د هغو نمبر راسره دی، دا اوس مې زنګ ورته کړی و، بېخي پرې خبره نه وه، ما هم خبره نکړه؛ ستا د واده مې ورته ووېل ډېره خوشحاله شو، وېل يې: چې درغلم له نژدې يې مبارکي کوم، خو اوس دې هم ډېره ډېره درته مبارك وي، خدای ج دې بختوره کړي.

- ولاعجيب دی، دا به يې نو څه کړې وي؟ کاکا يې رښتيا ډېر بې عقل سړی دی که يې وژلې وي، چېرته يې غورځولې وي، يا يې خرڅه کړې هم وي شك نشته.

- هو مور چې کلينك ته راوغښتلو هم لکه سپی داسې غوړمبېدو، هغه بېچاره ضعف وه په هېڅ هم نه خبرېده؛ خو څه به ووايم خدای ج يې دې جوړه کړي، په مور يې خپله ښادي پورې نه کړه.

- امين، ميلمانه څوك نشته؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


– نه څوك نشته ما خو هغه  ورځ درته ووېل كه دا نجلۍ مې درته وكړه خلك به له ډېره زوره وچوي، ودې ليدل تر اوسه هېڅوك مباركۍ ته نه دي راغلي حتا دا نژدې همسايګان مو هم ځان نه پوهوي.

– ماته هم هېڅا زنګ ونكړو.

– بلا دې پسې زوى به يې هلته مړ شي چې منى يې راناوې كړم دكور سپوږمۍ مې شي، زور به ولې نه وركوي؟ دټول كلي ناوې او پېغلې چې راغونډې كړې زما د اينګور د يوه نوك په ښايست او انسانيت  پسې نشي رسېدلی.

– خدايزده څه مې وېل خبره مې هېره شوه، هو ربښتيا دا ځل چې ورغلې وئ، څنګه رويش يې درسره وكړو، خفه كړي خو به يې نه وئ؟

– نه داسې قدردانه خلك و؛ دومره خدمتونه مو يې بيا وكړل؛ په هر څه كې مو يې ډېر لحاظ وكړو، ياد كې مې نه پاتې كېږي، څه يې چې راباندې اېښي كاغذ كې نوشته دي، چې راغلې پخير بيا به يې وګوري.

– نجلۍ دې وليده؟

– نه بېچاره بېخي خبره نشوه له هراته نه وه راغلې، زموږ تر راتلو وروسته به يې پلار زنګ ورته كړی وي.

– ښا مورې! مقصد چې ښه وئ، حال مې دې اخيستلو كه كوم خدمت نه وي؟ په الله ج دې سپارم

– خير يوسې زويه! په دې حال شكر دی، تا دې هم خدای ج جوړ لري، ځه خدای ج دې مل شه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


تماس مې ورقطعه کړو؛ دا ورځ او شپه هم تېر شول، مرواء ته مې سودا وه، سهار مې بیا کور ته زنګ وکړو، د مرواء برخلیك لا همغه سې نامعلوم و،

دا ځل مې دوې شپې صبر وکړو په دریم سهار مې بیا زنګ وکړو. لمړی ګوشي فریښتې پورته کړه، بیا یې مدینې ته ورکړه؛ له سلام کلام وروسته مې د مور پوښتنه ترې وکړه، وېل یې:

– سر یې خوږېدو بلاخانې ته وختله وېل یې: یو څو دقیقې مې آرام پرېږدئ.

– سر یې ولې خوږېدو؟

– پرون د مرواء پلار مړ و، کلیوالو تر مېنځلو وروسته؛ د مسجد سپاچې ته یوړو، ورور یې (دمرواء کاکا) هم ورته راغلی و، جنازه یې وکړه، سم دلاسه یې خښ کړو، نن سهار وختې یې هغه لېونی وراره راغلی و، دکور ټول کالي او سامانونه یې یوړل، په همدې یې زړه خوړین و، ځکه یې سر خوږېدو.

– افغف په دې خو ولا زما هم سخت زړه درد وکړو، خدای ج دې وبښې، خو دې لیوني ته مې بل شان قهر راغلو، اکلاً یو دری شپې خو به یې صبر کړی و.

– هغه د مرواء چرګانې دې لیدلې وې؟

– هو!

– په هغه وخت کې چې د کاکا زوی یې کالي وړل دواړه زموږ کره وې، اوس هم شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library


– ښنا، ښني دي چاته مه وايئ، کني که خبر شو، دا حراموني په دې پسې هم راځي، هر وخت چې مرواء خدای ج راپيدا کړه بيا به يې پخپل لاس ورته وسپارئ.

– ښنا!

– څه حوال يې نه دی معلوم شوی؟

– خلك هر، هر څه وايي خو صحيح حال يې نه دی معلوم.

– څوك څه نه وايي چې ولې داسې شوه؟

– ډېر وايي ملطين يې ځنبلي، ځينې وايي عصبي حمله پرې راغلې، ملطين خو يې نه دي ځنبلي چې ولوېده زه ورته ولاړه وم، عصبي حمله که پرې راغلې وي، وي به، دمور له مرګ راهسې يې ډېره خپه وه.

– ښنا خورې! خدای ج يې دې کمك وکړي مور به څه وکړو؟ مور ته مې سلام کوه، زمور چای لکه چې تيار دی، نوکري وال خو چيغې وهي.

– ښنا، ښنا ځه خدای دې مل شه!

– ستاسره!

موبايل مې راقطعه کړو، د مرواء دغو په داسې له پلوه دسر او مال ورکه مې واقعاً طبعت خراب شو. مور او پلار يې هم په هر صورت وخت پرې تېر و، صعيفه و، مريضان و، مګر د مرواء پيښه او نامعلومه سرنويشت رښتيا زيات خواشينونکی و، هېڅ مې له ذهن نه، نه وتله.

(c) ketabton.com: The Digital Library


لنډه يې دا چې هر يوه ورځ پس مې يې پوښتنه کوله، ان تر دې چې يوه يونيمه مياشت تېره شوه، لا يې هم درك معلوم نشو؛ د پلار له مرګ نه يې پنځلس ورځې وروسته مشره خور راغلې وه دمور له ګفتې مې چې کيسه يې راته وکړه.

خور يې چې د مرواء له کيسې او پلار دمرګ نه خبره شوه، د کاکا د دروازې مخ کې يې سپېرې خاورې په سر باده وې، په چيغو چيغو يې ژړل وېل يې: ظالمه زه خو به دې خبره کړې وم؛ اوس يې راوښيه مرواء دې څه کړه، مړه ده که ژوندۍ؟ کاکا يې له دوه دريو څپړو وهلو سربېره په ډېره قهرجنه غذبناکه لهجه صرف دومره ورته ويلي وه:

- رنډۍ شی وه، چېرته به مرداره وي، خدايزده څه(......) يې خوړلي و، اوس دې هم مور خير يوسو چې تر جمهوريت شيفاخانې مو ورسوله، شيفاخانه کې تر يو وخته ډاکتران ترې تاو و په هوش رانغله، وروسته يې

امبولانس کې واچوله دوې ډاکترې ورسره وختلې، خدايزده چېرته يې يوړه، دسالم مور (ښځې) ته مې وېل:

- راځه چې ځو، ولا له ځان نه شرمېږم چې ددې فاحشې ژوند ژغورو، شيفاخانې ته مو راوړې، سبا به ددې له رويه په مور آسمان راولوېږي په مخه ترې راغلو.

دهمدې ځواب په ورکولو يې د مرواء خور دښېرو، الکو سره په سلګيو سلګيو، نااميده، د پوچ او سپکو پسې په وېلو له خپل وربوی نه رخصت کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


خو په هر حال چې کیسه اوږده نشي راځم خپلې مخکنۍ خبرې ته، امتحانو ته کم وخت پاتې و، بلاخېر د څو ورځو په تېردو سره امتحانونه شروع شول، تدرسۍ ته به په اته بجو ورتللو خو تر څو به استاذ راتلو امتحان به يې اخیستو نهه نیمې، لس بجې به شوې، په همدې ترتیب دریم امتحان و، په اته بجو تدریسۍ ته ورسېدم استاذ نه و راغلی واپس راووتلم استاذ ته په انتظار دپوهنتو تر مخ پارك کې دې یوې ناجو تر ونه لاندې په چوکۍ کیناستم، یوه لاس کې مې دخپل دیمي عادت سره سم سرې غټې غټې تذبح اړولې، بل لاس مې پکې د کلوله کړې چپتر سره د ګونډې په سر اېښی و، خدایزده په کوم فکر کې تللی وم.

تقریباً لس دقیقې به مې وتلې وې، چې یو ناشناخته ډنګر جګ ښایستوکی؛ نرۍ ګیرې، غټو غټو سترګو تورو ښکلو ویښتو لرونکی ځوان مې په طرف راروان و، له را رسېدو سره سم يې سلام وچو؛ دسلام ځواب ورکولو سره جوخت جګ شوم دستړې مشي په پار مو لاسونه سره ورکړل، له لهجې يې پوه شوم چې وردګ خو دی، دپښتانو دودیزه دوهم ځلې ښه يې؟ جوړ يې؟ پخیر يې؟ مو سره وکړل، پسې پیوست يې وویل:

- خدای ج دې وکړي چې غلط شوی نه وم؛ اکبر يې د (......) کلي؟

- هو وروره همداسې ده، او ته؟

زما دپوښتنې په ځواب يې ځان تېر کړو خپل نوم يې ونه وېل زیاته يې کړه:

- باور وکړه دا مې څلورمه شپه ده چې مزار کې مسافرانه شپې کوم، او هره ورځ پوهنتون ته راځم نه دې شم پیداکولی، خوشبختانه نن مې چې پوښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library


وکړه هغه دروازه کې له غونډو هلکانو یوه وېل: هغه تر ونه لاندې چې ناست دی، همغه وردګ اکبر دی.

- ښا ډېر ښه کينه په دې چوکۍ!

هلك مې راسته لاس ته په چوکۍ کېناستو د څه ځنګونو په تاوېدو یو بل ته سره مخامخ شو. هلك پوښتنه وکړه د درسو سره دې څه حال دی؟

- شکر دی ښه دي!

سړی تعليم يافته معلومېدو، دمجلس په حيث يې د مزار پوهنتون، استاذانو، دپښتانو او فارسي زبانو تر منځ دتوپيري چلند په اړه يې ښې په ځای څو پوښتنې وکړې.

خو دا چې هلك مې نه پېژندو، هغه د چا خبره دومره پۍ مې نشوای ور سره پرېښولی، په لنډو، لنډو ځوابيه الفاظو مې يې پوښتنې ورځوابولې.

له خبرو مې پوه شو چې هسې ځان رانه خلاصوي، غواړي لمړی مې وپېژني. بلاخېره وېل يې:

- ښا وروره! رابه شو اصلي خبرې ته، اما خبره مې شايد ظاهراً ډېر بد رنګ ولري، خو تر اوسه سرې وخت دی پرې غرېدل د دواړو په پايده دي، که همداسې يې پرېږدو تر بدو بتر کېږي، همدا وجه ده چې تر دې ځايه راغلی يم، ستا دپيداکولو په لټه دا درې شپې هوټلو کې پروت يم، ديو هوښيار باتعليمه ښکلي ځوان په حيث هيله درنه کوم چې درك مې کړې، دخبرې په

(c) ketabton.com: The Digital Library


مقابل کې مې احساساتي برخورد راسره ونکړې، خیر که اوس نه وي، وروسته له دوه دریو ورځو په هر اړخ یې تر ښه فکر کولو په آرام ذهن ځواب راکړه.

- خیرت دی؟

- تقریباً یوه نیمه میاشت مخکې دې چې مدین خېلو کې دکومې نجلۍ سره واده وکړو؛ هغه نجلۍ زما کلیواله ده، دکلیوالۍ سربېره له کالونو راهسې د دواړو خورا مینه ده، کومه ورځ چې تاسو جوړ جاړي ته ورغلي وئ، دا کور کې نه وه، کني ددې کار مخه یې نیوله، جیب ته یې لاس کړو، یو غټ موبایل یې راویستلو دیوې ډېرې ښایسته ځنورۍ نجلۍ تصویرونه یې په صفحه راوستل وېل یې: دغه یې تصویرونه دي، که باور دې نه کېږي زنګ به ورته ووهم خپله ورسره وغږېږه، زه تنها نه بلکې ددې سره په مشوره راغلی یم، له دې سربېر مدین خیلو کې چې له هر چا پوښتنه وکړې زموږ په مینه خبر دي، حتا زموږ او نجلۍ تر کورنۍ پورې، خو له بدمرغه ان دنیکونو وخت کې مو دکورنیو تر منځ کوم مخالفت رامنځ ته شوای، پلار یې نن همغو ته په کتو دا کار زما او نجلۍ تر خبرېدو پرته کړی و، کني زه خپله د کندهار پوهنتون ادبیاتو پوهنځۍ د اخېر کال محصیل یم؛ همدې ته منتظر و، له فراغت وروسته مو د واده پریکړه کړې وه.

پسې اوږده یې کړه:

ستاسو هم انتحانونه دي، کوشش کوم ډېر وخت دې ونه نیسم، په اخېر کې به صرف دومره درته ووایم، چې جنګ ته نیم راغلی وزر درته کوم زاریځ درته کوم زنه دې نیسم زما مینه راپرېږده، هر څومره مصارف دې چې پرې شوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library


په سر سترګو ټول درکوم، نور خو نجيني کمې نه دي بيا ستا په شان ځوان لپاره که اختيار راکړې ولاهې په ضرب ديوه هفته کې داسې واده درته وکړم چې زړه دې غوړي، رښتيا دا به هم درته ووايم: خپله يو خور لرم دقرانکريم حافظه ده، نور به هم انشاءالله تر هېڅ نجلۍ کمه نه وي، کولی شې څوك راولېږې که خوښه مو شوه، په سر سترګو؛ البته دا په دې معنا هم نه ده چې زه يې د خپلې مينې قرباني کوم، نه

اسغفرالله، په مونږ د خپل انسانيت له مخې ډېره ګرانه ده، ولې واده کولو ته دهر ځوان هلك او نجلۍ مخه ده، دا چې مخه يې ده بيا نو ديوې نجلۍ لپاره ستا غوندې ښايسته او باتعليمه ځوان پيداکول هم طلايي چانس دی، باوري يم چې خور به مې هم په تېر ژوند کې ورسره کړې مينې، اخلاص او صداقت ته په کتو زما پرېکړې ته لبيك ووايي.

له دې خبرې وروسته هلك ماته د نوبت راکولو په پار دمه ونيوله؛ خو دا چې يو ناڅاپه ددې عجيبې غريبې کيسې په اورېدو زما حال يو خدای ج ليدلو؛ لکه لاس او پښو کې مې چې ساه نه وي، يو قسم ساړه او مړه پړه و، دخبرو کولو تاب خو بېخي نه و راپاتې او بل دا چې ويلی مې ښا نو څه به مې وېل؟ خو په هر حال صرف دومره مې ورته ووېل:

– ته له دې عکسو يو دوه زما موبايل ته راولېږه چې همدا نجلۍ ده کنه؟ نور به بيا غږېږو!

– ښا صحيح ده، زاپيا لرې؟

– هو!

(c) ketabton.com: The Digital Library


عکسونه یې راولېږل، بیا یې وویل:

- دموبایل شماره دې راکوې؟

شماره مې ورکړه، په همدې وخت کې مې موبایل ته زنګ راغلو، چې کټل مې پروان و، ویل یې:

- چېرته یې راځه استاذ راغلو نور یې موبایل ورقطعه کړو، له چوکۍ دجګېدو په حالت کې هلك بیا مخ راوړو ویل یې:

- ښښنه غواړم، خپه نشې پوهېږم چې دا وخت ددې خبرې نه و، ځکه ستا امتحانونه دي، خو زما هم کلك مجبوریت و، قسم ده که ځمکه ځای راکوي، بل خوا کېدی شي ستاسو مصارف هم ورځ تر بلې زیات شوای وای، ولې اخېر کې بیا هم درته وایم فکر دې مه بېځایه کوه، خپلو امتحانو ته دې متوجې اوسه خدای ج به هر څه سم کړي ځینې وخت په شر کې دسړي خیر وي. نور دې وخت نه نیسم وروکه! ځه ورشه د امتحان صحنې ته دې، د خدای پامانۍ په پار یې لاس راته ونیولو؛ لاس مې ورکړو دلاس ورکولو په جریان کې مې ورته وویل: که زنګ دې کولو پنځلس ورځې وروسته یې وکړه چې زه کور ته ولاړ شم.

- په سترګو!

نور هلك هسې او زه داسې دامتحان صحنې ته روان شوم، دپارك په چمن کې مې چې قدمونه اېښول داسې احساس مې کولو لکه په ختټه کې چې روان یم تر ګونډو ګونډو مې پښې پکې ننوځي، وزن مې بېخي زیات راته ښکارېدو،

(c) ketabton.com: The Digital Library


دسترګو تر مخ مې يو قسم هفت رنګ سپرغي تاوېدل، لنډه دا چې د امتحان صحنې ته مې ځان ورسوه، د دسمال له پاسه د اوږدې برنډې په څنډه کېناستم په کاغذي پارچه کې د خپل نوم او ولد په ليکلو مې پيل وکړو، نور مې وليکله دا رانه هېر شول چې دکوم مضمون امتحان دى، په داسې حال کې چې ټوله شپه مې مطالعه کړى هم و، بلاخير ځاى مې يې سپين پرېښود، استاذ سوالونه شروع کړل، سوالونه مې نيم او نيمکله واخيستل د استاذ د امر سره سم مو يې په حلولو شروع وکړه، سر مې ببخي کار نه کولو خدايزده څه شى مې پکې ور وليکل کوم سوال به مې سم حل کړى وي، کنه؟ دوهم نفر زه وم چې استاذ ته مې پارچه ورکړه، لکه پوډري ړنګو بنك د ليليه په لور راوان شوم، په لارو مې بار بار زړه کې راتاو شول، کاشکې څمکه چاودلې واى غوټ پرې ننوتلى واى، خلاصه ليليه ته ورسېدم؛ تر طعام خورۍ خو همداسې تېر شوم ډوډۍ مې زړه ته نه کېده، اما مخکې له دې چې د دريم منزل زينو ته ځان برابر کړم، لمړي منزل کې له مخامخ اطاق نه هلکانو وليدم، طالب رامنډه کړل تر مټ يې ونيولمه دخپل اطاق په لور يې کې کاږمه، چې کتل مې باچا رباب په غېږ کې ايښى و، هلکان ور تاو و، په نوبت يې ټپې سره ويلې، طالب ته مې هر څو وويل:

– خوشې مې کړه مريض يم، خو وايې نه منه باچا ته ور تاو هلکانو ته يې ور وستلم، الهام او ميراحمد تر خپل ميخ ځاى راکړو په کې کېناستم، که څه هم ډېر بنه بنډار و، باچا خوندور رباب غږولو خو زما له ننې خراب طبعت سره يې هيڅ نه خوړل، ولې دوئ زما له زړه څه خبر و مجبور وم يو څه ووايم، په لمړي نوبت کې لاندې ټپې خولې ته راغله:

(c) ketabton.com: The Digital Library


(پرېږده چې خړ سيلاب مې يوسي «»«»«» زه د اشنا روغې راستۍ وهلې يمه)

دوهم نوبت کې:

( ځوك مې له حاله خبر نه دي «»«»«» لکه غنم دزړه په سر چاودلې يمه)

نور مې ترې رامنډه کړل طالبي ډېرې منګولې راپسې واچولې ښه و ګير يې نکړم خپل اطاق ته راغلم دچپرکټ پرده مې راپسې راټيټه کړه اوږد وغځېدم کوشش مې کولو چې ويده شم، که دا عصاب مې لږ آرام شي، خو خوب له کومه شو يو ساعت اړخ په اړخ شوم بلاخېره راجګ شوم موبايل کې مې د صدف تصويرونه را واړل ښه په ځير ځير مې وکتل، رښتيا هم لکه څنګه مې چې مور ويلي و، د ظاهري ښکلا له لهاذ تا به وېل چې د کوم هند فلم نجلۍ ده.

خو په هر راز موبايل مې واپس دبالښت تر څنګ کېښود؛ د سبا ورځې د امتحان چپتر مې راکش کړو خو لهذې مې يې پاڼې هاخوا دې خوا واړولې، چون فکر مې نه پرې کېناستلو، هيسته مې دکتابو سر ته ورخطا کړو، لنډه دا چې درې څلور ورځې مې ښځي وضعيت خراب و، پس له څلورو ورځو څه ښه شوم کني خاصه خونده مې نه وه، ان تر دې چې سبا ته مو اخيري امتحان و، مازديګر مې مور زنګ ووهلو پسې پيوست مو پوښتنه مښتنه وکړه له پوښتنې وروسته يې وېل:

– دا څو شپې مې سر په سر داسې بد خوبونه ليدل، موبايل کې مې پيسې نه وې تا هم زنګ نه وهلو مړ، مړ مې تر سترګو کېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


- نه مورې ژوندی یم کاشکې مړ وای!

- څه دې وویل؟

- شکر دی ماویل ښه یم، سبا مو اخیر امتحان دی بله ورځ پخیر که ژوند و، درځم.

- ښا زویه! پخیر راشې خومره ښه زیری دې وکړو.

- مننه مورې آمین! څه غورې دې اینګور ته دې کوم زنګ مګ نه دی وهلی؟

- نه زویه! اوس یې موبایل د څنه کړو، چې ته راغلې پخیر پوښ (جوړه) مو اخیستله یو د برابرې بیه موبایل به هم ورته واخلو. په خندا یې پسې زیاته کړه بیا به غورې ورسره کوې ساعت به دې تېر وي.

همچنان په خندا مې ورغبرګه کړه:

- سمه ده مورې! نورې څه غورې دې، د مرواء څه معلومات ونه شو!

- نه زویه! څه وخت مخکې یې مشره خور راغلې وه، هغه کیسه خو مې درته وکړه چې د تره په دروازه کې یې ژړل په سر یې خاورې بادولې؟ تره یې ورته وېل: چې په شېفاخانه کې مو همغه شان بې حاله پرېښوده مورږ ترې راغلو.

- هو! هغه کیسه دې وکړه نوی څه احوال یې نه دی معلوم شوی؟

- نه، نه خلك دخپلو ګېډو غربږې خوك وایي وژلې یې ده، خوك وایي ژوندۍ ده خوك څه وایی، خوك څه وایي صحیح حال یې نه دی معلوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


– ښا موري مقصد چې ښه وئ، که کوم خدمت نه وي، په خدای ج دې سپارم نور به بيا له نژدې غږېږو.

– ستاسره څه زويه! خدای ج دې مل شه، ښه شو چې غږ مې دې واورېدو، داسې مې درته سودا وه.

تماس مو قطعه کړو، له دې نوې د شرمه، درده، او خپګان نه ډکې کيسې نه مې خبره نکړه، ماويل هسې نه سکته وکړي بيا به له نژدې ورسره وغږېږم تصويرونه به هم ورته وښايم چې همدا نجلۍ ده، کنه؟

خلاصه شپه تېره شوه، سبا له چای خوړلو پس د امتحان صحنې ته ولاړم تر امتحان ورکولو وروسته واپس ليليه ته راغلم په کاليو ماليو ټولولو مې پېل وکړو، چيتر کتابونه او کتابچې مې د بيك بېخ کې کېښودې له پاسه مې لباسونه پرې ور واچول، سهار وختي له لمانځه وروسته مې د ملګرو سره خدای پاماني وکړه بيك مې اوږې ته راوچو د کابل سه سدوسې موټرو اډې ته راغلم دمخې موټر ته وروختلم د ډرېور له چوکۍ نه درې څلور چوکۍ وروسته يو ځوان راته تر خپل څنګ خالي چوکۍ ته په سترګو اشاره وکړه، زه هم ورغلم مننه مې ترې وکړه ورسره کېناستم، د څو دقيقو په لړ کې موټر ډك شو ډرېور کلي پکې تاو کړه چالانډ يې کړو، په شاه کې يوه ګيره ور سپينږيري غږ وکړو!

– دعا دخير!

موټر کې ناستو خلکو لاسونه پورته کړل شونډې يې وپسيدې دعا مو وکړه موټر حرکت وکړو، د مزار له ښاره چې ووتلو ډرېور ټيپ ته پيته ور واچوله اوس رانه حېر دی خو ديوې ښځينه سندرغاړې په غږ داسې څه سندره و (او

(c) ketabton.com: The Digital Library


په سالنګ در واوښتمه، دمزار سپینه کفتره یم) نور یې هم څه پسې وېل، خو که په ټول کې ووایم نظر د مزار او سالنګ تر منځ زموږ سفر ته په کتو بل شان چسپېدله هغه دچا خبره ددنیا غمونه مې یې لرې کړل او ډېرور هم داسې پېښه ورکړې وه، تا به وېل چې الوتله کې سواره یو، که څه هم ماته یې خوند راکولو خو له شانه څو ځل غږ پرې وشو

- استاذه! احتیات کوه خیر څو دقیقې دې پس ورسېږو.

استاذ به مسك شو کمنما کې به یې د سر په ښورولو سره د اوکې اشاره ورکړه. مګر نور یې خپل کار کولو همغه سې را الوتو لوی او واړه موټر یې لاندې کول. خو په هر صورت هسې نه خسته مو کړم د سفر تر کیسه به راتېر شم، شاوخوا دولس، بجې یې دکابل ښار په شمالي برخه (سرای شمالي) کې برېك ووهلو، راښکته شو، د کوټسنګي موټرو ته راغلم، په یوه تونس کې راوختلم کوټسنګي ته له رسېدلو سره سم دکمپنۍ موټر ته وختلم کمپنۍ ته تر رسېدو وروسته زموږ سیمیزې اډې ته ولاړم له لرې مې په صادق استاذ سترګې ولګېدې، خنګ ته یې ورغلم سلام مې ور واچو چې مخ یې راواړولو هسې دوې ګوتې یې راته ونیولې، ډېره بې خونده ستړې مشې یې راسره وکړه؛ خو خیر دومره یې کیسه کې نشوم ځان سره مې ووېل: مشر سړی دی په څه شي به یې طبعیت خراب وي، ورغبرګه مې کړه موټر کې ځای شته؟

- هو یو نفر کم دی ورتاو شه دروازه راخلاصه کړه هغه شاه سېټ ته واوړه!

د استاذ د روهنمایۍ سره سم د موټر له پوزې راتاو شوم دروازه مې خلاصه کړه چې کتل مې موټر مو له کلیوالو ډك و، سلام مې ورواچوه په یوه ټیټ اواز

(c) ketabton.com: The Digital Library


مې دسلام ځواب واورېدو بیا مې دروازې ته نژدې کسانو ته دسترې مشي په پار لاس ونیولو، چا ته چې لاس نه رسېدو څپړه مې ورته پورته کړه، خو برعکس د کلیوالو برخورد ډېر بې رنګه وه، یعني هسې مې مجبور کړل کني دوی شاید هېڅ سترې مشي نه وای راسره کړې، زړه خو مې له ځای نه خوړین و، ددې خلکو دې چلند بېخي خراب کړم، او هېڅ پوهېږم هم نه چې دا ولې؟خو هر څه چې و، مقصد موټر حرکت وکړو په لارو مو کلیوالو خپلو منځونو کې مجلس سره کولو له ما سره تر اخېره چا بنګ ونکړو، ان تر دې چې کلي کې له موټر نه ښکته شو خلکو یو بل ته ساعت کولو (راځه ماسره ولاړ شه)، (پاتې شه شپه موږ سره وکړه) ولې ماته غږ څه حتا کتل هم چانه چې ما ساعت ورته کړی وای؛ خلاصه خلك لور په لور تیت شول، زه هم د خپل کور په لور را روان شوم؛ کور ته نارسیده مې د مرواء دغو په دروازه پراته لوی قلپ سترګې ولګېدې، دې قلف مې د زخمي زړه په زخمو لا مالګې و دوړولې، د مستو څړیکو وهونکي زړه سره خپل کور ته ننوتلم فرینښته همدا د دروازې تر شاه تش (لګن) ته ناسته وه، کالي یې مینځل راجګه شوه، سترې مشي مو وکړه د بیك بند یې ور ونیولو غوښتل یې رانه وایې خلي غږ مې پرې وکړو:

– پربږده درونډ دی ته یې نشي وړلی، امم دا خلته درسره واخله.

یوه کیلو غوښه، لږ ترکاري مرکاري پکې وه، دا خلته مې یې له لاسه واخیستله تر مخ مې یې منډه کړل په نور کور یې زېری وکړو؛ د دهلېزه وره کې مدینه هم په مخ راغله تر څو مې له دې سره سترې مشي کوله مور مې هم راورسېده سلام مې ور واچو سترې مشي مو وکړه پسې اتاق ته ننوتلو ترموز تیار له چایو ډك و، فرینښتې ګیلاس ترې را ډك کړو شیرین داني مې یې تر

(c) ketabton.com: The Digital Library


مخ کېښوده، چې مخامخ دېوال ته مې فام شو، زموږ د محلې دود سره سم، په سپین غټ خامکي جوړ شوي دسمال له پاسه د رنګ رنګ مریو ستن (څونډۍ) راځوړند ده، او همداسې د ستنې له پاسه یو څلور پنځه د افغانیو سدیان یو څو پینجایان بند و، یو ځنګ او بل ځنګ ته یې په تار کې د پیلو لونګو لاړونه په داسې حال کې چې د څو، څو لونګو تر منځ یوه؛ یوه غټه، غټه ککوي چاکلیت هم پیل شوې وه، را زنګېدل. له دې مخکې به مې له مشرانو کله ناکله اورېدل چې وېل به یې: پلانکې ته، یا پلانکۍ پېښې ته مې له درده خندا راغله ماته به یې دا خبره عجیب ښکاره شوه زړه کې به مې وېل: چې د درده کله چاته خندا ورځي؟ باور وکړئ ددې ستنې په لیدو باندې ما ته هم د زړه د درد خندا راغله، دهغه مشرانو خبره مې نیغه سترګو ته ودرېده، خو په هر حال ځان مې هسې او داسې غلط کړو دچایو ګلاس مې راپورته کړو یو غوړپ مې ورکړو، بیا مې مور ته سترګې ور واړولې ومې وېل:

– د مرواء څه حال نه دی معلوم شوی؟

– نه زویه! خدایزده بېچاره دکومو بلاو خوراك شوه؛ له دې خبرې وروسته یې سترګې را ډکې شوې په ژړاغوني آواز یې پسې زیاته کړه، دخوارانو داسې بېخ او بوټی ورك شو ډېر مې زړه پرې بد دی، چې سرای (حویلۍ) ته یې کله کله ور وګورم له یو دوه سپینو کاغذونو پرته چې باد یې پکې رغړوي، رارغړوي نور هېڅ نشته، پردې یې هم ظالمانو ترې خلاصې کړې د اتاقو منځونه یې له کړکیو تور، تور معلومېږي د سړي وهم ترې وشي.

– افف سړی څه ووایي مورې! زما خپله ډېر زړه پرې بد دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


نور مې مور مجلس راپرېښود دخپلو اوښکو په وچولو شوه، ما مې ګیلاس را جګ کړو یو ښه غوړپ مې بیا ورکړو، د څو لهذو لپار خاموشي خوره شوه خبرې بندې شوې له اخیري غوړپ کولو وروسته مې چې ګیلاس په ځمکه کېښود مور مې ترموز ته لاس کړو، دګیلاس له پاسه مې لاس کېښود ومې وېل:

- بس دی نور نه څښنم!

- داسې ښه چای دی وڅښه چې دمه دې جوړه شي، موټرو به خسته کړی یې؟

- دمه مې جوړه  شوه بس دی نه یې شم څښنلی!

- ښا زویه! خوښه دې، د چا موټر کې راغلې له کابله؟

- دصادق استاذ سره راغلم خو نه پوهېږم چې څه کیسه و، په اډه کې مې چې سترې مشي ورسره کوله هسې دوې ګوتې یې راته ونیولې، په پوزو کې وبنګېدو هغه اخلاق یې نه و، موټر ته چې وختلم بادم ګل؛ حاجي روزي خان، پشم ګل، ډاکتر وحید، معلم صبور، او سورګل پکې ناست و، دې هم همداسې عمل راسره وکړو، هسې ما لاس ورته ونیولو مجبور شول زړه نا زړه سترې مشي یې راسره وکړه، له همغه سترې مشي پرته بیا تر دې ځایه یوه هم بنګ راسره ونکړو.

- بلا دې پسې کیسه کې یې مه کېږه زویه! زما او خویندو سره دې هم دکلي یوه ښځه نه غږېږي، واده دې زور ورکړی ما خو مخکې درته ووېل: چې که دا

(c) ketabton.com: The Digital Library


نجلۍ مې درته وکړه ډېر به وچوي داسې چیټې نجلۍ مې نه ده درته کړې ته به وايې: چې په ګوتو دې جوړه کړې.

– عجیب دی یو نه، دوه نه ټول کلي، مورې خو دچا سره بد هم نه دي کړي دا خلك بیا ولې دومره راباندې نیت بدي دي؟

– امـمم ته صبر ښځه به دې ووینې زور به ولې نه ورکوي؟ هغه ورځ مې هم درته ووېل: چې دټول کلي پیغلې او ناوې چې راټولې کړې ستا دښځې په یوه نوك پسې نشي رسېدلی.

– ته وايې: چې همدا خبره ده؟

– نور مو نو څه دچا پلار وروژلی؟ خود!

جیب ته مې لاس کړو موبایل مې راویستلو مزار کې له مدین خیلي هلك نه رالیږلي دهغه نجلۍ (صدف) تصویرونه مې په صفحه راوستل مور ته مې وېل:

– دا پېژنې؟

د مور چې سترګې پرې ولګېدې په خندا شوه؛ جوړه لاسونه یې جګ کړل دګونډو له پاسه یې په شړك ووهل وروسته یې د الاااا په لوړ آواز نارې سره مدینې ته مخ ور واړو وېل یې:

– ما خو دومره نه پکې ګڼله بې شرمه بیا ځان ور رسولی عکسونه یې پرې اخیستي؛ توبه څه بې حیا زمانه راغله!

(c) ketabton.com: The Digital Library


مدینه هم راکږه شوه دتصویر په لیدلو سره یې وېل:

- واااا دا خو رښتیا داسې ښه شی ده

مور مې ورغبرګه کړه:

- تاته لکه چې زما خبرې ټوکې ښکارېدې؟ ښه ورته وګوره د کلیوالو به دې ولې زوی نه مري؟

د مور او خور ترمنځ ددې خبرو په آورېدو سره مې داسې احساس کولو لکه د سر وزن مې چې شل منه وي، غږ مې پرې وکړو:

- تاسو اوتې بوتې پرېږدئ کیسې ته غوږ شئ!

مور مې خوشحالوکې سترګې راوړولې ددې هیله وه، چې اوس به د نجلۍ سره د تماس او لیدو کیسه وکړې، خور مې هم په همدې امید حیا کې نغښتې خامې مسکا سره را څکه شوه، خلاصه کیسه مې ورته شروع کړله:

- داسې مزار کې دپوهنتون تر مخ پارك کې ناست وم، یو ناشناخته ځوان راغلو...

بلاخېره ټوله کیسه مې ورته وکړه، مور مې تندي ته په ټول فشار شرك ورکړو دمخ کاسه یې توره او شنه شوه، خوله یې خلاصه نیولې وه، نور یې خندا او ژړا نه معلومېدل زبون وهلې شوه. خور هاخوا ختلې ختلې له اوښکو ډکې سترګې هیجاني ناسته وه. څو دقیقې وروسته مې د مور له خولې په ډیم او پول جګ آواز غږ راووتلو وېل یې:

(c) ketabton.com: The Digital Library


- دسمال مې راکړئ چې سر مې وچودو، مدینه جګه شوه له اتاق نه ووتله په منډه واپس راغله له هغه پخوانیو زېړ او سرو مبارك دسمالونه یې یو لوی دسمال لاس کې رانیولی و، کلك کلك یې تر سر ور وپېچلو شا طرفه ته یې ور غوټه (ګنډه) کړو له دې وروسته مې مور خپلې ځنګلې په ګونډو تکیه کړې د دوارو لاسو جوړه ورغوي یې په تندي کېښول د ورمېږ په را کړولو سره یې سر په لپه کې ونیولو، د درد له زوره یې یو نیم په په ټیټ غږ زګېروی کولو. مجلس مو دخاموشۍ جامې واغوستلې، که څه هم د کیسې مې وروستۍ څو خبرې پاتې شوې، خو مور ته د اورېدو تاب نه و، ورپاتې وضعیت یې بېخي خراب شو، ماښام و جګ شوم لمونځ مې وکړو لماخستن بیا سره راټول شو، دمور وضعیت لا ښه نه و، په دسمال تړلی سر لکه میم (م) په ځان راټوله پرته وه، ډبل زمیستاني ځادر یې په پښو اچولی و؛ مدینه او فرېښته هم لکه ترېدلې هوسۍ یا لکه یخ یې چې کېږي، په مخونو یې د پوستکي میده سره وښته ببر ببر ولاړ و، سترګو کې یې د وېرې، غم، او خلکو نه د شرم دریابونو ځپې وهلې، نوراني مخونو یې یوقسم سپېره رنګ خپل کړی و. خاموشه خاموشي وه، لا هم د خبرو کولو ،آورېدلو تاوان او حوصیله چا کې نه وه، ډوډۍ موډۍ مو، په پټو خولو سره وخوړله، له یو ګیلاس چای څښلو وروسته مې په مدینه غږ وکړو:

- زما کټ کې خو به مو کالي نه وي ټول کړي؟ ویده کېږم.

- نه کالی نشته پکې، ته صبر زه دې بستره درته هواره کړم.

څو لهذې وروسته یې غږ راوکړو:

(c) ketabton.com: The Digital Library


- راځه!

په جګېدو کې مې په مور غږ وکړو:

- څنګه شو سر دې، که ښه نه وي، زما بيګ کې پراستامول ګولۍ شته يوه وخوره ترې.

غږ يې راته ونکړو خدايزده چې وايې نه وربدل که ويده و.

دوهم ځل ما هم غږ په ونکړو؛ که ويده وي، چې ويښه نشي ښه ده.

له اطاق نه راووتلم کټ کې مې وغځېدم: اګر چې بلا چورتونه، فکرونه راسره مل و، اما د اوږده سفر، موټړو جسمي او روحي ستړيا مې په انديښنو برلاسې شو، د څو لهذو په تېرېدو سره ويده شواى وم، يو وخت مې چې سترګې رالوخې کړې سهار و، راجګ شوم اودس او لمونځ مې وکړل، واپس ولاړم کټ کې مې پرېوتم، موبايل کې مې ګوتې وهلې څه وخت وروسته فرېښتې غږ راوکړو:

- لالا راځه چاى تيار دى.

پسې ور روان شوم چې کتل مې مور مې مخامخ د ېوال ته ناسته وه، تر مخ يې په هوار پلاستکي سور بخونده دسترخوان څېر، څېرږ ډوډۍ هاخوا د ېخوا کوله، مدينې ګيلاسونو کې بوره اچوله، په ور نژدې کېدلو سره مې سلام ور واچولو پسې پيوسته مې په مور غږ وکړو:

- څنګه دى سر دې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


- اوس خو شکر ښه دی؛ دروند دی، خو خوږېږي نه.

- څه خدای ج مهربانه دی چې دومره شو نور به هم ښه شي.

په چای څښلو مو شروع وکړه، تقریباً نیمایي ته مو رسولی و، چې مور په بلا مظلونه انداز کې سرې سرې سترګې راوړولې ویل یې:

- داسې خو هم نه کېږي چې کرار کینو، هېڅ نه پوهېږم چې اوس سړی څه ورسره وکړي؟

- ته به بېګا راهسې په دې فکر کې یې زه دا دولس ورځې له مخه چې خبر شوی یم شپه ورځ همدا فکر کوم، تر ښځه خو تېر، تېر توبه مې ده، اما داسې یوه لاره مې هم پیدا نکړه چې صرف ددې کلي کور له شرم او پېغور نه پرې ووځو.

- الا څومره بې غیرته خبره دې تر خوله راووتله، بل کوم پښتون دې هم لیدلی چې ښځه یې کړي بیا ترې تېر وي؟

- نو څنګه وکړم ایا دا بې غیرتي نه ده چې په خپلو سترګو مې یې دهغه هلك سره تصویونه ولیدل شماره یې ورسره و؛ او په خپله خوله یې راته وویل: چې کالونه کېږي له ما سره یې ملګري ده، همدې ته کېنم ښځه یې کړم؟

- ترې تېدلو خبره مه کوه بدښکارې، بې غیرته ښکارې په پښتانو کې تر اوسه داسې نه ده تېره، یوه بله وړه خور یې ده، سبا بله ورځ پېغله کېږي، ددې په ځای هغه درته ترې کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


– يره موري همدا يو شرم مې بس دی، نور مې ددي خلکو نه توبه ده، سبا به د هغې نتجه هم همدا شان راوتلې وي.

– ای زما بې غيرته زويه، لعنت دې زما په شير (شيدو) شي چې تاته مې درکولې.

– بې غيرته نه يم مورې! ته ولاړې په دومره نجينو کې، نه يې دې پوښتنه وکړه، نه ښه، نه بد ، په رندۍ سرېښن شوې، زه دې هم لکه ماشوم خطا کړم؛ اوس لاتنبه هم يې چې بله يې درته کوم، پرېږدئ اصلاً دا کورنۍ له سره خرابه ده؛ په دې کيسه يې مور او پلار هم خبر دي، که په دوئ کې غيرت وای په دا تندي به يې ويشتلې وه.

بلاخېره د مور خبرې ډېرې توندې او ترخې شوې، ما تر ډېره ځان کنتولولو، احساساتي ځواب مې نه ورکولو، اخير نشوه زما حوصيلې هم کار پرېښود ښه څه مو سره وکړل، داسې جنګ مو وکړو چې په تېر ټول عمر کې مو نه و، کړی البته لفظي جنګ، که څه هم په دې اخير کې يې يو ډك ګيلاس راخوشې کړو، خو خير دا به نه حسابوم. د همدې ګيلاس ويشتلو سره راجګ شوم له اطاقه راووتلم، کالي مې لانده و، د څو لهذو لپاره د ورې ګوټې په کړکۍ کې لمر ته ودرېدم، بوره وه پکې چای خوړ و، دوچېدو سره سم مې د مخې لمن او د پرتوګ ګنډه، دا يوه پايڅه لکه وچه خرمن شخ پخ شول، واپس ورغلم له وره نه مې مدينې ته ور غږ کړل:

– يو جوړ نور پاك کالي مې شته؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


مدينې ساه ونيوله ځکه چې کالي مې سهار بدل کړي و، طبعاً زړه کې به يې ګرځېدلي وي چې کالي خو يې سهار بدل کړل اوس يې بيا څنګه غواړي؟ ملامته هم نه وه زموږ د جنګ اخيري شيبو، د ګيلاس ويشتلو په وخت دا اشپزخانه کې وه، له دې جريان خبره نه شوه.

له ساه نيولو وروسته يې کرار ووېل:

- هو شته!

سمدلاسه پسې راجګه شوه په دهلېزه کې يې چې زما لکه د لړګي شخه پخه لمن وليده، خندا ورغله خو تر څو زه پوه نشم زر يې مخ واړو روانه شوه، پسې شوم د الماری پلې يې راخلاصې کړې وېل يې:

- دا دوه جوړه پاك کالي دې شته دواړه وطو دي، هر کوم چې اغوندې، نور دا رانه روانه شوه، زر زر مې دا خيرن ويستل، زېړ ناخودي رنګه کالي مې غاړې ته کړل واسکت مې له پاسه پرې ور واغوستلو، په وېښتو ميښتو مې ګوتې ووهلې، برګ دسمال مې په اوږه واچولو بهر ته دې وتلو قصد مې وکړو، را روان شوم، د دهلېزه د وره له ډينګك نه مې څپلۍ رابښکته کړې، د بندکو تر خلاصولو وروسته مې پښو کړې حاوېلۍ ته راووتلم، د څو قدمونو په راخيستلو سره د دروازې تر څنګ د مرواء په جرګانو مې سترګې ولګېدې زموږ له چرګانو جودا د دېوال خواته دواړه جوړه لکه دمور او پلار نه يتيم شوي کوچني ماشومان عاجزې عاجزې دلمر وړانګو ته ولاړې وې، افقف يقين وکړئ په ليدو يې ماوېل زړه ته مې چا خنجر راواچولو بل شان څړيکې يې وکړې، يوه شيبه ورته تم شوم، د مرواء د وخت نازونه يې راياد شول چې تل

(c) ketabton.com: The Digital Library


به يې د برنډې په بر سر زېږ وړکي جام کې رنې اوبه ورته اچولې وې، توده ډوډۍ به يې چې پخه کړه، دوی پسې به يې په عاطفي لهجه آواز وکړو:

– بيو، بيو، بيو، بيو، بيو!

دوئ به هم ورمنډه کړل؛ مرواء به له ګرمې ډوډۍ نه يوه اندازه ميده، ميده کړه همغه شان ګرمه ګرمه به يې مخ کې ورته واچوه، او...

بلاخيره سترګې مې له اوښکو ورته را ډکې شوې، اخير کې مې لاس پورته کړل: (يا الله ج د مرواء دمړينې او نورې ټولې بدې آوازې دروغ کړې ددغو مظلومو چرګانو له رويه يې جوړه روغه راپيداکړې) د دسمال پيڅکه مې راجګه کړه سترګې مې وچې کړې روان شوم، د مسجد تر مخ سپاچې ته تر رسېدو دمخه څو کسه کليوال په مخه راغلل، لمړی خو به يې کوشش کولو چې لار رانه چپه کړي، ولې چې مجبور به شول، لکه د يو ناشناخته مسافر سره، هسې د زړه له پاسه سترې مشي به يې راسره وکړه، په سپاچه د راټولو مشرانو، ځوانانو، کوچنيانو کليوالو وضعيت هم عين شي، ډېر بې خونده و، حتا هغه نژدې ملګرو مې هم څنګ رانه کولو، که څه هم له يوې خوا مې ډېر زړه بد و، چې دا خلك ولې دومره راباندې نيت بدي دي، ما خو به ددوئ په وادونو کې آتڼونه کول، خوشحالۍ به مې کولې، بلخوا به مې ځان ته داډ ورکولو: څه څه کيسه کې يې، يې؟ خدای ج يې دې ذره وچووي، اما په دې خبره پسې پيوست به مې دا افسوز هم کولو چې کاشکي نجلۍ (صدف) خو خراب نه وای ختلې، دا خلك که له دې کيسې خبر شي څومره به چاغ شي، خلاصه د درئ څلورو ورځو په تېرېدو سره، دکليوالو ددې شوم وضعيت له

(c) ketabton.com: The Digital Library


کبله مې د کلي نه نفرت وشو، بل خوا د صدف کیسې بنګ راڅکولي و، هوايي به ګرځېدم، مګر څه به مې کړي و، نه دې جګرخونیو دحل لاره لرله چې متې مې غړلې وای حرکت مې پرې ورکړی وای، نه یې په تیښته سر ورتللو، لیونی سپیلنی ګرځېدم؛ تر ډېره مې کوشش کولو له کوره نه راوتلم، په کور کې به هم شپه ورځ خپل کټ کې رغړېدم، چې دټول فامیل عمومي ناستې اطاق ته به ورغلم د مور مې هم عصاب شارت و، په جنګ به ورسره واوښتم، له همدې کبله مې خپل کټ غنمت ګڼلو، خو خیر یوه ورځ فکر کړم له مزار نه د راتلو پنځمه ورځ مې وه، طبعت مې دنورو ورځو په پرتله ېېخي ډېر خراب و، راجګ شوم باغ ته دتلو په نیت مې حرکت وکړو، په لار کې د فضل دوکان ته ورتاو شوم دوکان کې یې ورکی زوی و، پنځه روپۍ مې ورته ونیولې درې دانې سیګرېټ مې ترې واخیستل په داسې حال کې چې تر دې دمه مې سیګرېټ په شونډو نه و لګېدلی، صرف اورېدلي مې و دا خلك چې معتادان شوي، دوئ لمړی دشدید خپګان په وخت د عصبي آرامتیا په خاطر نیشه کړې، د خوند په ورکولو سره یې دوام ورکړی بلاخېره معتادان شوي، نو ماوېل: راشه سړیه! که رښتیا وي نن ته هم دا کار وکړه، له نن هاخوا به دوام نه ورکوم، سیګرېټ مې د سینې له پاسه د واسکټ په پاسني ورکې جیب کې ودرول را روان شوم، باغ ته چې ورسېدم د باغ منځ کې په غځېدلې پوله ډېښنو په سرکېناستم، سیګریت مې په شونډو کې ونیولو، چې رافام مې شو اوووو له دوکان نه خو دې ګوګرد راوانخیستلو؛ دې کار مې لا په عصابو فشار راوړو، ولې دوکان هم لرې و، د وسه مې ونشول چې بیا پسې ورشم، سیګریت مې واپس له شونډو راوخیستلو لاس کې مې نیولی و، زه په نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

فکرو کې تللی وم، یو وخت مې چې فام شو، سیګریت مې سرویلی و، څه تنباکو مې د ګوتو له قاتو ځمکې ته تویې و، دا باقي او پلتر یې ما پسې ورخطا کړل، لاس مې ترې ټکوهلو.

چې کتل مې څو شیبې وروسته چرسي ثناګی، چې چا به لېونی ثناګی ورته وېل د بر طرف له کونجه په باغ راګډ شو، زما همزولی و، خو په ډېرو چرسو ځکولو یې ځان داسې کړی و، چې تقریبا زما د پلار په سن ښکارېدو؛ ددې سربېره عقل یې هم جنجان یاري نه ورسره کوله نو ځکه به ځینو خلکو لېونی هم ورته وېل، زما حد ته په رانژدې کېدو، دپنځو، شپږو قدمو له لرې یې په جدي انداز غږ وکړو:

- څه وخت راغلی یې؟

- څلور پنځه شپې کېږي!

- ای خدای ج دې خور کړه، ښی لاس یې ورجګ کړو خپله ګیره یې په موټې کې ونیوله؛ پسې زیاته یې کړه: دغه ګیر دې د خره په (..........) شنه وي، که دې خیر کړی و.

نور نو ماته نژدې راوسېدو، تر څو مې پوښتنه ترې کوله، چې ولې څه چل دی؟

زما مخکې په ځمکه پراتو تنباکیو ته یې پام شو خندنك خندنك کېدو دجوړه وروځو ښورولو په واسطه یې تنباکیو ته اشارې کولې وېل یې:

- امممم بچېش! سګرېتی خو دې هم وهلی!

(c) ketabton.com: The Digital Library


– ورك شه غرق شې لېونيه! د چا نه خالي سيګريت لوېدلی و، ما راواخستلو ميده، ميده مې کړو ومې غورځولو، پيوسته مې پسې زياته کړه: څه چل دی لمړی دې ولې ووېل: چې خدای ج دې خوار کړه؛ ولاکه خير وکړې؟

– د رحيم ددك لور دې چې نکړله رنګه يې دې ولې وربدوله، دظالم بچيه ته وايې چې اوس به دې له هغو نه ښايسته ښځه کړې وي؟ بنده يې بوله ولاکه دې خير ترې کړی و، ايران مې وهلی، ترکيه مې وهلې؛ پاکستان مې وهلی، کابل کې خو زوړ شوم، په خدای ج کې مې د ددك د لور جوړه ليدلې وي، قسم ده چې څلور واړه خوراني مې د ادې سره پکې تللی که مې پرېښې وای، افسوز چې تا د ناځوانه زوی يې کار نه وای ور خراب کړی. افففف ډېر بد دې وکړل؛ ستا له لاسه يې مردګاو تره مړی ژوندی ورك کړو، دريمه ورځ يې د ددك زړه پسې وچاود مړ شو، دهغه ګنا هم ستا په غاړه ده؛ سخت کبر او ظلم دې وکړو، ته غوږ نيسه دغه ځای دې نښه وي، که همداسې د يوه لبه ورك نشوئ زه به سړی نه وم.

– درومه لېونډرته دا مرداري پښې دې پرې مينځه ما ته مصلح مه کوه!

– زړه مهم دی، پښې خير که خيرني وي.

– عصاب مې مه خرابوه، ځه وايم!

ددې خبرې په پای کې مخکې له دې چې ثناګی څه ووايي جيب کې مې ګړنګار شو، موبايل ته مې زنګ راغلو، چې راومې ايستلو نمبر ناشناخته و، ورسره راجګ شوم مخامخ د ويالې په لور روان شوم خو تر څو مې اوکې کوو، قطعه شو، زما سيمکارت اتصالات و، فري کړی مې و، يوازې اتصالات سمکارت

(c) ketabton.com: The Digital Library


ته زنګ ترې تلو، او دا د روښن سیمکات نمبر و، نغد کردیت مې نه لرل، نه مې شوای کولی چې زنګ ورته ووهم، له همدې کبله د بیا زنګ وهلو په انتظار یې د ویالې په څنډه کېناستم، څو لحظې موبایل ته متوجې وم، زنګ رامعلوم نشولو، چې تر شاه مې ور وکتل ثناګی هم تللی و، خو زه یې په خبرو کې فکر یوړم، که څه هم خبرې یې ترخې وې، ولې دا یوه فایده مې وکړه،

هغه دا چې خنګه یې شروع وکړه پوه شوم چې امممم ددې خلکو مې په واده کولو نیت نه دی بد؛ د مرواء د ورکې او پلار دمړینې لامل یې ما ګڼي، زړه یې پرې بد دی، ځکه یې بد رانه راځي.

ددې سربېره له واده کولو راپه دېخوا راپېښو بدبختیو، خپګانو ته په کتو شك یې راوچو چې دثناګي خبر رښتیا دا به دمرواء آزار وي، په دې وروستیو کې یې چې مزار ته زنګ راوهلی و، بېچاره څومره زارۍ وکړې، څنګه سلګۍ یې وکړې، کاشکي مې ورسره منلې وای اوس به زه ولې دومره بد بخته؛ په شرمو شرمېدلی، دټول کلي کور تر فامه بد وم، ددې به ولې داسې مړی او ژوندی ورك و، اخ افسوز څه بد مې وکړل.

په همدې فکر کې ډوب وم چې، ښا اوس نو چا، چا ته قناعت ورکړم چې ما د مرواء سره تر عادي خبرو کولو، هغه هم د ضرورت په اساس، یا یو نیم کار دثواب په نیت چې پلار یې سپینږیری و، مور یې ناروغه و، دا نجلۍ وه نه به یې شوای کولی ما به ورته کولو، نور مې هېڅ خرابې اړیکې نه دي ورسره ساتلې تاسو هسې ګومان کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


او یا مرواء چېرته پیداکړم ترڅو ښښنه ترې وغواړم، چې نور مې الله ج له دې د وژخونونه وباسي. قسم ده که بله خبره وي رښتیا دا ددې آزار دی.

په همدې ترتیت د فکرونو لړۍ دوام دلرلود، چې کرنګار شو مبایل ته مې زنګ راغلو، له جیب نه را یستلو سره سم مې ولیدو همغه مخکنی روښن نمبر و؛ د اوکې کېدو سره پیوست مې غږ پرېې وکړو:

- سلام علیکوم!

- وعلیکوم سلام لالا ښه یې!

- الحمدالله ښه یم، خدای ج دې وکړي ته هم ښه اوسې.

- په دې ساعت شکر دی مننه؛ شبیر یم د مدین خېلو، مزار کې مې چې درسره ولیدل.

- اممم مهرباني!

- هلته چې دواړه پرې وغږېدو، طبعاً دهغه موضوع په اړه به دې اوس پوره فکر کړی وي، یوه پرېکړه به دې نیولي وي؟

- هو پرېکړه مې نیولې!

- کېدی شي راسره شریکه یې کړې؟

- هو؛ بس تاته دې مبارك وي!

په دې وخت کې فکر کړم همدغه نجلۍ به دشبیر ترڅنګ ناسته وه، ځکه یو خف ښځینه غږ مې تر غوږه شو چې ویل یې: ځار ځار ځومره ښه هلك دی زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library


مې پرې وسو، نور يې هم خديزده څه وېل خو، غږ يې دشبير خوشحالوکي دارنده غږ ورتت کړو چې وېل يې:

- آه تر خوله دې قربان برادره! باور وکړه چې خبر شوم پوهنتون وايې باتعليمه ځوان يې، اويا سلنه دهمدې اميد سره دروان شوم چې شايد درك مې کړې، د رد خپړه په مخ رانکړې، او هلته مې چې بيا ستا ځواني وليده پوره ډاډه شوم، کور دې ودان. هو رښتيا هغه کومې وعدې چې ما درسره کړې کلك پرې ولاړ يم؛ تر دې دمه مو چې هر څومره پيسې پرې مصرف شوې وي، غږ وکړه چېرته چې غوړې در ورمه يې، دوهم که غواړې چې ديوې ښې نجلۍ په راپيداکېدو کې درسره همکار شم، انشاءالله دا کار هم کولی شم، او کوم يې داسې نجلۍ درته پيداکړم چې له هر اړخ؛ ښايست او شخصيت نه رانولې تر کورنۍ که ذره ستونزه پکې پيدا شوه، ځای دې زه يم؛ دريم مې دخپلې خور په باب درته وېلوي و، په دې وعده هم ټينګ ولاړ يم، کولی شې څوك راولېږې، که مو خوښه شوه په دواړ سترګو.

او له دې هاخوا که کوم خدمت وي، يا بل وخت څه ضرورت و، ډاډه امر کولی شې شبير دې دکوچني ورور په حيث تل خدمت کې دی.

- ژوند ، ځه اوس دې په خدای ج سپارم که اړتيا شوه بيا به ګورو.

له همدې سره مې تماس ورقطعه کړو، دتماس تر قطعه کېدو وروسته لکه دوبالې پوشت چې ښورې يا لکه زلزله چې وي، يو قسم ټال مې وهلو، خو اصلاً هيڅ خبره نه و، بس هسې مې داسې احساس کولو، لنډه دا چې راجګ شوم، دکور په لور مې حرکت وکړو، سر مې لکه ډول داسې و او لامې هم دټال

(c) ketabton.com: The Digital Library


وهلو احساس کولو، پوډري غونډې کوږ او کيڼ راروان وم په هرو لسو قدمو کې مې يو قدم پټې ته ښوېدو بلاخېره کور ته راورسېدم کور هم هغه پخوانی کور نه و چې سره راغونډ به شوو مجلس ټوکې ټکالې به مو وکړې، و به مو خندل يو بل ته به مو مينه ورکړه؛ بس د ټولو طبعيت خراب و، هر سړي کوشش کولو چې ځانګړي اطاق ته ننوځي ور پسې ورپورې کړي خپلې اندېښنې وکړي.

په همدې تراو زه هم مستقيماً خپل کټ ته ولاړم په کې وغځېدم شيبه وروسته فرېښتې غږ راوکړو:

- لالا! راځه ټکله (ډوډی) تياره ده.

- څه شی مو پخ کړي؟

- وريځې او کچالو.

- ځه زه موړ يم اوس يې نه خورم!

فرېښته ولاړه تر دوه بجو پروت وم، پس له دوه بجو راجګ شوم د اودس کولو په نيت لاندې د مهمان خانې د دهلېزه تشناب ته ننوتلم اودس مې وکړو واپس راوختلم چې له اطاق نه مې د مور په ډېر لوړ او تند آواز غږ راوځي بد رد وايي کنځلې کوي، زړه کې مې ووېل: خدايه! خير کړې بيا څه کيسه ده؛ فکر مې وکړو موبايل کې يې له چا سره جنګ دی ګړندي قدمونه مې ور واخستل ترخو زر ور ورسېږم چوف يې کړم، بد کار دی دا چا ته داسې پوچ او سپک

(c) ketabton.com: The Digital Library


وايي؟ چې دهلېزه ته مې لمړی قدم ور دننه کړو، له هاخوا دا په مخه راغله د ډېر قهر نه یې مخ تور او شین و، وېل یې:

- بې ننګ؛ بې غیرته خو وې، اوس دې چرسلاخان هم د ځانه راته جوړ کړو؟

تر څو مې وېل: چې څه چل دی؟

سیګریت یې راته کش کړل په دې مخ یې وویشتلم، د دېوال خوا ته پلاس پروت و، سم دم یې په دې ورترف کړل، څو یې راجګولو ترې هممم (منډه) مې کړل، د احویلۍ منځ ته رسېدلی وم چې سر‌ږږږ شو پلاس مې ددې یوې ډډې سره تېر شو، ښه و خدای ج ترې بچ کړم راباندې ونه لګېدو، دروازې ته له رسېدو سره سم، څنګه مې چې دستګیر ته لاس ور وړو، تر سر پورې مې یو خطرناك درز شو خدیزده څه بلا یې راپسې راخوشې کړه، دروازه یې وویشتله، ښه و، له دې نه هم خدای ج بچ کړم نور ترې راووتلم.

نیك مرغ سیګریت دې شي، هغه دوه سیګرېت مې په جیب کې هېر شوي و، دلته زما فکر نه و، په کټ کې مې له جیب نه ښوېدلي و، د مور مې سترګې پرې لګېدلې وې.

په هر حال چې کیسه ګډه وډه نشي راځم خپلې مخکنۍ خبرې ته مور مې تر دروازې راپسې وه، نور ښه وه، وګرځېده زه مستقماً ولاړم مسجد ته د مسجد تر مخ مو یوه چینه ده، اوس هم شته ډېرې ښې صفا اوبه لري، په دې مې اودس کول شروع کړل، که څه هم اودس مې و، خو بیا هم ماوېل هسې نه په دې منډو، منډو کې څه زیان ورته رسېدلی وي☺. لنډه دا چې تر اوداسه او لمانځه وروسته بیا باغ ته روان شوم؛ مجبور وم نور به چېرته تللی وم؛ کلیوال

(c) ketabton.com: The Digital Library


حتا پخواني ملګري هم؛ هغه د چا خبره ټول ټنډ و؛ چې له کوم يو سره مې وخت تېر کړی وای؛ بلاخېره په باغ کې وم، وم، ان تر دې چې د مازديګر او ماښام لمونځ مې هم دلته وکړل، ناوخت کور ته ولاړم دروازه مې کراره راخلاصه کړه نرم، نرم ولاړ د ناستې اطاق ته مې تر کړکۍ ور وکتل، مدينه او فرينښته ناستې وې په مجله کې يې د څه شي تصويرونه کتل، مور مې نه ښکارېده بيا هم نرم، نرم راغلم کرار مې د اطاق ور راخلاص کړو سلام مې واچو، مدينې سلام عليك کړو، پوښتنه مې ترې وکړه:

مور چېرته ده؟

– سر يې خوږېږي په وړه کوټه کې ويده ده،

– لکه چې ډېره په قهر وه؟

– هو تر مازديګره يې ژړل ګنځلې يې کولې.

– زه يې خبرې ته پرې نښوم، دا سيګريت مې سهار لاره کې پيدا کړل؛ راپورته مې کړل ماوېل: کوم سيګريتي ته به يې ورکړم؛ څه خبر وم چې دومره غم به ترې جوړېږي، کنې همغلته مې پښه پرې ايښوله ميده، ميده مې کول.

– خې مور بېچاره ملامته نه وه، فکر يې وکړو چې دی يې څکوي موږ هم خپه شو.

– نه بې غمه اوسئ زه چې دلته د هر قسم هلکانو سره ګرځېدم عملي نشوم؛ پوهنتون کې نه عملي کېږم هلته ټول باتعليمه هوښيان هلکان دي له دې شيانو

(c) ketabton.com: The Digital Library


نه ډېره بد وړي، پسې زياته مې کړه ورکه دا کيسې پرېږدئ وړی يم څه شي مو پخ کړي کنه؟

- د توپ (غرمې) وريځې او کچالو پاتې دي، که هغه نخورې، په مسکا يې وويل: هګۍ هم شته خو د فرښتې د چرګې دي خرڅوي يې.

- دانه په څو ده؟

مديني فريښتې ته مخ ور واړو غږ يې پرې وکړو:

- په څو روپۍ دې بيه کړې؟

- دانه په شل روپۍ

په داسې حال کې چې دهګۍ عامه بيه پنځه ابلا شپږ روپۍ وه؛ د فريښتې شلو روپيو لمړی وخندولو بيا مې ووېل:

- صحيح ده؛ څه ورشه د څلوېښتو روپيو په منډه راپخې کړه هسې نه چې مور راشي بيا ويشتل شروع کړي هر څه پاتې شي، مدينه ولاړه هګۍ يې راپخې کړې، د ډوډۍ خوړلو سره موازي مې چای هم غوړپولو، ډوډۍ مې زر زر وخوړله ګوتې مې د دسترخوان صافي کولو په څړي پاك کړې دعا مې وکړه، نور راجګ شوم خپل کټ ته مې راغلم.

فکر کړم زما له تللو وروسته مې مور راغلې وه؛ خويندو مې کيسه ورته کړې وه، چې سيګريت يې لار کې پيداکړي و، دی يې نه څکوي، ځکه سهار چې د چای خوړلو لپاره راغلم که څه هم په بسم الله؛ بسم الله اطاق ته ورننوتلم ددې سربېره منډې ته مې هم ځان تيار کړی و، کرار کرار ور روان وم له مور نه دې

(c) ketabton.com: The Digital Library


خوا ته دسترخوان په څنډه کېناستم په چای څښلو مې پیل وکړو خو ښه و تر دې دمه یې هېڅ غږ ونکړو؛ او نه ما جرات وکړی شوی چې غږ پرې وکړم، یا یې د سر دخوږو پوښتنه ترې وکړم مخکې یې تیار له چایو ډك ګیلاس اېښی و، وېرېدم؛ دکندهاریانو خبره ماوېل هسې نه چې را اېله یې کړي، خلاصه چای مې وڅښلو نرم جګ شوم له اطاق نه راووتلم واپس خپل کټ ته راغلم، څه کیسه اورېدوم مقصد له دې وروسته مو هم دکور اوضا ګونګه وه، صرف د ډوډۍ خوړلو لپاره به یوه دسترخوان ته راټولېدو؛ او د اړتیا په اساس به مو یوه نیمه خبره سره کوله دې وضعیت تر ډېره دوام وکړو د نورو ټولو سر دردیو علاوه دکور دې وضعیت، بې اتفاقۍ یو له بل نه لرې والي سخت جګر خون کړم؛ دکلیوالو ورځ تر بلې خراب وضعیت ته په کتو له کوره بهر وتلو ته مې هم زړه نه کېدو، ان تر دې چې د پوهنتون رخصتي پوره شوه، سبا مې دتللو ورځ وه، داسې خوشحاله وم لکه جنت ته چې ځم، کني نور کله به پوهنتون ته تلل راباندې بوج و، اما دا ځلې زړه تنګی شوم، خو په هر صورت پس له ډېرو شپو ورځو مرورتیا وروسته لماخوستن مې په مور غږ وکړو:

- مورې! زما روخصتي خلاصه شوه، سبا پخیر ځم؛ د صدف په حساب چورت مه وهه زه یې جوړوم، تر دې دمه چې څه شوي، هغه شوي، له دې هاخوا که جنګ ورسره وکړې، که عرضه پرې وکړې، که هر څه وکړې فاید نه لري، پرته له تاوان نه؛ لا به خلك راکې وغږېږي، لا په شرمو پسې شرمېږو؛ دا نجلۍ خو مې نور له سره نه ده پکار، پاتې شوه هغه بله وړه خور یې هغه هم په درد نخوري، په اول قدم کې خو به اوس لس کاله دې ته انتظار یو تر څو پېغله شي، بیا چې پېغله شي خدایزده دا څه بلا وخېژي د صدف خور ده. هغه متل

(c) ketabton.com: The Digital Library

به دې اوربدېلی وي (که سل خویونه نور کړې، یو خو به دې مور کړې)؟ مقصد ته له سره کار مه ورسره لره زه ورسره پوهېږم.

دوهمه خبره دا درته کوم، چې مور او تاسو اشتبا کړې وه، ددې کلیوالو مو په واده نیت نه دی بد، دوئ فکر کوي چې مرواء په ما مئینه وه، په دروغو مې د واده کولو په بهانه ډېر بد کارونه ورسره کړي، دبل چا سره له واده کولو مې هم ایستلې وه، خو کله چې ما بل ځای واده وکړو دې ته بله لاره نه وه پاتې ذهر یې وخوړل بیا یې کاکا له ډېر قهر او خلکو د شرمه خدایزده چېرته ترکې تامه کړه، درې شپې وروسته یې د زیات غم له وجې دپلار زړه پسې وچاودو؛ ددې د مرګ لامل هم ما ګڼي ځکه خلک راته غوسه دي، نفرت رانه کوي.

- خلک لېونیان دي چې څه یې لیدلي نه وي له خپلو ګېډو غېږېږي، تور لګوي، په مئین هلك او نجلۍ یوه ورځ، نه یوه ورځ سړی پوهېږي، خو ما په مرواء تر ننه داسې څه شك نه دی اخیستی، بیا که رښتیا مئینه وای وېلي به یې و، که تا ته یې نشوای وېلی ماته به یې وېلي و؛ که له ما هم شرمېدله دې نجینو ته به یې وېلي و، زړه کې مې وېل: (چې بېچاره ماته ډېرې زارۍ وکړې، خو بس خدای ج ووهلم) د مور خبرو مې دوام لرلو پسې زیاته یې کړه مرواء ته زما هم زړه کېدو خلك چې نن په مرواء دا تور لګوي، زه قسم کوم چې د یوه په خور او لور کې د مرواء حیا؛ دینداري، انسانیت نشته، ددوئ خولې دې خدای ج په خاورو پټې کړي، مخکې مې ووېل چې زما هم ډېره خوښېدله، صرف په دې خاطر مې زړه ورته ونه نیولو چې تاسو دواړه له ماشومتوبه لکه خور او ورور داسې راستر شوئ، ډېر په دې شان یو ځای راستر شوئ، هلکان او نجینې مې لیدلې چې په یوه کور کې لوی شوي وي، له لویدو وروسته یې

(c) ketabton.com: The Digital Library


دکورنۍ له خوا نکاح وتړل شي، پس له نکاح بيا هغه هلك او نجلۍ ته په يوه بستره کې پرېوتل هغه شان ښه نه ښکاري څنګه چې ښايي، ځکه ددوئ په مينه کې د خور او ورور دميني رنګ ګډ وي، (ددې خبرې سره مې يې بيا زړه کې راتاو شول: ورك دې دا ديوې نيمې روپۍ دليل شه؛ هغه، هغه هلکان او نجينې دي چې نصبي ريشه سره ولري، موږ خو صرف ګونډيان يو کاشکې دې راته کړې واى، خو ته هم خداى ج ووهلې زه دې هم خطا ايستلم دغه دې په شنه آسمان دې غرق کړو)

چون په خوله مې څه ونه وېل، دمور خبرې مې پسې اورېدې شوې وېل يې: مرواء د خداى ج پخير روغ او جوړه راپيداکړي، ددې خلکو آرمان خو به هرو مرو وريوره کړم؛ او په دې هم يقيني شوم چې تر مرواء ښه نجلۍ به په ټوله دنيا پيدانکړم؛ ( زړه کې مې بيا راوګرځېدل چې کاشکې دا عقل دې مخکې درسره واى) خو په هر حال مور مې پسې زياته کړه، ددنيا په نجينو کې مې په دې يوه نجلۍ مينه راغله هغه دومره خطا وختله نور مې د ناشناخته نجينو نه توبه ده؛ که سر تر پايه دسرو زرو هم وي، خوا ته به يې ور ونه ګورم.

– هو مورې! همداسې ده، ستا خبره مرواء دې خداى ج پخير راپيداکړي دا ځل به حتماً ددې خلکو په خاطر دا کار کوو، بده ده، دسړي له ځان نه کرکه وشي چې ټول کلى څنګ ترې کوي، خو خير ډېر چورت مه وه؛ خپل کور، ژوند ، او لورانو ته دې متوجې اوسه انشاءالله د وخت په تېرېدو به د کليوالو اړيکې هم د پخوا په څېر راسره ښې شي، ما پوه کول خو داسې ده چې يو نه دى؛ دوه نه دي، ټول کلى رانه په څنګ دى، کوم يوه ته سړى قناعت ورکړي؟ او بل دا چې فعلاً ډېر غوسه دي، د خبرې کولو موقع راکول څه؛ حتا خواته

(c) ketabton.com: The Digital Library


مې نه راکوري، مګر بیا هم وایم انشاءالله د وخت په تېرېدو به هر څه سم شي، ولې تاسو مو فکرونه خپل ژوند ته راوګرځوئ، ډېر هاخوا او دېخوا چورتونه مه وهئ، زه زنګ درته کوم حال مو اخلم؛ او بل مې هم خدایزده چې څه درته وېل خبر مې هېره شو؛ خو خیر تاسو دا ډوډۍ راواخلئ تر هغه کوندې رایاد شي.

مدینه او فرښته جګې شوې، شیبه وروسته یې د لاس مینځلو اوبه راوړې، تر لاس مینځلو وروسته یې دسترخوان راخور کړو، قابونه یې پرې کېښول، سابه یې پخ کړي و، فکر کړم وچه ریشکه وه، یوه، یوه پخه کړې هګۍ یې هم له پاسه پرې وراچولې وه، ډوډۍ مو وخوړله چې ساعت ته مې وکتل ناوخته وه، پاڅېدم لمونځ مې وکړو نور د مور او خوندو نه په اجازه اخیستلو سره خپلې د خوب بسترې ته ولاړم تر څو سبا دسفر لپاره دم راستی وم، لنډه دا شپه تېره شوه، سهار وختي مې خدای ج پاماني وکړه، بیك مې اوږې ته کړو، له کوره راووتلم که څه هم د کلیوالو موټر مو هم و، خو څنګه چې دوی څنګ رانه کولو ماته یې هم خوند نه راکولو چې ورسره وخېژم تر کابله ټوله سواري بد، بد راته وګوري، مستقیماً ولاړم د ولسوالۍ له عمومي سرك نه په ناشناخته موټر کې وختلم، کابل ته تر رسېدو وروسته، دخیرخانې کوتل سر کې د سه سدوسې موټرو اډې ته ولاړم، اول نمبر موټر کې وختلم نیم ساعت پس موټر حرکت وکړو تر چهارکارو چې تېر شو، هغه دتېر کال سفر دمرواء رنځوښۍ رایاد شوې چې دې ساحه کې مې خوړلې په مروا ګۍ پسې مې زړه درد وکړو سترګې مې راډکې شوې لاس مې ورجګ کړو دګوتو په څټ مې اوښکې وچې کړې سم دم هغه ټپۍ هم ذهن ته راغله:

(c) ketabton.com: The Digital Library


(ځوک چې په خپله په ځان وکړي،

نه دې ګیلې کړي نه دې اوښکې تویوینه)

خلاصه تر سالنګ واوښتلو، خنجان مینجان مو هم لاندې کړل ان تر پلخمریه مې یې د صحنې، صحنې انځورونه سترګو کې تاوېدل، خو په هر حال تر څو کیسه اوږده نشي دلار کیسه دې وي؛ په لنډو کې به ووایم چې د شپې اوه بجې وې لیلیه ته ورسېدم د ملګرو سره مې سترې مشې وکړه، طعام خانې ته ولاړم ډوډۍ مې وخوړله واپس راغلم اطاق کې مې ملګرو سر چای وڅښلو، څه هاخوا دې خوا کیسې مو سره وکړې، له دې وروسته مې د تېر په څېر عادي ژوند پیل کړو سهار به پوهنتون ته تللم، دشپې به لیلیه کې وم، وخت ناوخت مې د مرواء دپوښتنې سربېره د کور احوال اخیستلو زنګ مې ورته کولو؛ تقریباً دوې میاشتې به مې وتلې وې یوه ورځ مې مور راته وېل:

- دکلي خلك د صدف په کیسه خبر شوي، داسې خوشحاله دي، رښتیا زویه! همغه ستا خبره ده، چېر ته چې دوه درې نفره نران یا ښځې سره غونډ شي په خندا او ټوکو وایي: همداسې ښه دي دا د رحیم ددك او لور آزار یې دی.

که څه هم سخت زړه مې بد شو، خو مور ته مې دتسلیت په پار ووېل:

- بلا دې پسې مه پسې ګرځه خلك څه، څه نه وایي، خپل ژوند کوئ چې کاسه کې یې رالېږي، غلبېل کې یې دې راولېږي چې تر مور راونه رسېږي.

فکر کړم دشبکې ستونزه وه تر دې خبر وروسته دمور موبایل پرته له خدای ج پامانۍ ورقطعه شو، زه هم په لار وم له تدرسۍ نه لیلیه ته رارروان وم؛ نور

(c) ketabton.com: The Digital Library


پسې ونه ګرځېدم موبایل مې جیب ته کړو، لیلیه ته راغلم، دتېر په څېر شپې ورځ تېرېدې ان تر دې چې دا سمستر هم خلاص شو امتحانونه شروع شول، دتېر کال برعکس دهر امتحان په تېردو د روخصتۍ په رانژدې کېدو مې زړه تنګېدو، دکلیوالو وضعیت او صدف په کیسه خبرېدو ته یې په کتو کلي ته مې بلکل زړه نه کېدو له همدې کبله یوه ورځ چې دوه امتحانونه لا پاتې و، ښار ته ولاړم، دیو کندهاري ډاکتر دواخانې ته ورغلم د ډاکتر کور هم همدلته مزار کې و ، له دې مخکې هم چې دواه به مې پکار شوه ورتللم به، یوازې دا دواخانه یې نه و؛ د دواخانې لپاسه (حیات کلینیك) هم دې ده وه، ډاکتر ته مې ور یاده کړه:

- ډاکتر صیب! په دې دواخانه یا کلنیك کې دې کوم کارمند ته ضرورت نشته، که وي زه غواړم کار درسره وکړم؟

- نه کارمندان پوره دي، ته څه کار کولی شې؟

- هر څه چې وي دشپې کار وي، که دورځې کولی یې شم، نیګاواني، یا بل هر کار چې وي؛ ددې سربېره دکمپیوتر ساینس پوهنځۍ محصېل یم په انګلسي او کمپیوتر هم تر یوې اندازې پوهېږم، ددې دواخانې او دې ته ورته کارونه کولی شم.

- کمپیوتر دې لږ زده دی که ډېر؟

- پنځه پروګرامه مې زده دی

- ښا ماشاءالله دکوم ځای یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


- د وردګو يم!

- ډېر ښه، کارمندانو ته خو ضرورت نه لرم، ولې که همداسې کار راسره کوې د دواخانې کارونه زده کوې راځه درى وخته ډوډۍ او که دشپې ځاى نه لرې پاس کلنيك کې ځانګړى وطاق هم درکوم، تيار فرش او ضرف لرې، ديوه ډاکتر اطاق دى هغه ترې ولاړم.

ما هم له خداى ج همدومره يوه سرپنا غوښته ورسره اوکې مې کړه، اما دا مې ورته وويل: چې دوه امتحانونه پاتې دي، چې دا خلاص شول دوې ورځې وروسته راځم، او پسرلى کله چې بيا درسونه شروع شول پس له نيمې ورځې راځم.

دا يې هم راسره ومنله؛ درى ورځې وروسته رخصتي شوه هلکان کورنو ته روان شول دليلېه ساتونکي قلف په ګوته کې ګډولو په ليليه کې په پاتې هلکانو يې نارې وهلې:

- زود ، زود برايي دروازه ره قلف مې کنم

ما هم بيك غاړه کې راوچولو کلنيك ته راغلم، ډاکتر مې اطاق راته تسليم کړو، بيك مې پکې کېښود ، نور ورښکته شوم، دواخانه کې مې کار ورسره شروع کړو؛ لمړى خو دا کېږده؛ دا راکړه دشپو ورځو په تېرېدو سره دسړي عتماد راباندې زيات شو ډېرى وخت به دواخانه کې تنها وم، دى به بل ځاى تللى و، که څه هم راته ويلي يې نه و، خو ډاکتر دې خير يوسي هره پنجشنبه يې ۱۵۰۰ افغانۍ دحمام، وينښتو جوړولو؛ موبايل کارت لپاره راکولې؛ ښې وې ډوډۍ او اطاق مې مفت و، دا ۱۰۰۰ افغانۍ زما دحمام او ځينو نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library


اولیه ضرورتونو لپاره بس وې؛ په ۵۰۰ روپیو مې یو د کمپیوتر او انګلسي کورس ونیولو پس د مازدیګر له څلور بجو به ورتللم؛ مور ته مې هم همدا کورسونه د سبږ ژمي نه ورتلو بهانه کړي و، لنډه دا چې د ډاکتر سره مې ددې ژمي علاوه ټول اوړی هم کار وکړو، پس له پسرلیه به نیمه ورځ پوهنتون کې وم، نیمه ورځ مې دواخانه کې کار کولو، او تر ځنګ مې یې همغه کورسونه هم تقیبول، په دې وروستیو کې یې ډاکتر د موټر کلی هم راکړې وه، تر پوهنتون او دواخانې به پکې تللم راتلم، یوه ورځ چې د جمعې ورځ وه، پوهنتون او دواخانه دواړه رخصت و، له حمام نه راووتلم یو دوې هګۍ یو څو رومي بانجان، یوه دنانوایۍ ډوډۍ مې په لار کې راسره راوخیستل د اطاق په لور رارون شوم، که څه هم کلنیك کې ډوډۍ وه، خو هسې نن مې د هګیو شوق وکړو، اطاق ته د رارسیدو سره سم چې لا مې دلاس خلته په غولي نه وه، ایښې، موبایل ته مې زنګ راغلو؛ را ومې ایستلو چې کتل مې نمبر ناشناخته و، لمړی مې خلته هاخوا کونج کې دګاز تر څنګ کېښوده؛ واپس راتاو شوم دبسترې له پاسه لوړ کېناستم موبایل مې اوکې کړو، د اوکې سره سم مې غږ پرې وکړو:

- سلامونه!

له مقابل لوري لمړی ښځو ښېښ راتلو وروسته په نرم ښځینه آواز ووېل شول:

- وعلیکوم سلام اکبر جانه ښه یې؟

فکر مې وکړو حتما له دوستانو مو څوك دي، ځواب مې ورکړو:

- الحمدالله ښه یم، تاسو ښه یی کور خیرت دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


– شکر دی ښه يو!

– وښښه ولاکه مې پېژندلې يې؟

– افففف له کومې خبرې چې وېرېدم همغه دې وکړه.

– په مطلب دې پوه نشوم؟

– مياشتې کېږي هر ورځ موبايل راجګ کړم غواړم زنګ درته وکړم اما د پورتنۍ پوښتنې له وېرې يې دې واپس کېږدم.

– ته څه وايې؟ صحيح وغږېږه!

– نوم مې درته اخلم، خو ته او خدای (ج) ته او رسول (ص) ستا دې په خپله ځوانۍ او خپله مردانه ګۍ قسم وي، که به مې رټې!

– دا څه شی غږوې، ښا ځه ووايه څوك يې؟

– نه داسې نه وايم؛ په پورتني قسم وعده راسره کوې کنه، چې رټې به مې نه او خبرې به مې اورې؟

– هو ځه ووايه:

– صه صه صه، افففف په کومو سترګو په کومه خوله، څه رنګه درته ووايم؟

– الګويي مه کړه که وايې ووايه که نه وايې موبايل قطعه کومه؟

– نه، نه قطعه يې نکړې صه صه صه صدف يم له مدين خېلو نه مې زنګ وهلی!

(c) ketabton.com: The Digital Library


ددې خبرې په آورېدو مې له ټول وجود سور تاو پورته شو، خو خير خپل احساسات مې کنترول کې راوستل د مخکې په شان عادي غږ مې ووېل:

- ښا غواړې څه ووايې؟

- غواړم ښښنه درنه وغواړم؛ په ژړاغوني غږ يې پسې زياته کړه: ښېله شکه ته دخدای ډېر نازولی ولي يې، افففف ستا له آزاره توبه.

- ما ښښلې يې!

- نه، نه داسې ښښنه نه يادوم، درځم تر زنې دې نيسم ښښنه درنه غواړم، له ښښنې وروسته بې له کوم قيده؛ شرطه او مالي لګښته دشرعي نکاح په مشروعيت کې دې دژوند تر پايه په ټوله مينه او اخلاص خدمت کې حاضرېږم.

- لا زړه دې نه دی يخ غواړې نورې ملنډې هم راباندې ووهې، تر دې زيات خلك راوخندوې؟

- نه؛ نه؛ خدای ج دې نکړي، دا څو خبرې مې واوره.

ددې خبرې سره مې خرپ موبايل ورقطعه کړو، جګ شوم په هګيو پخولو مې شروع وکړه؛ د همدې هګيو پخولو په جريان کې يې پرله پسې څو زنګونه نور هم ووهل، پرې اوکې مې نکړل؛ فکر مې د صدف خبرو کې و، هګيو هم څه ښخ رانه ونيولو، سوی بوی يې ولګېد، خو خير هرکاره (تخم پزي) مې دګاز له سره رښکته کړه په خوړلو مې يې شروع وکړه، سر سر مې يې ترې راټولولو، په دې وخت کې د صدف زنګونه هم بند شول، تر څو مې ډوډۍ خوړله چايبر هم وابښېدو چای مې وراچولو د دم تر اخيستلو مې يې؛ دوې، درې ګولې

(c) ketabton.com: The Digital Library


ډوډۍ نوره هم وخوړه له دې وروسته مې دسترخوان او هرکاره ټول کړل چای مې راوچولو، نیم ګلاس یا څه زیات به مې څښلی و، چې ګړنګ شو موبایل ته مې مسیج راغلو، لاس مې ور اوږد کړو د بسترې له سره مې موبایل راکش کړو، چې کتل مې مسیج هم دصدف له نمبر نه را استول شوی و؛ د راسپړلو سره سم مې یې په لوستلو شروع وکړه، لا مې پوره نه ولوستی چې ګړنګ شو بل مسیج یې راواستولو د لمړي تر لوستلو وروسته مې د دوهم په لوستلو شروع وکړه، دا مې هم پوره نه و لوستی چې بل یې راواستولو خلاصه پرله پسې یې اوه مسیجونه یې راواستول؛ په مسیجو کې د لیك ترتیب او په خپل ځای د لغاتو استعمال ته په کتو یې، نجلۍ په لوړه کچه باتعلیمه معلومېده، مدین خیلو کې د نجینو لیسه وه، بل ددې پلار سرمعلم و؛ د دولسم شهادت نامه خو به یې طبعاً اخیستې وي، که څه هم د لیك له دیدګاه یې تحصیل لوړ ښکاریدو نور (والله علم)

را ځم د مسیجونو محتوا ته، په لمړیو دریو کې خو یې صرف زارۍ کړې وې، په خپلو بدو عتراف او ښښنې یې غوښتې، ددې سربېره یې هیله کړې وه، چې موبایل مه را قطعه کوه؛ په وروستیو نورو څلور مسیجو کې یې سر تر پایه تقریباً یوه موضوع را استولې و، خو فکر کړم لیك یې زیات و، یوه مسیج یې ضرفیت نه لرلو ځکه یې د څلورو مسیجو په واسطه را استوله و، چې ددې هم لمړۍ کرښې تر ډېره په زاریو او ښښنه غوښتلو راڅرخېدې، خو په هر حال ټول ټال یې دسلام په پیل سره داسې یو څه لیکلي و:

- ستا غوسه او خپګان په ځای دي، ته ملامت نه یې منم زما له لاسه دعالم خلخندۍ شوې، طبعاً ډېرې اندیښنې، بې خابۍ پرېشانۍ او ...

(c) ketabton.com: The Digital Library


به درباندي تېر وي، او ماته به دې هم ډېر آزار کړی وي، همداسې کورنۍ به دې ډېر آزار کړې وي، چې دا دې په سزا يې هم ورسېدم ملا يې بوټه راته ماته کړه بدبختانه شبير مې له لاسه ورکړو؛ خو په والله باالله صمت الله که زه خبره وم تاته زما دکوزدې ګل زما په غايب کې مور او پلار مې درکړی و، منم تاته زما له خوا دا ټولې بدبختۍ در جوړې شوې، ولې زه دومره بې احساسه دلکوشه نه يم، دا هر څه زما له ارادې پرته او يوازې تا ته نه بلکې ما ته يې هم ډېرې سردردۍ جوړې کړې.

خو په هر راز؛ هسې نه ليك مې ډېر زيات شي پرې خسته دې کړم، مستقيماً راځم دې خبرې ته کوم چې شبير هم کيسه درته کړې وه، له کالونو راپه دې خوا مې دشبير سره مينه وه، يو بل ته بې انتها ګران و، خو که ووايم شايد درته دمنلو نه وي چې ته دې دمه مو لاس يو دبل په لاس نه دی لګېدلی، ملګرتيا مو يوازې په لفظي خبرو ولاړه وه، هغه هم د ادب په دايره کې، دا نه وايم چې زه ښه نجلۍ وم دځان ساتنه مې کوله، نه بلکې شبير خپله ډېر ديندارہ پاك نفسه انسان و، حتا ما به چې کوم قدم له چاوکاټ نه بهر کېښود ده به مې په کلکه مخالفت کولو، په تول ددې ټول عمر دملګرتيا کې مو د ادب له دايرې وتل او زياتی هغه عکسونه اخيستل و؛ چې شبير مزار ته دروړل هغه هم د ډېرې اړتيا په اساس پرته له هغه عکسو ممکن ستا باوري کول هم آسانه نه وای. خدای ج مې په سر دی نور مو ډېره سپېڅلې ملګرتيا کړې؛ خو دا هم په هر حال فکر کړم کيسه بيا رانه اوږده شو، ترځينو خبرو به تېره شم رابه شم دې ځای ته کله چې شبير ستاسره مزار کې وليدل، ستا نه له راتلو وروسته کندهار ته ولاړو په وروستي ځل يې زنګ هم له کندهار درته وکړلو،

(c) ketabton.com: The Digital Library


زما شماره يې په ګروپي ډول وصل کړې وه، ستاسو ترمنځ خبرې ما آورېدلې، باور وکړه هغه خبرې ته مې دې تر بيګاه ژړلي چې ورته وېل دې: تاته دې مبارک وي، واقعاً ددې خبرې کول سخت دي، ديو ځوان لپاره هغه هم بيا زمونږ او تاسو پښتانو په ټولنه کې، سخت مې زړه در باندې و دردېدو؛ مور او پلار ته مې آزار، آزار په خوله راتلو، خو افسوز.

راځم مخکنۍ خبرې ته دشبير پنځه مياشتې درسونه پاتې و، دده له فراغت وروسته مو دکوژدې کولو تصميم لرلو، کله يې چې درسونه خلاص شول د واړه خوښيو؛ هيلو او اميدونو سره دکور په لور راروان و؛ له بدمرغه مرګي لاړ ورته نيوله، دغزني ساحه کې يې موټر ترافکي پېښه کړې و، دشبير په شمول ټولې سوارۍ ساه پکې له لاسه ورکړې وه، انا الله وانا عليه راجعون.

ددې ستري غمېزې سربېر له همغې ورځې راهسې چې تا ووېل: تاته دې مبارک وي ګام په ګام يوه تر بله ژورې کندې دي له يوې خېژم په بله کې لوېږم، منم هر څه له خدای ج دي، ولې ګناه مې ستا آزار ګڼم، که ښښنه راته ونکړې، او داسې ښښنه چې دټول عمر لپار دې د خدمت کولو وياړ راونه ښښې، ممکن همدا کړاونه مې ووژني.

هوو رښتيا دا فکر هم ونکړې چې ځان را باندې ټپ کوې، نه؛ نه؛ که وغواړم په يوه ورځ کې د ځان لپاره د ژوند ملګرې پيداکوم؛ هغه هم ښه د مينې وړې ترې مې، ښه ښکلې په مالياتو سنبال او زما واړه شرطونه منونکې، ولې نه غواړم ځکه ماته د ظاهرې ښکلا، او مالياتو په پرتله بااحساسه انسان، باطني ښکلا او معنويات ارزښت لري، زمونږ کلي کې د شبير په پرتله ظاهراً ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library


ښکلي ځوانان ګرځي، خو شبير ما دخپلې پاکۍ هوښيارۍ او انسانيت له مخې پکې انتخاب کړی و، او نن هم چې تاته په ځان رسولو دومره ټينګار کوم؛ هرو مرو دې ځنګ ته درتلل غواړم، نه يوازې دا چې ستا نه ښنه غواړم. بلکې اوس مې شبير ته يې؛ که ته راته دا چانس رانکړې پرته له دې چې د کوم بل ځوان نوم واخلم، ټول عمر به يوازې تېر کړم، خو نه دا خبر به خامخا دربانديې منم.

هو ربښتيا کېدی شي دا سوال هم درته پيدا شوای وي، چې که تاته ربښتيا معنويات او باطني ښايست ارزښت لري صحيح ده، شبير خو دې کليوال و، ټول خوی او خواص يې درته معلوم و، دا به ومنم چې شبير به دې د خپلو ښو خواصو له رويه انتخاب کړی وي، مګر زما د څېرې نه ليدلو سربېره، د خوی او خواصو سره هم ناآشنا يې، بيا دې په کوم دليل شبير وګڼلم.

سوال دې په ځای دی، ولې لکه ځنګه مې چې مخکې دشبير يوه تر بله ښکلو ځانګرتياو يادونه وکړه؛ همداسې دروغ، لاپې يا د چا په غيبت او توصف يې هم بلکل وخت نه ضايه کولو عادت يې نه و، له همدې کبله ډېرې خلك يې دنيکو اخلاقو، ناستې ولاړې نه مثيره و، خپله الګو يې ګرځولې و، دده په قدم به يې قدم اېښودو.

مګر يوازينی کس ته وې چې شبير دې له انسانيت او سترې حوصلې نه متثره شوای و، تل به يې چې زنګ ووهلو ستا يادونه او توصف به يې کولو، خصوصاً دغه اخيري جمله به يې دې ډېره په خواشنۍ سره يادوله چې ويل دې: تاته دې مبارك وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


همدا د شبير له خولې ستا توصفونه او شبير غوندې پراخه فکر لرونکی انسان له ځان نه متثره کول، طبعاً سړی په دې یقین کوي چې دځمکې په سر له خال خال انسانانو نه يې،

له همدې کبله مې قاطع پرېکړه کړې چې ستا په وړاندې به مې تر هغو په سرو سترګو د عذر او زاريو لمن خوره کړې وي ترڅو ستا د ترحم تر سيوري لاندې نه یم راغلې؛ یا مې ددې آرمان قرباني شوې نه یم، ګورته مې نه وي راسره وړی.

مسېجونه همدومره و، اخير کې يې د وېرې تر څنګ دخوشبنۍ پنځه ستېکرونه هم پسې لګولي و.

د مسېجونو تر لوستلو وروسته مې دځواب وراستولو یا نور څه وېلو نه ډډه وکړه، (زړه کې مې وېل اول خو دې شاید کوم بل فساد زړه کې وي، بیا که هېڅ فساد هم نه وي، زه دومره بېغیرته درته ښکاریږم چې په خپلو سترګو مې دې عاشق وليدلو؛ په خپله خوله دې هم راته ووېل: چې کالونه کالونه مې ملګري ورسره کړې، اوس به په دې تهولو سترګې پټوم او تا به خپل عزت او ناموس جوړوم؟)

موبايل مې واپس د بسترې له پاسه کېښود، ګلاس مې راپوته کړو چې غوړې مې ترې وکړو د عادي اوبو په شان يخ کرخ شوای و، په چيبر مې لاس کېښود، دا هم د کوما په حال کې و، دڅښلو نه و.

جګ شوم خيرن ګيلاسونه مې سره د ظرفشويۍ په هرکاره کې واچول د دهلېزه په دست شويۍ کې مې يې په مينځلو شروع وکړه؛ واپس چې اطاق ته راغلم

(c) ketabton.com: The Digital Library


د آذان غږ مې واورېدو، ساعت ته مې سترګې ورجګې کړې څلورنیمې بجې وې د مازدیګر دلمانځه وخت و، څو دقیقې وروسته مې اطاق قلف کړو مسجد ته روان شوم، په لارو مې په جیب کې کړنګار شو موبایل ته مې زنګ راغلو، راومې ایستلو چې کتل مې بیا صدف وه، واپس مې ورقطعه کړو، مسجد کې وم چې بل زنګ ئې ووهلو خو بنه و، موبایل مې مخکې له مخکې لړزه کې کړی و.

څه سر مو خوږوم په هر نیم ساعت کې یې یو زنګ وهلو یا یې مسېج کولو، زنګ خو مې نه اوکې کولو؛ په مسېج کې کله په یو رنګ غذر او زارۍ کله په بل، کله به یې د موبایل د اوکې کولو هیله کړې و، خلاصه دا لړۍ شپو، شپو هفتو، هفتو ته وغځېده؛ بلاخېره تنګ یې کړم؛ دواخانه کې له ډاکتر او کلنیك کې له نورو کارمندانو هم شرمېدم، دم په دم به مې جیب کې موبایل لړزېدو برې برې به یې کول، دشرم تر څنګ وېرېدلم ترڅو هسې نه چې نور شکونه او بدګمانۍ وکړي.

لنډه دا چې شماره مې یې تورلیست ته واچوله زنګ او مسیجونه مې یې وربند کړل. له دې سر دردۍ مې ځان خلاص کړو، د مخکې په شان آرام فکر مې دې دواخانې د کارونو تر څنګ خپلو کورسونو په تقیبولو پیل وکړو، خو دا چې دتېر ژمي سره سره د اوړي په رخصتۍ کې هم کور ته نه وم تللی؛ پس له امتحانو ددې ژمي په را رسېدو مې مور وېل:

– نور که ته نه راځې زه درځم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


اګر چې زړه مې نه کېدو که د کليوالو له مانه بد راتلل برعکس ما يې هم په وړاندې حساسيت پيدا کړی و، هېڅ مې نه خوښېدل چې مخ يې په مخ راولړې

خو مور مې مجبور کړم چې ورشم، که څه هم په موبايل مې يې ورځ کې دری څلور کرته احوال اخيستلو تر څنګ مې ئې دمرواء پوښتنه هم ترې کوله، ولې په دې يې بسنه ونکړه، له ډاکتر نه مې تر پسرليه اجازه وغوښتله د ډاکتر هم لاس راباندې سپک و، زړه يې نه کېدو چې ترې ولاړ شم وېل يې:

– مه ځه ورډګو کې جنګونه دي، خوږ به شې.

اما د مور خبره مې چې ورسره شريکه کړه نور يې غږ ونه کړو، جيب ته يې لاس کړو پنځه زره افغانۍ يې راته ونيولې وېل يې:

– اممم دا دې کرايه کړه!

– خير يوسې پيسې لرم!

سرې په جدي انداز وويل:

– واخله!

پيسې مې ترې راواخيستې خدای پماني مو سره وکړه ترې رارون شوم.

سهار وختې دمزار نه دکابل په لور موټر کې راوختلم، تر ټولې ورځې مزل وروسته قضا مازديګر کور ته راورسېدم، مور او خويندې مې ډېر راته خوشحاله شول همداسې زه يې هم په ليدو خوشحاله شوم اما رنګونه يې داسې خراب و، د سبب پوښتنه مې يې ترې وکړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library


– ولې مو رنګونه داسې الوتي خيرت خو به وي؟

– هو شکر خيرو خيرت دی،

کومه ستونزه يې راپه ګوته نکړه خو فکر کړم د کليوالو د بد برخورد ، پس پسك، خبرو، دصدف په کيسه خبرېدو له وجې ځورېدل رنګونه يې الوتي و، ما هم په همدې تړاو ډاډګيرنه ورکړه:

– د چا کيسه کې نشئ خپل خوشحال ژوند کوئ، خلك چې هر څه وايي وايي يې دې، مورې او تاسو هېڅ بد يا دشرم کار نه دی کړی، صدف مورې وکړه؛ چې پوه شو بې لارې ده واپس مو ورپرېښوده، دا بې غيرتي نه ده بلکې غيرت مو کړی، ځکه زمورې کور فاحش خانه نه ده، چې فاحشې ورته راټولې کړو؛ او همداسې د مرواء دغو سره مو کوم بد کړي؟

مدينه مسکۍ شوه وېل يې:

– مورې! لالا رښتيا وايي مورې هم دا دومره وخت له فکر کولو پرته ځانونه د خدای ج په وړاندې ګناهګار او د خلکو په وړاندې ملامت ګڼل د زړه وينې مو ورسره خوړلې، بلا مو پسې.

که څه هم مور مې مدينې ته په خوله څه ونه وېل، ولې د تندي له ورين والي يې معلومېده چې خبرو مې خوند ورکړو.

خو په هر حال راځم دې ځای ته شپه تېره شوه، سهار له چای خوړلو وروسته بهر ووتلم، لمړی د مسجد تر سپاچې ولاړم، چې دا سپاچه د ټول کلي مرکزيت و، لوی او واړه به پکې راټولېدل، په سپاچه له څو لهذو تم کېدو وروسته باغ

(c) ketabton.com: The Digital Library


ته روان شوم؛ په زړه مې توري لړې راخورې شوې، د کور نه په راوتلو پښیمانه شوم، په وړاندې مې د خلکو چلند نظر تېر کال ته بېخي ترینګلی و؛ هغه وخت لا ښه و، یو نیم به چې مجبور شو، زړه نازړه به یې دوې ګوتې راته ونیولې، دا ځل نه یوازې دا چې هېچا سترې مشي راسره ونکړه؛ بلکې خپلو منځونو کې به یې خندل ټوکې یې وهلې، نتیجه کې یې د صدف د پېغور پیام په ښکاره ښه تر ما رارسولو، (زړه کې مې وېل: افرین مې په مور او خویندو، ددې یهودو منځ کې به یې ولې رنګونه نه وي الوتي)

باغ کې هم له څو دقیقو وخت ایستلو وروسته واپس کور ته راغلم، له دې پس دوه هفتو کې هم یو ځل له کوره نه وتلم، ژمی مې په همدې شان تېر کړو، پسرلی غزني ته ولاړم تر ټوله سودا راپوره کولو وروسته مې مور او خویندو ته په لاندې کلماتو ډاډګیرنه ورکړه:

- فقط تر راتلونکي منی صبر وکړئ چې زما دا یو اخیرنی کال دې پوهنتون هم خلاص شي، تر هغه پورې د هېچا کیسه کې مه کېږئ، منی که ددې یهودو چلند په همدا شان و، هرو مرو مو غمه خورم داسې ځای ته مو بوځم چې...

خبره مې د همدې خوشبینۍ په نقطه کې ګونګه پرې ښوه، نور مې څه ونه وېل، سبا مې بیك اوږه کې واچوه، خدای پاماني مې وکړه د پوهنتون په لور روان شوم، پوهنتون کې تر اولیه کارونو کولو درې څلور ورځې وروسته بیا ډاکتر ته ورغلم، ډاکټر مې په لیدو ډېر خوشحاله شو، که څه هم ډوډۍ مې خوړلې وه، اما ده، پرته له دې چې ما وپوښتي، هوټل ته یې زنګ ووهلو، شیبه وروسته یوه هلك په هغه پلاستیکي یك بار مصرف کاسه ګکو کې یو

(c) ketabton.com: The Digital Library


خوارك پلو راوړو، ما هم په بسم الله سره شروع پرې وکړه، خو موړ وم تر نیمایي مې چې وخوړله نوره نه کېده، واپس مې د کاسه ګکې سر پوښ پرې ورنسکور کړو، جګ شوم بهر مې د یوه کانتنر تر څنګ کېښوده تر څو سپایان یا پشکې یې وخوري، دواخانې ته په راګرځېدو مې له ترموز نه چای راواچولو ددې تر څنګلو وروسته مې له ډاکتر نه د اطاق دکلیو پوښتنه وکړه؛ دمېز روق یې کش کړو کلۍ یې راته ونیولې، دا مې را واخیسلې اطاق ته وختلم د بیك تر اېښودو، واپس دواخانه ته راښکته شوم په کار مې پیل وکړو؛ ډاکتر نوې راوړې دواوې راته معرفي کړې، شیبه وروسته یې وېل:

- زه یوې جنازې ته ځم، ته کولی شې دواخانه وکړې، که خسته یې بیا ممتاز راغواړم؟ ممتاز یې دزوی نوم و.

ډاډ مې ورکړو:

- نه، نه زه شته یم بېغمه ورځه!

ډاکتر مې روخصت کړو.

فکر کړم کیسه بیا رانه اوږده شوه، وبښئ، دا وړې، وړې پېښې او خبرې دي وي، راځئ راساً به دا خبره وکړم چې دا اوړی مې هم د تېر کال په شان نیمه ورځ پوهنتون کې نیمه ورځ د دواخانې په کولو سره تېر کړو، او همداسې په څنګ کې مې یې یو کورس هم ورسره تقیبولو، دشپې له خوا به مې تر لسو، یولسو بجو د پوهنتون د ورځنیو درسو سره پخوا کې دکورس درسونه زده کول، کارخانګۍ به مې رسولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


البته ديوې خبرې بايد يادونه وکړم، ما به فسبوك او انترنتي نور افشنونه ډېر نه کارول ترڅو له درسونو پرې ونه وځم هسې په هفته کې به مې که يو ځل ډېټا کليك کړه په فسبوك يا کوم بل افشن کې به مې څو دقيقې تېرې کړې؛ په همدې اساس فکر کړم دمېزان اخېرې شپې ورځې وې، نه پوهېږم چې د څه په خاطر ملي روخصتي وه، دلماسبنين له لمانځه وروسته مې کميس په کوټ بند راځوړند کړو، هوا ګرمه وه، يوازې پرتوګ او زېر پېراني مې ځان کې وه، بسترې ته مې څنګ ووهلو، ډېټا مې روشن کړه ګوګل کې مې په څه معلوماتو پسې سرچ وکړو؛ دمعلوماتو تر راپيدکېدو مخې ګړنګ شو، واټساف ته مې يو مسېج راغلو؛ راومې سپړلو نوم يې نه و، واټساف نمبر ناشناخت و، ليکلي يې و:

- سلامونه او نيکې هيلې، الله ج دې وکړي اکبر جان اوسې اشتباه مې نه وي کړې؟

په ځواب کې مې ورته وليکل:

- وعليکوم سلام مننه؛

نه اشتباه دې نه ده کړه؛ هو اکبر يم؛ خو په ښننې سره ته مې هم ونه پېژندې؟

- چېرته يې؟

- مزار کې يم، خو خپل اسم مبارك دې راته ونه ويلو؟

- کور ته دې څه وخت ځې؟

- نوم دې نه وايې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


- په قهر شوې؟

- نه په قهر نه یم، خو اکلاً دومره باید سړی پوه شي چې د چاسره تماس کې یم؟

- صحیح ده، نوم درته وایم، ولې ستا دې په خپله خوانۍ یا دهغه چا په سر قسم وي، چې تر ټولو ډېر درته ګران وي، که به مې بلاك کوې، واپساف مې دې د موبایل دشمارې له مخې ډېر په خوارۍ پیداکړو، صدف یم.

قسم را اچولو ته په کتو یې، که څه هم ځان مې دومره راته مهم نه و، خو مور مې او ترځنګ یې خویندې مې راباندې ګرانې وي، بلاك مې نکړه ولې د ځواب له ورکولو نه مې یې ډډه وکړه.

دڅو دقیقو په تېرېدو سره یې بل مسېج وکړو؛ خلاصه تر څو مې انترنیت آنلاین و، څلور و، که پنځه لوی لوی متن لرونکي مسېجونه یې نور هم وکړل، ولې محتوا یې همغه پخوانیو دسیمکارت مسېجونو ته ورته په بېل بېل ډول عذر، زاریو، قناعت آور او رضاء کونکو خبرو راڅرخېده، که څه هم ټول مې ولوستل، چون په ځواب ورکولو مې یې بیا هم خوله پټه کړه، ګوګل ته راغلم د اړتیا معلومات مې ترې کاپي کړل، نور مې انترنیت آفلاین کړو؛ دې کیسه ته دفعلاً لپار همدلته دپای ټکی اېږدم.

را ګرځم خپلې مخکنۍ خبرې ته ترڅو هېر شوي مو نه وي تکرار وایم لکه څنګه مې چې مخکې ووېل: دا اوړی مې هم د تېر کال په شان نیمه ورځ پوهنتون کې نیمه ورځ د دواخانې په کولو سره تېر کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ان تر دې چې منی د امتحانو له ورکولو څخه څه وخت وروسته نتایج اعلان شول، د پنځه اتیاه فیصدۍ په تر لاسه کولو سره بریالی شوی وم، ایششش پس له وختونه هغه وه خوشحالي، کور ته مې زنګ ووهلو په مور او خویندو مې زیری وکړو هغه هم ډېرې خوشحاله شوې، مور مې د خپل عادت سره سم له ډېرې خوشحالۍ په ژړاه شوه (زړه کې مې په ډېر افسوز سره راتاو شول: کاشکې مرواګۍ هم وای اوس به څومره خوشحاله شوې وه) خو په هر حال د همصنفیانو او ملګرو سره مې خدای پامانۍ وکړې همداسې ټول محل، خدای پامانۍ، خدای پامانۍ خنداوې او ژاړوې وې؛ تقریباً دولس نیمې بجې وې دواخانې ته راغلم په ډاکتر مې زیری وکړو واقعاً ډاکتر هم ډېر خوشحاله شو وېل یې:

- زیری دې هرو مرو در کوم.

تر ډوډۍ خوړلو وروسته مې بیا تر تیاره مابنامه دواخانه کې کار وکړو، مابنام مې ډاکتر ته ووېل:

- ډاکتر صیب! زه سهار وختې پخیر ځم، شاید بیا دې ونه وینم، غواړم خدای ج پاماني همدا اوس درسره وکړم.

ډاکتر د ټوکې په انداز راغبرګه کړه:

- څه شی کړې سړیه! مه ځه هاخوا جنګونه زیات دي سبا به مړ یې؟

په مسکاه مې ځواب ورکړو:

- توکل په خدای ج

(c) ketabton.com: The Digital Library


بیا یې وویل:

- راشه بله وکړه!

- څه؟

- دا مور ته مخامخ شاهین عالي تحصیلاتو موسسه په عالي کچه، د ماسترۍ زده کړې ورکوي، سند یې هم ټولې دنیا ته دباور وړ دی، رائیس یې زما ملګری دی، لمړی خو دې ببله فیسه پرې شاملوم، ولې بیا هم که کم او توم څه یې غوښتل زه یې ورکوم.

- مننه ډاکتر صیب؛ نه اوس خو نشم کولی، پسرلی پخیر که ژوند و، تماس درسره نیسم که ممکن و، راځم.

- ښا سمه ده، پسرلی هم کېدلی شي.

نور د ډاکتر سره غېږ په غېږ شوم خدای پاماني مو وکړه ترې راروان شوم دوه درې قدمه مې لا نه و اخیستي چې له شاه نه یې غږ وکړو:

- آآآآآ ته صبر، صبر اوس دې نژدې زړی رانه هېر و.

مېز کې یې د پیسو د دخل روق راکش کړو، پیسې یې ترې راټولې کړې چې شمار یې کړې، دیرلس زره اوه سوه (۱۳۷۰۰) افغانۍ شوې لمړی یې لس زره ترې رابېلې کړې وېل یې:

(c) ketabton.com: The Digital Library


– دا دې زېرى؛ ښه خو نه پرې کېږي اما يو برابر موبايل به پرې واخلې، پسې زياته يې کړه: داسې يو ناڅاپه دې د تلو خبره وکړه کني ما وېل چې زه به سم زېرى درکوم.

مننه مې ترې وکړه

بيا يې په لاس کې له پاتې ۳۷۰۰ پيسو نه دوه زره راته ونيولې وېل يې: دا دې کرايه.

که څه هم هر څو مې ورته ووېل: پيسې لرم، جيب ته مې لاس کړو درى زره روپۍ مې ورته را وايستلې، خو ده يې په جدي انداز د راکولو ټينګار وکړو، ددې پيسو ترې اخيستلو وروسته يې په لاس کې له پاتې ۱۷۰۰ پيسو ۷۰۰ نورې راته ونيولې وېل يې: په دې به په لارو ډوډۍ خورې، ددې پيسو ترې راخيستلو وروسته يې وروستى يو زرګونى راته ونيولو وېل يې؛ په دې به دکور لپاره، له کابل نه لږ ترکارې مرکارې درسره واخلې.

په داسې حال کې چې ښى لاس يې زما لاس کې و، د چپ لاس په واسطه يې د اوږې له پاسه و ټپولم وېل يې:

ځه نور مې په خداى ج سپارلى يې؛ همچنان ځوابيه مننه مې ترې وکړه اطاق ته راروان شوم شپه مې اطاق کې وکړه سهار وختي پاڅېدم تر اودس او لمونځ کولو وروسته د سه سدو سه موټرو اډې ته راغلم يو موټر چې له اډې نه راوتلى و، د عمومي سرك په څنډه ولاړ و، کلنډر يې تکتونه لاس کې نيولي و، نارې يې وهلې کابل کابل؛ دوه نفر کم است، چې په ما يې سترګې ولګېدې وېل يې:

(c) ketabton.com: The Digital Library


- کابل میری بیایې بچه کاکا حرکت است؟

ورغلم موټر ته له ختلو سره سم کلنډر د ډرېور تر شاه چوکۍ ته اشاره وکړه په فارسي يې وېل:

- دا چوکۍ هم خالي ده؛ خو کرایه يې د شاته چوکیو په پرتله سل افغانۍ زیاته ده؛ همدلته کېناستم، تقریباً د لس، دولس دقیقو په تېرېدو سره سوراري پوره شوه، د ډرېور دوېلو مطابق په دسته جمعي ډول مو د دعا په کولو سره حرکت وکړو تهولوه ورځ په سفر تېره شوه مابنام کور ته را ورسېدم د مور او خویندو په روغ او جوړ لیدلو مې خوشحاله شوم، همداسې دوی زما په لیدو خوښ شول، د مجلس په جریان کې مې د مرواء پوښتنه وکړه، مور مې وېل:

- نه د بېچاره تر اوسه هېڅ احوال نه دی معلوم، بېګاه مې په خوب لیده چې مړه وي، حوېلۍ کې په برنډه يې چارپایي کې اېښې وي، زه ورغلمه کفن مې يې له مخ نه واړولو، مسکې شونډې، ورین تندی لکه ویده ماشوم چې ملایکې خندوي، سپوږمۍ غوندې ځلېده غونډه منډه پرته وه.

- توکل په خدای ج مورې! په خوب کې مړی، ژوندی دی؛ الله ج ته هېڅ دي کېدی شي یوه ورځ يې همداسې جوړه روغه او خوشحاله در ووینې،

- ویییی کاشکې زویه! داسې مې یادېږي، نور يې ستونی را ډك شو په ژړا شوه خبرې ترې ولاړې په خپلو اوښکو وچولو شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ما مدينې ته مخ وروا ړو د څو محرم کورنيو خبرو کولو وروسته مې ورسره د کليوالو دچلند پوښتنه ترې وکړه، راغبرګه يې کړه:

- همغه شان دي، موږ له کورنه بهر نه وځو او نه څوك راغلي.

د مدينې په وړاندې مې مايوسانه خاموشي اختيار کړه غږ مې ونکړو؛ يوه لهذه وروسته فريښتې غږ راوکړو:

- لالا حمام کې مې اوبه درته ايښې، يخېږي ورشه حمام دې وکړه.

ورجګ شوم حمام مې وکړو، جامې مې بدلې کړې، لماخوستن له ډوډۍ خوړلو وروسته مې مور راته ويل:

- زويه! تلفون کې مې نه درته ويل چې مسافر يې جګرخون کېږې، څو ورځې مخکې چې غزني کې هغه ستر چاونده وشوه، ټبدو زموږ د دوکانو مخکې شوې وه، درې واړه دوکانونه مو يې ړنګ کړي و، کاکا دې ورغلو ويل يې: ټبخي يې د خاورو سره خاورې کړې و، د دوکانو په ځای پرته له کوټ کوټ خاورو نور هېڅ نه معلومېدل.

چې خدايي شي د مور په خبرو مې سخت خپه شوم، ځکه زموږ ټول عايد همدا دوکانونه و، مياشت په مياشت به مو يې کرايه اخسته له اقتصادي اړخه مو ژوند ښه خوندور پرې روان و.

ولې مور ته مې دتسليت په ښه ور وګرځوله:

(c) ketabton.com: The Digital Library


- خیر مورې! مه خپه کېږه فعلاً خو دومره څه لرو چې ویې خورو وروسته هم الله ج مهربانه دی، دغه دي اوس خو زه هم فارغ شوم، پسرلی پخیر کوشش کوم چې یوه دنده راپیداکړم، یوه مړۍ (ګوله) حلاله ډوډۍ لاس ته ترې راوړم.

- ښا خیر یوسې زویه! زړه مې دې راتکیه کړو، زړه (بوډۍ) شوم که خدایزده څه بلا؟ اوس مې هغه پخوانی غټ زړه نشته، راهسې چې خبره شوې یم، شپه ورځ همدا اندېښنه کوم.

- نه، نه مورې! الله ج روزي رسان دی اوس به یې وخته له بلې خوا راته حواله کړې وي، اندېښنه مه کوه.

دې مجلس ته مو په همدې خبره د پای ټکی کېښود، د ویده کېدو لپاره مې خپل کټ ته ولاړم تر څو چې خوب راتلو موبایل مې راوخیستلو ډیټا مې کلیك کړه د انټرنیت سره انلاین شوم؛ فسبوك افشن مې راوسپړلو ترڅو فسبوك عیارېدو چې کړنګ، کړنګ واتساف ته پرله پسې د دوه لیکلو پیامونو سربېر تر لسو زیات صفتي پیامونه راغلل، چې کتل مې صدف وه، په دسته جمعي ډول د ټولو مسېجو هدف یې دهمغه مخکنیو مسیجو په مطلب او زما په قانع کولو را څرخېده؛ خو یو تر بل ډېر د عاطفي رنګ ور زیات والي، ژبې فصاحت او بلاغت، ښو ادبیاتو کارولو، له وجې هېڅ داسې نه ښکارېدل چې ددې ټولو مسېجو مقصد دې یو وي یا د یوه خبره پکې شوې وي.

بلاخېره ټول مسېجونه مې ولوستل وا مې وربدل، اما برعکس په څواب مې یې د تېر په څېر خاشه واچوله، له واتساف نه راووتلم د فسبوك په صفحه مې

(c) ketabton.com: The Digital Library


یو دوه کرته ګوته ښکته، پورته کش کړه، نور خوب راغلو انټرنیټ مې افلاین کړو ویده شوم.

دسهار په رارسېدو مې پخپلو عادي چارو لاس پورې کړو؛ لنډه دا چې ژمی د تېر ژمي په څېر ګونګ تېر شو، دکلیوالو وضعیت همغه شان بې خونده و، ټول ژمي کې نه پوهېږم چې درې که څلور ځله بهر ووتلم هغه هم د زیاتې اړتیا په اساس.

بناً دپسرلي په راسېدو چې د اشرف غني د واکمنۍ لمړۍ دوره وه، جنګونو زور واخیستلو، اکثره وخت به مو کلي د طالبانو او دولتي ځواکونو د جګړې تر منځ راتلو مرمۍ دخزان دپاڼو په شان آورېدلې، هوانونه دکورنو منځ کې لګېدل، ددې سربېره د شپې به امریکایانو چاپې وهلې، دروازې يې په بمونو آلوزولې خلك يې له کورونو ایستل، وهل ډبول يې، په چا به يې چې دطالب شك شو، له ځان سره يې وړل، بلاخېره دخلکو تر زغم او حوصیله خبره لوړه شوه، دچا چې وس کېدو د پېړیر پېړیو، ژوند کولو له مېنې، شنو باغونو، فصلونو، مالونو هر څه تېر شول کرار کرار یوازې دسر ساتنې په پار دخپلو ځېږو ځړوکیو سره امن ځایونو ته دکډوالو په حیث روان شول، اصلاً امن ځای ټول وطن کې نه وو، خو بیا هم ځینې ځایونه نظر ځینې نور ته ښه و، په ټول کې ښارونه کې څه دسکن ساه اخیستل کېده، اګر چې ښارونو کې که جنګ نه وو، ولې ډېرې درندې، درندې چاودنې پکې کېدلې، روزانه لسګونه انسانانو خپل ژوند په داسې شان له لاسه پکې ورکولو چې خپلې نصبې به يې لانه پېژندل، لاس به يې په یوه و؛ پښې په بله، حتا ډېر داسې شول چې کورنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library


ته يې يوه كيلو غوښه هم په لاس ورنغله د بم د درز سره ذره ذره شول، چون بيا هم ښارونه نسبت كليو بانډو ته ښه ګڼل كېدل.

په همدې حساب موږ خو نو هسې هم له كلي او كليولو نه زړه توري او په توره تښتنه و له دې زريني بهانې نه په استفاد ټوله زندګي مو تر شاه كړه، څړي څړوكي مو رابار كړل كابل ته راغلو، كوټه سنګي كې مو دكلاى وحد كوچه كې وړاندې په يوه فرعي پس كوڅه كې د ۵۰۰۰ افغانۍ په مقابل كې يو كور په كرايه ونيولو، سر له سبا د يوې دندې پيد كولو په لټه كې شوم، هرې دولتي اداري او شخصي شركتونو ته مې سيويګانې ورسولې، امتحانونه مې وركړل، چون بدبختانه په نمورو ادارو كې به د امتحان دنتايجو سربېره سيوي، ميوي هر څه ورك شول، لنډه دا چې مياشتې مياشتې مې په دې منډو تررو، تېرې كړې؛ كومې پيسې مو چې لرلې څه د كور كرايې يوړې څه مو وخوړې، نور نو د بېخرڅۍ سر هم مخ شوو، تر لرې لرې ساحو به پلى تلم راتلم، اما دوخت په تېردو د دندې له پيداكېد بلكل نااميده شوم؛ دنده پيداكول زما غوندې بې پيسو او بې واسطې افرادو له سوبه ډېر لوړ كار و، حتا نور وريسې په ګرځېدو يې هم ځان بې عقل راته ښكارېدو، له دندې، مندې ببخي تېر شوم هېڅ مې ځان باسوداه نه ګڼلو، وچ دشنو مزدوريو له طريقه ديوې مړۍ ډوډۍ پيداكېدو په لټه شوم، په لمړي قدم كې چې كراچۍ مو تياره لرله ددې لپاره مې په نجار د(۸۰۰) افغانيو په مقابل كې يو تخت جوړ كړو؛ له دې وروسته ماركېټ ته لاړم په (۲۵۰۰) افغانۍ مې درى منه اوړه (سير) واخيسته (۱۰۰۰) افغانۍ مې په تله، پاويو، چاركيو...... وركړې سبا مې نر غوندې كار شروع كړو، لاسي كرچۍ وه، په ټول بازار كې مې هاخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library


دې خوا ګرځوله تر مازديګره مې د (۳۲۰) افغانيو خرڅه کړله چې حساب مې ورته وکړو سل، يوسل شل مزدوري راته پکې پاتې کېدله، نور نو مابنام و، يو نيم متر فراشوټي تيکه مې واخيسته دامې پرې کش کړه، کراچۍ مې يو سرای ته ننه ايستله تر سهاره يې په ساتلو شل روپۍ کرايه اخيستله، سرای لوی و، وړاندې تر يوه رېکۍ لاندې مې ودروله، شپه تېره شوله، سبا مو چې کتل سخت باران و، دکار ورځ خو بلکل نه و، تړوله ورځ ښه په شرنګ و اورېدل، په دې بل سبا هم همداسې خلاصه پوره درې ورځې يې دوام وکړو، په څلورمه ورځ نو اسمان شين و، ښکلې تازه هوا وه، زه هم ډېر په طبعت د خپلې کراچۍ او مزدورۍ په لور ور روان شوم، کرچۍ ته چې ورسېدم، پرې خور پراشوټ يو قسم بمبوخ (پورته) ولاړ وو، لکه څه ژوندي شی؛ پشکه، مشکه چې ور ننوتلې وي، چهارچاپېر ترې تاو شوم کوم سورې يا دپشکې دورننوتلو لاره نه پکې ښکارېده، بلاخېر پرې اخته شوم ترې تاو تسمه مې خلاصه کړه، چې پراشوټ مې تر پورته کړو، بوووووو تك شين باغ ترې جوړ و، په قدرت دې خدای ج په تول ددې دريو ورځو کې په هر پلي اوبه کم او زيات يوه، يوه لوېشت شين بلګ (ډنډر) ولاړ و، چې ببخ ته به مې يې لاس ور وړو، چيشته پيشته شوی و، لکه څه شی درته وښيم؟ خو ورکه وه يې بلا يې دې په مثال شي، راځم خپلې خبرې ته، نور بلکل ددې نه وه، چې سرې يې وباسي خرڅه يې کړي، ها خوا يو مازدا موټر ولاړ و، ورغلم ددې دشا له تېر سره مې ګراچۍ ورخالي کړه، سرای ډېر غټ وو؛ ساتونکي ته نه ښکارېدم؛ مخته ډېرې نورې کراچۍ او موټر ولاړ و؛ لنډه يې دا چې اوبه خو په اوبه پسې ولاړه، په خالي کراچۍ مې ها پراشوټ هوار کړو پرې را روان

(c) ketabton.com: The Digital Library


شوم، په دروازه کې مې شل روپۍ ساتونکي ته کرايه ورکړه، له سرای نه راووتلم، دتور وينو ډك دکور په لوري رااروان شوم، کور ته دداخلېدو سره سم مې مور غږ راباندې وکړو:

- زويه! څنګه واپس راغلې، سهار خو دومره ورخطا وې په نيمه شپه دې پراته غوښته چې کار ته ځم ناوخته کېږي؟ مور ته مې هسې يوه بهانه وکړه، په اصلي کيسه مې له مور او خويندو هم شرمېدم، بل خوا مې وېل: زړه ښځه ده، زړه يې بد پرېږي، ددې سربېره چا ته کيسه ونکړې، شرم دی.

خلاصه څو ورځې بيا بېکاره شوم خو ددې بېکارۍ په لړ کې هم کور کې کرار نه وم، غزېدلی، بلکې ټوله ورځ به بازار کې ګرځېدم تر څو دخپل وس مطابق يو کار او کسب پيداکړم، خو له بدمرغه ډېر وخت ووتلو لا مې هم پيدانکړو په همدې وختونو کې يوه ورځ مازديګر و، له ښاره راغلم ډېر ستړی هم وم، دګوټه سنګي تر هوايي پله راتېر شوم؛ دلته دايم ګڼه ګوڼه وي، هڅه مې کوله چې کلا واحد کوڅې ته ځان سيخ کړم، په همدې ګڼه ګوڼه کې مې له چپ لوري چا دنوم په اخيستلو غږ وکړو، چې ستر ګې مې ور واړوې، يو سپينږيری کاکا يې دکرچۍ تر څنګ ولاړ دی لاس ښوروي، ورتاو شوم؛ دا هغه څوك و، چې څه وخت مخکې مې دکراچۍ لپاره دتخت جوړولو مشوره ورسره کړې وه، نجار يې راته ښودلی و، د ورسېدو سره سم مو ستړي مشې وکړه پسې پيوست کاکا پوښتنه وکړه:

- نه ښکارېږې، څنګه دې وکړل، هغه تخت دې جوړ کړو کنه، کوم کار او بار دې شروع نکړو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


ومې خندل ورغبرګه مې کړه:

- رښتیا درته ووایم که دروغ؟

- دروغ ولې وایې؟ رښتیا ووایه!

د اوږې کیسه مې ورته شروع کړه، دکیسې په اوږېدو سړې ډېر وخندل، په عین حال کې یې سخت زړه هم بد شو.

بیا یې ووېل:

- راشه یو بل کار دروښایم مخکې ما کولو ښه مزدورې پکې پاتې کېدله، خو لږ سرګرداني یې زیاته وه، زه سپینږیری یم، رسیده ګي مې پسې ونشوی کولای، بېخي یې ستړی کړم، ته یې ښه کولی شې.

- کوم کار؟

- د ښار مراد خانیو ساحې په قصاب کوڅه کې دا ډېسونو سرونه، او پښې (کله پاچه) پاکوي بیا یې دعمده فروشۍ په حساب خرڅوي، دانه په اویا، اتیا، افغانۍ درته لوېږي، د ورځې یو لس پنځلس راوړه، دلته په دوه سوه، یوسلو اتیا، یونیم سل افغانۍ ښه صحیح وځي، ما ډېر وخت دا کار کړی، ښه مزدوري پکې پاتې کېږي، افسوز چې زه سپینږیری نه وای.

- کومه یې ولا دا کار مې خوښ شو، هر ځای یې چې وینم خلك ترې ورتاو وي، ښه خرڅېږي ته یې لږ سم آدرس راکړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library


آدرس يې راکړو پسې زياته يې کړه: له مازديګره، مازديګره يې راوړه، چې سهار له سره ښه کار کېږي، که سهار پسې ولاړ شې تر دولسو بجو نشې رارسېدلی، رابندان وي،

- سمده، نور ستړی وم له کاکا مې خدای پاماني واخيستله ترې روان شوم.

مشوره مې يې واقعاً خوښه شوه، يو دوې چارې، يوه هغه ستره مجمه او همداسې څه نور وسايل ورته پکارېدل، اټکلاً يو درې، څلور زره روپۍ پرې لګېدلې، چې کور ته ولاړم، له مور نه مې پوښتنه وکړه، ۱۸۰۰ افغانۍ ورسره وې، دا ۸۰۰ مې ور پرېښوې ۱۰۰۰ مې دا ترې واخيستلې درې زره (۳۰۰۰) روپۍ مې سبا ډېر په سختۍ زر له يو نه؛ زر له بل او زر له بل نه، خلاصه وروسته له دوه ورځو مې يو پنځه زره روپۍ ورته برابرې کړې، په دريم سبا پسې روان شم، قصاب کوڅه مې پيداکړه، يو ځای ته ورغلم چې همدا دېسو سرونه پکې پاکېدل (تورېدل) دلته يې له (۱۵) پنځلسو کم نه خرڅول، او څومره به دې چې زيات اخېستل ارزانه يې حسابول، حساب مې ورته وکړو، يو سر د څلورو پښو سره په ۹۰ افغانۍ تمامېدو.

دوکاندار ته مې وويل:

- زما لمړۍ ځل دی چې دا کار شروع کوم، نن يو پنځه دانې راکړه، له يوې خوا ورسره نابلده يم؛ بل خوا تر څو کوټه سنګي ته رسېږم کار شروع کوم، درې بجې کېږي، دشپې خو نه خرڅېږي؟

دوکاندر راغبرګه کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library


– که تر پنځه لسو يو هم کم اخلې تر (۱۵۰) يې کم نه حسابوم.

خو چونې چونې، ايله مې (۱۱۰) افغانيو ته پرې راوستل، نور مې نو يو پنځه دانې ترې واخيستل، په پلاستکي بوجۍ (ګونۍ) کې يې راته واچول، راپه شاه مې کړل.

که څه هم اول خو مې زړه وه، چې تر سينما پامېر دګوټه سنګي تر ملي بسو يې په شاه راوړم؛ تر ګوټه سنګيه به مې د ځان سره پنځه روپۍ کرايه پرې ولږي، خو نشوه ډېر درانده وه، دپلخشتي سره مې تصميم بدل شو، له همغه لنډ چوک نه دکوټسنګي په واړه موټر يوه سراچه کې وختلم، سرونه مې ډاله کې ور واچول، سواري پوره شوه حرکت مو وکړو؛ پاو باندې دولس بجې وې چې کوټه سنګي ته ورسېدلم، تر څو مې کرچۍ مراچۍ او نور وسايل برابره ول، دوې بجې شوې، په دوه بجو مې دامنيتي پستې چپ لاس ته په دې ګڼه ګوڼه کې دسرك په څنډه کرچۍ ودروله. لکه څنګه چې هر کار په لومړيو کې ستونزې لري، همداسې زما هم د دکاندارانو او نورو کرچۍ والو سره د ځای هغه او دغه په سر لمړی لږ، لږ لانجې رامنځ ته شوې خو خير کله به مې د دوئ سره دعوې وهلې، کله به مې دمشتريانو سره چنې وهلې، کار مې شروع کړو؛ پنځلس، شل دقيقې به لا نه وې وتلې چې يوه پاخه سن ولا ښځه راغله وېل يې:

– دا په څو دي؟

لمړی مې په دوه نيم سوه ورته ووېل، بلاخېره په پوره دوه سو جوړ شو.

پيسې يې راکړې چې پلاستيك کې مې ورته اچولو زياته يې کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library


وښکالي يې پرې غوڅ کړه، زامې يې ترې وباسه داسې يې نه اخلم.

شروع مې پرې وکړه، وښکالو کې خو مې يې چاړه وربنده کړه پرې غوڅ مې کړه، اما په زامو مې يې چې هر څو زوروونه ووهل ومې نشوی ایستلی لا مې هم زورنه پرې وهل، په عين حال کې وېرېدم هم چې ښځه روانه نشي همداسې يې پرې نږدي.

خو خير دې يوسي وېل يې:

- لکه چې کار دې نوی شروع کړی؟ دا چل غواړي په بدماشۍ نه وځي، ځه خير پرېږده يې، زه به يې کور کې پرې وباسم.

د خاله جانې خبره ملهم غوندې راوګېده.

- هو ولانن مې اوله ورځ ده، نور يې تر زامو ایستلو تېر شوم، پلاستيک کې مې ورته واچولو، خاله مې روخصت کړه، څو دقيقې وروسته يو بل بايسکېل واله را وګرځېدو، د دوه سوه (۲۰۰) افغانيو په بدل کې مې يو دانه په دې خرڅ کړو؛ دا يې دوه برکت.

لنډه يې دا چې دکم وخت په تېرېدو سره مې دوه نور هم خرڅ کړل، پاتې شو يو دانه، دا هم په (۱۸۰) او (۱۹۰) څو مشتريانو رانه وغوښتلو؛ خو دا چې يو پاتې و، ډاډه وم خرڅېږي، تر (۲۵۰) مې چا ته نه کمولو، اما خبره زما دفکر برعکس شوه، کرار کرار بازار سوړ شو، دلمر وړانګې دآسمان لمنو ته شوې، نور نو زما سره هم چا بيه نکړو، که څه هم په مخکنيو مشتريانو د نه خرڅلاو له وجې پښېمانه وم؛ خو بيا هم د مور مې ورسره جوړه وه، دا مې

(c) ketabton.com: The Digital Library


دهغه لپاره په پلاستيك کې وچولو، کراچۍ مې سرای ته ننه ايستله، د پوره خوشحالۍ سره دکور په لور روان شوم، له يوې خوا نن چې نابلده هم وم؛ پس له نيمې ورځې مې دونيم سوه (۲۵۰) روپۍ مزدوري وکړه، يو پاتې دی په دې به دمور دعا واخلم، بل خوا له بېکارۍ خلاص شوم، ډېر خوندور کار مې پيداکړو، دې نيمې ورځې ته په کتو، که سهار له سره شروع شي، اوه، اته سوه مزدوري ښه سمه جوړوي. زما دکور له خوراك او پوشاك رانيولې تر کرايه پورې رسيدګي کوي، نو طبعاً يوازې زه نه، بلکې چې هر څوك وای خوشحاله به و.

په همدې زرينو خيالو کې کور ته ورسېدم، تر دروازه دننه وتلو سره سم راسته لاس اشپزخانې ته ورګرځېدم، دپسه سر او پښې مې د داش په سر کېښول، نور ولاړم دمور سره تر ليدو، وروسته مې فرېښتې ته غږ وکړو:

- سخت ستړی او وږی يم، ډوډۍ موډۍ څه شی شته؟

- هو لالا شته راوړم يې!

فرېښتې ډوډۍ راوړه، زر زر مې څو غټې غټې ګولې ترې پورته کړې؛ يو ګلاس چای مې هم پسې وڅښلو، جګ شوم په منډه منډه مې لمانځ وکړو نور مستقيماً بسترې ته ولاړم ويده شوم، فکر کړم دستړيا تاثير و، چې مور مې غږ وکړو لکه پنځه دقيقې چې وتلې وي، ولې چې سترګې مې رالوڅې کړې سهار و، راپورته شوم اودس او لمونځ مې وکړل، پس له لمانځه وختلم بام ته دتلوېزون آنتن خراب و، دا مې جوړ کړو، لنډه يې دا چې تر دوه، دريو بجو مې کور کې په هغه او دغه ځان غلت کړو؛ په دريو بجو بيا مخ دښار په خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library


دپسونو سر او پښنو پسې روان شوم، ښار ته درسېدو په لمړي قدم کې منډوي ته ولاړم یو وړکی تبر مې واخیستلو، نور همدسې دپلخشتي په پله ور ووتلم، د مراد خانیو، قصاب کوڅې ته مې ځان سیخ کړو، پروني مشتري ته مې ورغلم، دا ځل مې پنځلس سرونه ترې واخیستل، دوه ورته پاتې شول نور دده سره هم نه و، وېل یې:

- دا دوه نو څه کړم؟ دا هم واخله.

دا مې هم ترې واخیستل، ټول اولس داني شول، دهر یوه سره څلور پښې هم وې، په یوه بوجۍ (ګونۍ) کې نه ځایدل په دوو کې یې راته ځای په ځای کړل، دا ځل یې نو دګوښنګي تر استادګاه په شاه وړل ناشوني و، د سرك له سر مې یوه ټکسي راوګرځوله، ډالي ته مې یې ورواچول راروان شو، د ماښام دآزانو ګړنګو پړونګ وه، چې کوټه سنګي ته راورسېدو، سرونه مې دسرای مخکې له ټیکسي ښکته کړل، چوکیدار ته مې ووېل:

- دې ته ګوره.

زه ولاړم کراچۍ مې له سرای نه راویستله، نیم پراشوټ مې په کراچۍ کې تر سرو لاندې کړو، پاتې نیم مې له پاسه پرې راوړو، نور مې تسمه ښه کلکه ترې تاو کړه، کراچۍ مې روانه کړه، تر ډېرو موټرو کراچیو مې تېره کړه، وړاندې دسرای په بر سره دیوه غټ موټر په څنګ کې مې ور ودروله، زه دکور په لور ترې راوان شوم، تیاره هم وه، کوڅو کې وېرېدلم هم، دمبایلو غله، چرسیان، لنډغر ډېر و، یو دم به له یوې خوا درباندې راپورته شول چاقوګان به یې

(c) ketabton.com: The Digital Library


لاسونو کې و، ځان خو دې نشوای پرې وژلی مجبور وې چې مبایل کومه پیسه میسه دې جیب کې وای ورکړې دې وای.

خو خوشبختانه څه مې ونه لیدل په خیر کورته ورسېدم.

په خاطر ددې چې ستړې مو نکړم لنډ وایم دا شپه هم تېره شوه، سهار وختي پاڅېدم له لمانځه مخکې مې په مور د پراټې پخولو چیغې ګډې کړې؛ تر څو مې اودس او لمونځ کول، لباس کار مې آغوستلو، دپراټې بوی هم ولګېدو، آشپزخانې ته پسې ور روان شوم، چې کټل مې قریب پخه وه، یوه دوې دقیقې نور هم ورته تم شوم ترڅو سمه پخه شوه دا مې نوشیجان کړه، نور را روان شوم مور مې له شانه آواز راپسې وکړو، ویل یې:

- زویه! دځان سره دې ډېر فام کوه دشپې مې داسې ګډ وډ خوبونه لیدل، خدای ج دې خیر کړي.

- ښېغه اوسه مورې! هېڅ خبره نشته.

خلاصه یو شل، پنځه ویشت دقیقې وروسته کوټسنګي ته راورسېدم، سرای ته ننوتلم، سل ګونه موټر او کرچۍ پکې ولاړې وې، په قات او قوت کې وړاندې تېر شوم دخپلې کرچۍ د درېدو ځای ته لا نه وم رسېدلی تقریباً پنځه لس شل متره را دېخوا ته دیوې بلې کرچۍ په ټایرو کې مې یو دپسه سر ولیدو، ددې یوې ډډې غوښې یې ترې شکېدلې وې، ها بله خوا یې جوړه وه، په لیدلو سره مې یې د سر ویښته نیغ ودرېدل، خو خیر کلمه مې درسته کړه، ورتېر شوم، خومره چې وړاندې ورتلم د کراچیو، موټرو ټایرونه په وینو سره و، نیم او نیمکله سرونه؛ پښې پکې رغړېدل، کرچۍ لا نه ښکارېده تر

(c) ketabton.com: The Digital Library


وروستي کاشتړ موټر چې راتاوېدم، یوه غټه تار تار په وینو او غوښو لېت، پېت لته پرته وه، چې سم ورته ځیر شوم ومې پېژندو هغه په سرونو غوړولی پراشوټ مې و، په سترګو مې توره شپه شوه، نه پوهېږم دهغه صحنې حال مې په کومو الفاظو درته انځور کړم؟ خو په هر صورت د کاشتر له دې بل کونج نه هم ور واوښتم، چې کتل مې ځای شته کراچۍ نشته، هاخوا دېخوا اوه، آته پښې او درې ځلور کنډو کپر سرونه پراته دي، یو قسم ضعف مانندہ حالت راباندې راغلو ټول وجود مې سست پست شو، دیوې لهذې لپار مې د کاشتړ په دې یوه ډډې همداسې په ولاړو د مړوند له پاسه سر تکیه کړو، دصبر دعا (اناالله وانا الیه راجعون) مې درې کرته وویله؛ چې لږ مې په سترګو را رڼا شوه، سر مې راپورته کړو، کرچۍ پسې مې شا او خوا سترګې وغړولې، تر سترګو مې نشوه، راتاو شوم چپ لاس ته د زړې لارۍ موټر تر ګېډه لاندې مې سترګې ور ونیولې، چې ګورم یو چاغ لکه خر غټ، خړ رنګی سپی ترې لاندې پروت و، څو دپسو پښې یې له مخې یو سر یې دلکۍ سره پراته و؛ زما په ورکتلو وغورېدو؛ زر ترې راشاته شوم؛ تر څنګ یې ولاړ تر دې بل زاړه موټر لاندې مې وروکتل دوه درې دلته وېده و، سرونه او پښې ور چارېېر وه، ددې نه هم راشاته شوم، دکرچۍ په لټه د ځمکې په سره دوینو په څرښندې پسې مخکې راغلم، د موټرو له قات او قت نه راووتلم، چې کتل مې هاخوا د دېواله سره د کباړونو تر څنګ سر په تالاق چیته چمبوله په داسې حال پرته وه، تا به ویل له آسمانه دې راغورځولې، تر لاستیو مې ونیوله راسمه مې کړه، یوه ټوټه پراشوټ او هغه تسمه چې ترې تاو کړې مې وه، په پایو مایو پورې یې لوېشت، لوېشت ټوټې زنګېدې، ددېوال څنګ کې څو غټ غټ شنه بوټي ولاړ و، ورغلم

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا مې راوشکول، دکراچۍ ښنګونه، منګوه مې له وینو او پرې سرېښ دغوښو، له ټوټو لړ لړ پاك كړل، دکباړ له پاسه اخبارونه، (كاغذونه) پراته وه؛ یوه کبده مې ترې راوخیستل، په کراچۍ کې مې واچول، تر څو دروازه کې پیراه دار پوه نشي، کني قسم ده یکه، یکه یې راباندې ټولوي.

خو په هر حال راګرځم خپلې خبرې ته د رارونېدو په پار مې تر لاستیو ونیوله، چې ټېله مې کړه، کغ کغ غږ ترې جګ شو، په ځای ددې چې ورغږي، ټایر یې په څمکه ښوېدو، بیا مې راچپه کړه اوسپنې موسپنې مې یې لړ سره لغت کړې ټایر مې ترې خلاص کړو، د راجګولو سره سم مې بیا تر لاستیو ونیوله را روانه مې کړه، که څه هم ډېره په نه زړه راروانه وه، خو خیر بیا هم ښه شوه، ها کغاری یې ورك شو، یو پنځه متر به راغلی وم چې له شانه یوه سپي راپسې وغپل، سترګې مې ور تاو کړې، یو تور ډنګروکی یې تر مخ و غپل یې، دری څلور نور له اخېره پسې و، کراچۍ مې ودروله یوه تېږه مې ور وار کړه تر څو وګرځي.

مسلمانه! دتېږې ور وارېدل نه وه، بلا مې ځان ته وګټله، دهر موټړ او کراچۍ له ګېډې دری څلور راووتل، یو غپ او غوپ شو، ټول سرای یې په شور واخیستلو، خو ښه و، ډارن وه ډېر نژدې نه راتلل، له لرې لرې یې غپل منډې رامنډې یې وهلې، وېرېدم چې سرای وان راتېر نشي، په سپیانو مې ځان ناګومانه واچوو، کرچۍ مې را روانه کړه، دروازې ته چې راوسېدم، پیره دار په خپله سره پلاستکي چوکۍ ناست و، سر یې شاه طرف ته ځوړند کړی و، نصوار یې تف کول، کراچۍ مې دې خواته دیوې سراچې له پوزې سره د دروازه وان له سترګو پناه ودروله، زه ورتېر شوم، مخ یې راواړو، لا یې هم خوله کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library


وړ کوله ترخې لاړې يې پکې راټولولې، شل روپۍ مې ورته ونيولې دا يې ور واخيستلې، ترې راتاو شوم، ده واپس ورمېږ شاه طرف ته کوږ کړو خوله کې پاتې نصوار يې تف کول، له همدې موقع په استفاده مې کراچۍ بېغمه راويستله، بنه و، پوه نشو. له دې لانجې خو خدای ج پخير خلاص کړم، نور مې نو د کلا واحد خامې کوڅې ته سيخه کړه، ګړزه ګړزه، ګړزه ګړزه، خلاصه کورته ورسېدم، تر دروازه د ننه کېدو سره سم، لمړی مې چپ لاس ته د آشپزخانې په دور پورې سرېښ دخښتو نغرې سره کراچۍ کې بار اخبارونه خالې کړل، وروسته مې کرچۍ د بلاخانې تر زينه لاندې ودروله، خپله راتېر شوم دبرنډې په اوله پايکه کې د قدم اېښودو سره سم، مې مور ددهلېز له وره راووتله، فکر کړم مخکې يې له کړکۍ ليدلی وم، ورخطا غږ يې وکړو،

- الاااا ولې داسې تك تور يې، جنګ دې کړی؟

- نه مور ستړی يم.

- بنا ځار، ستړی خير ودې ډاره کړلمه، پسې زياته يې کړه ولې بېرته (واپس راغلې؟

- رخصتي وه مارکيټونه بند دي، کار نه وه، دهمدې خبرې په جريان کې له مور نه تېر شوم، دې دهلېز د وره تر څنګ مې بوټ ويستل، لمړی دهلېز ته د حمام په راوتلې وره ورننوتلم پښې مې پرېمنځلې واپس اطاق ته راغلم، خوشبختانه په غولې تيار دترموز تر څنګ يو له چايو ډك ګيلاس اېښی و چې مور مې دځان لپاره ډك کړی و، ګيلاس مې راپورته کړو، لمړی مې په شونډو لمس کړو، تقريباً يخ و، سوزول يې نه کړل، په سر مې واړوه ټول مې په يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library


ساه وځښلو، لا مې تنده ماته نشوه ګيلاس مې بيا ډك كړو د سرېدو په انتظار يې، دمور په ځای اېښې پوشتۍ ته مې ولې تكيه كړل دغولي منځ ته راوغځېدم، دغځېدو سره سم مې په وجود يو قسم يخني راغله پوست مې ځيګ ځيګ شو؛ اول خو مې باق پرې رانه وړو، ولې دڅو شيبو په تېرېدو سره لړزه هم ورسره مل شوه، بلاخېره ښه سمه لړزانده تبه مې شوه، په همدې لمړي قدم كې يې له دې وغوځولم تر څو جګ شم يوه كمپله، ممپله راوخلم، په خويندو پسې مې نارې وكړې، خو لكه څنګ چې دجګېدو توان مې له لاسه وركړو همداسې كاپې اندازه غږ مې هم له خولې نه وتلو، ومې نشوی آورولی، صرف دومره مې وكړل چې په دې يوه اړخ راووښتلم واو (و) غوندې په خپل ځان راټول پرېوتم، د ځګېرويو سره موازې، دخياطۍ ماشين ته ورته د زامو كړفار مې ختلو.

ګومان كړم زګېروی مې يې آورېدلی و، د څه وخت تر تېرېدو وروسته مې مور ورخطا اطاق ته رانوتله، د ننوتلو سره سم يې په وېرېدلې غږ ووېل:

- ولې، څه درباندې شوي، اوو وړكيه؟

- تبه مې ده، يخ مې كېږي، يوه ګمپله راباندې راوچوه!

- بازار كې به دې ناپاك څه خوړلي وي؟

- نه؛ نه همغه سهار مې چې پراټه خوړلی بيا مې هېڅ نه دي خوړلي.

لمړی خو يې كمپله راباندې راوچوله؛ بيا يې وېل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


– ددې ځنګ ګونډيانو ته به غږ وکړم، که کوم نارينه يې کور کې وي، چې ډاکتر ته دې بوځي؟

– نه، هغه پرېږده، ته الماری وګوره يوه ورځ مې مدينې ته دځان دردی ګولۍ راوړې وې، که پاتې وي، له همغو نه يوه راکړه، که ښه نشوم بيا به ګورو.

تر څو مې مور راونېډله مدينې برنډې ته له وروتلې خلاصې کړکۍ غږ وکړو؛

– ویۍۍ ولې؟

– سرې تبه مې ده، ها ورځ مې چې ګولۍ درته راوړې وې له هغه نه کومه يوه پاتې ده کنه؟

– هو شته، پسې منډه يې کړل، دسترګو په رپ کې يې ګولۍ را ورسولې، لړزه څه کوې، تا به ويل چې برق نيولی يم، اوس نر څوك دی چې د ګوليو خوړلو لپاره راسم شي، خو خير د مور او مدينې په مرسته راپورته شوم ګولۍ مې خولې ته کړه، نيم ګلاس چای مې هم پسې وڅښلو، واپس پرېوتلم، په مدينه مې غږ وکړو:

– ښه مې پټ کړه يو بل څه هم راباندې راواچوه، بله کمپله يې هم راباندې را واچوله، زما عادت نه دی هېڅ وخت کمپله کې سر نه پټوم، ساه مې پکې حصاربږي، دلته نو داسې يخ اخيستی وم چې سر مې هم په کمپلو کې ننه ايستلو، مور مې دبالښت تر څنګ ناسته وه، شيبه په شيبه به مې يې تر کمپل لاندې لاس په تندي را ابښودو، که څه هم ډاډ مې ورکو چې انشاءالله ښه کېږم عادي تبه ده اوس به مې خوشې کړي، خو بيا هم مور ده نو، يو وخت و، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


تر کمپله لاندې مې يې دسلگيو غږ واورېدو، کمپله مې داسې کړه چې کټل مې پلو يې سترگو ته نيولی اوښکې پاکوي، غږ مې پرې وکړو:

– ولې ژاړې څه سرطان خو نه يم؛ دا دي وجود مې کرار کرار را گرم شو؛ راښتيا هم څه ښه شوی وم؛ خو څه مې ددې لپاره ځان بيدار ونيولو؛ راجگ شوم بالښت مې دېوال ته ودرولو، تکيه مې ورته وکړه، دچای مخکنی ډك کړی گلاس مې راپورته کړو، مور مې وېل:

– صبر گرم چای درته واچوم؛

– همداسې صحيح دی!

– وږی نه يې، څه شی خورې؟

– څه شی مو پخ کړي؟

– سهار فرښتې وېل: بېگانۍ شوله پاتې ده، نور يې لکه چې څه شی نه دي پخ کړي، له ما سره شل روپۍ شته، ته که مستې، يا هګۍ څه شی خورې چې درته رايې وړم؟

که څه هم وږی وم، خو له يوې خوا مې مور په فارسي نه پوهېدله موږ ته لنډ دوکان د يو هزاره و؛ دا بلکل په پښتو نه پوهېدو مخکې هم څو ځل همداسې ترې راغلې وه، هغه شی به دوکان کې و، خو دوئ به نه و سره پوه شوي، بل خوا دوکان هم دومره لنډ نه و څه لاره وه؛ زړه مې پرې ونشو، ورغبرگه مې کړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library


– صحیح ده موري! همدا شوله راوخلئ په فریښته پسي یې غږ وکړو، شوله یې ترې راوغوښتله، فریښتې هم په منډه کې راورسوله کاشوغه مې ورته بنده کړه نیمایي قاب مې نوشیجان کړه، تر څو مې دا خوړله تبه هم په مکمل ډول وشکېده، په بدن مې خوله راماته شوه او تر څنګ مې یې ګولۍ کې د مخدره عنصر د فیصدۍ په سبب دکاذبې خوشحالۍ احساس هم کولو، خو بیا هم د سرونو د رایادېدو له کبله به مې په زړه څړیکه تېره شوه؛ له همدې وجې د فام په بله کولو په پار مې موبایل را واخیستلو لمړی مې یوه سندره پلې کړه، له سندرې اورېدو وروسته مې ډیټا کلیك کړه، فسبوك ته مې سر ورښکاره کړو، خو په عین حال کې ګړنګو پړونګ شو د واتساف سربېره مسېنجر ته هم څو مسېجونه راغلل لمړی مې مسېنجري پیامونه وکتل، له بېلو بېلو کسانو دری مسېجونه راغلي و، یوه درودي شریف را استولی و، بل صرف سلام کړی و، او همداسې دریم یو طنزي تصویر و، دا مې ځای په ځای پرېښول واتساف ته راغلم، دلته هم لمړی مسیج اوردو لیکنه وه، دیوه ناشناخت نمبر نه را استول شوې وه، پسې ونه کړځېدم دا واتساف صفحه مې ور بنده کړه؛ له دې لاندې د صدف په نمبر شنه رنګ کې دنویو مسېجو علامه ښکارېده؛ په ګوته مې ووهله کلیك مې کړه بووووو شاو خوا دېرش، څلوېښت متني او صفتي پیامونه یې را استولي و، ګوشکې مې ورته غوږو ته کړې له نورو تېر شوم، دا وروستي دوه، دری مې پلې کړل، نجلۍ په چیغو چیغو ژړل او تر څنګ یې ویل: د خدای په لهاذ، د قران په لهاذ او...

هغه د ژبې فصاحت او بلاغت، دښکلو ادبیاتو کارول ترې تللي و، لکه په اور ناسته په یوه چیغه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


خو په هر صورت بیا مې هم د تېرو ځلونو په څېر ځان پرې پوه نکړو.

له واټساف نه را ووتلم په فسبوکې خو دقیقې ښکته پورته شوم، دلته هم د ساعترې خاص څه نه و، نور له دې هم را ووتلم انترنیت مې افلاین کړو.

په لنډو کې به ووایم دا پاتې ورځ او شپه هم تېره شوله، سهار له کوره بهر شوم تر څو کوم بل کار راپیدا کړم؛ که څه هم بیا تبه راباندې رانغله اما همغې یوې تبې دومره بې سیکه کړی وم؛ د کور تر مخ کوڅه مو خامه وه، منځ کې یې د کورو له تشنابو راوتلې اوبه ډنډ وې صرف دواړو څنګو کې یې د دېوال خواو ته نرۍ، نرۍ لار وه، خلك به پرې تېرېدل، زه هم په راسته لاس دې نرۍ لار روان وم، ستونی مې وسولو ټوخی راغلو، د توخې سره ړنګو بنګ شوم، خو ښه و، نور ځان مې بچ کړو؛ صرف دا یوه پښه مې له نرۍ لارې هاخوا مردارو ابو کې کېښوده، بوټ مې په چکړو لیت پت شو، د کوڅې هغه طرف په نرۍ لار دوې مکتبۍ نجینې روانې وې، په خندا شوې، چې ور ومې کتل مخونه یې واړول ولاړې، د دېوال په درځ کې مې په کاغذ سترګې ولګېدې دا مې راوخیستلو بوټ مې لړ لړ پرې پاك کړو، واپس روان شوم په عین حال کې لا هم ښه شدید ټوخی راتللو خو د لوېدو له وېرې مې په ستوني کې حصار کړی و، له ډېر فشاره مې نفس پاك حصار و، تر یو ځایه چې راغلم د دېوال تر څنګ یوه د برق وسپنیزه ډبله پایه ولاړه و، غبرګې مې ترې تاو کړې، ښه د زړه د خلاصه وټوخېدم، دمه مې جوړه شوه، نفس وچلېدو بیا مې حرکت وکړو کوټسنګې ته راوتلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


لنډه يې دا له دې وروسته مې چې کوم کارونه وکړل که همداسې په جوزياتو يې درته بيان کړم نو داسې يې وګڼۍ چې د کيسې يوازې دا برخه به تر پنځه سوه صفحو واړوي، له همدې کبله نه غواړم خسته مو کړم؛ صرف يو څو ته يې په لنډو کې اشاره کوم نور مستقيماً ځم د کيسې وروستۍ يعني هغې برخې ته چې ايا مرواء څه شوه رښتيا مړه وه، که ژوندۍ؟ او دصدف هڅو کالونه کالونه عذر، زاريو نتيجه ورکړه کنه؟ دا دوه پوښتنې په ډېر شفاف ډول ځوابوي، البته څه نورې جالبې هم لري.

چون اوس واپس راګرځم دهمدې برخې پاتې برخې ته او د بيان شوې هسې په تقيب يې وايم د سرونو له کار او بار وروسته که څه هم ډېر چسپ پسې ګرځېدم خو تر ډېر وخته بې کاره شوم؛ ان تر دې چې اقتصادي وضعيت مو داسې حال ته راغلو، د کور کرايې خو په ځای پرېږده چې راباندې واوښتې، ډوډۍ مو هم نه لرله، نور څه ښه و، په وچو توتو، اب ګينه اوګره، هغه او دغه چل مو ځان غولولو، خو فريښتې ښځې دلوږې زور نه لرو وجود يې ضعيفه و، اکثره وخت به بوخه راواوښته ضعف به يې وکړو، د وخت په تېرېدو مې مور د فريښتې دا حالت ونشوای زغملی، سهار وختي يا مازدګر به له کوره بهر ووتله، يو ساعت، نيم ساعت وروسته به يې دری څلور ډوډۍ خلته کې را اچولې وې په دروازه به راننوتله، ښه پوهېدم چې د کوم مسجد مخکې کيني سوال کوي مګر پوښتنه مې نه ترې کوله ترڅو ددې له خولې خو وانه ورم، طبعاً دداسې صحنې په ليدو يوازې زه نه بلکې زما په ځای که بل هر ځوان وای

په هېڅ به نه وبند شوی،

(c) ketabton.com: The Digital Library


همدا مجبويتونه سبب شول، چې په دې ورکي، عاطفي زړه يې د ډېرو غټ زړو، بې رحمه، انسانيت نه تنبيو، د محشر د ورځې له سوال او ځوب نه منکر افرادو له جملې وګرځولم،

نور کار خو هسې نه و، کنې دې حال ته به ولې راتلو؟ چوکونه (پلکې) له کارګرانو ډك و يو ته هم کار نه پيداکېدو.

بله چاره نه وه، لمړی مې په پوښتنه؛ پوښتنه ځان تر رئيس ښامار پورې ورسوم؛ رئيس ښامار د چمن حصور په ساحه کې هغه کس و، چې له خير خانې رانيولې تر دارالمان او کمپنۍ نه تر پولځرخي يې دخپلو سلګونه کارګرانو په مټ د ښار دهرې برخې معتادانو ته مخدره توکي رسول، ما ته يې هم په کارګرانو کې د ورسره نيولو په لمړي سر کې دهغه وخت د لوچکانو بوټ او لباس راپه تن کړل، چلتار مې ووهلو، سپين پېرړ ځنځيري لاس بند يې لاس کې راواچولو نور مې د درى سوه افغانيو ورځنۍ مزدورۍ په مقابل کې په کار شروع وکړه، اګر چې دې دريو سو روپيو مو هم تر ټولو ستونزو رسيدګي نشواى کولى، خو ښې وې ورځنۍ ډوډۍ مو کېدله، اما دکور کرايه لاهم راباندې آوښته، په داسې حال کې چې غوښتله به يې هم، چون يوه او بله بهانه به مو ورته کوله.

خو په هر حال د ښامار سره مې څه وخت کار وکړو، دښار په سطحه چې څه لوچك پوچك خداى ج وهلى مخلوق و دلته راټول و، کار يې ورسره کولو د ټولو سره مې وپېژندل له څه وخت کار کولو وروسته دکوم نامعلوم دليل له مخې د موقعت وخت لپاره ښامار خپل کار ودرولو زما په شمول ټول کار

(c) ketabton.com: The Digital Library


مندان یې بېکاره شول، تر څو بیا کار شروع کېدو موږ څو ملګرو یوه څلور کسیزه ډله جوړه کړه، له دې وروسته به مو چې ښار کې کوم نوی کرولا یا سراچه ټیکسي موټر ولیدو دربس به مو کړو، چېرته به چې ګوښه ځای ته ورسېدو په ډرېور به مو چاقوګان او تفانچه راویستل که مقامت به یې وکړو ویشتلو مو، کني پرته له وهلو ډبولو صرف کلی به مو ترې اخیستې موټر مو ترې بولو، دکمپنۍ بازار شاه ته د درېګراشن سیمه کې زموږددې یوه ملګري په زړه حاویلۍ کې به مو ټوټه، ټوټه کول، بیا به مو پرزه پرزه په مستریانو خرڅول، یوه ورځ مو دهمزنګ کې یوه نوې سره کرولاکرغې ته دربس کړه، یو ببر سری شین سترګی هلك یې جلب ته ناست و، چهارهي کمبر ته نارسیده، متین د شاه له سیټ نه په سر تفانچه ورکېښوده، د ډرېور سره د مخې سېټ کې ناست مردا چې په شیر شار هم مشور و، چاقو پرې راویستلو، موټر یې د سرك څنډې ته پرې ودرولو، له درولو وروسته متین غږ پرې وکړو:

- که غواړې چې ماغزه دې درباندې باد نکړم فقط پټه خوله له موټر نه ښکته شه.

ډرېور شنې شنې ډکې سترګې ور واړولې وېل یې:

- خوښه دې ماغزه مې راباندې بادوې که یې پرېږدې، یو وړکي بچی او میرمن لرم، چې موټر تاسو ته درکړم، زه هغو ته ډوډۍ له کومه کړم؟

ددې خبرې په کولو سره شېر شار له څنګه په چاقو ووهلو تشي کې یې تر اخیره ننوتلو؛ ډرېور دچیغې په کولو سره شیر شار ته مخ ور واړولو، متین له شانه ډز پرې وکړو په سر یې وویشتلو هلك چوکۍ کې را ړنګ شو، رازق دېوانه

(c) ketabton.com: The Digital Library


لاس ورتېر کړو دروازه يې ورته خلاصه کړه، ډرېور يې ترې وغوځو پسې ور ښکته شو، په جامو کې يې ګوټې وربندې کړې دسرك له څنډې يې هم لاندې خطا کړو؛ ما دخپل چلتار دسمال رانګ کړو زر زر مې په چوکۍ کې ډنډ وينې پرې وچې کړې، تر پښو لاندې پای پاك مې دچوکۍ له پاسه وچولو جلب ته کېښاستم، موټر مې ځای ته راورسولو، که څه هم ډېر ډرېوران مو تر تېغ تېر کړل، خو ددې هلك په وژلو مې سخت زړه بد و، رنې رنې شنې سترګې او ببر سر مې يې هېڅ له سترګو نه وتل، کور ته له راتلو وروسته مې پرېکړه وکړه چې نور به دا کار پرېږدم، چنجان پيسې هم نه وې پکې د ځلورو، پنځو لکو، روپيو موټر به مو ټوټه، ټوټه کړو، ايله به مو دېرش يا ځلوېښت زره پيسې پرې جوړې کړې، هغه هم تر ډېر وخت ستړياو منډو ترړو وروسته.

اګر چې ما صرف ډرېوري ورته کوله نور د ډرېوانو له وهلو، ويشتلو او همداسې د پرزو خرڅولو نه خلاص وم، فقط اخير کې مې خپل حق پيسې ترې اخيسې، خو بيا هم له دې وروسته يې چې هر څومره زنګونه ووهل ورنغلم، هر سهار به له کوره راوتلم، که څه هم کارونه نه و، خو هسې د وجدان له ملامتيا د ځان ايستلو په پار به تر ببګاه د زرګونه نورو کارګرانو سره په پلکه (دمزدورانو په چوك) ولاړ وم، يوه ورځ چې د نورو ورځو په څېر د پلکې په څنډه ولاړ وم، هغه د مخدره جاتو د فروش دوخت يو ملګرى مې عارف چې په ګرګ مشور و، لوکسه دريشي يې کړې و، ويښته يې اړولي و، عينکې يې د سينې په سر د يخنکاك تنيو (تکمو) کې ټنبلې وې، بل شان په ستايل کې روان و، غږ مې پرې وکړ:

- ګرګ!

(c) ketabton.com: The Digital Library


شاو خوا يې وکتل چې سترګې يې راباندې ولږېدې را وګرځېدو، سترې مشي مو وکړه سم دلاسه يې وېل:

– بچېش په دې کارونو يې نشې شل کولی راشه چې پيسو ته دې سيخ کړم

– چېرته؟

– ډرېوري خو دې زده ده کنه؟

– هو ښه ټېټه!

– بس راځه يو چاته د معرفي کړم، ضمانت دې زه کوم، نور يې چې هر ولايت ته ولېږلې، تيار بار موټر په لاس درکوي فقط جلب ته کېنه په کابل کې يې ورته وسپاره، صرف درى پېړې دې چې وکړې داسې يې وګڼه چې نور به دکاغذ تشناب په ځاى ډالر استعمالوې.

– د څه شي موټر دي؟

– د څه شي موټر؟ دا ښار کې چې له چاوديدونکو موادو بار موټر چاودنې کوي دا له آسمانه را آوري؟

– ورك شه غرق شې، په هره چاودنه کې دښځو او ماشومانو په شمول ددې ښار څومره بې ګناه خلك مړه کېږي، هر کار به وکړم دا کار نه کوم.

هلك په مسکا کې راغبرګه کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library


– په دې ورکي زړه به یې ښه شل کړي، چې د خلکو د مړکیدو غم درسره دی بیا نو ودرېږه همدلته تر بیګاه وچې شونډې، نور یې په ولي وټپولمه د بای بای په وېلو سره یې حرکت رانه وکړو.

ددې خبرې به تقریباً لس ورځې وتلې وې له همدې پلکې مې حرکت وکړو مانښام و، کور ته ورسېدمه، د ماخوستن تر ډوډۍ خوړلو وروسته مې مور راته وېل:

– درته وېلی هم نشم زویه! جګرخون کېږې خو که نه درته وایم هم نه کېږي، نن د کور صاحب راغلی و، ډېر په قهر و، نور خو یې چې هر څه ووېل بلا پسې، اخیر کې یې وېل د راتلونکې جمعې په ورځ راځم که کرایه مو نه و تیاره کړې لور دې درنه بیایم.

– ددې خبرې آورېدل نه و، سم برق ونیولم له ډېر قهر نه مې د سر وینې پښنو، او د پښنو سر ته وختلې، سخت احساساتي شوم، کله به مې وېل د جمعې په ورځ کور کینم چې راغلو چاقو به یې خېټه کې وراچوم، کله به مې څه وېل کله څه. بلاخېره تر سهاره دې پرېکړې ته ورسېدم چې مبایل مې راویستلو عارف ګرګ ته مې زنګ وکړو په لمړي سلام علیك پسې پیوست مې ورته ووېل:

– هغه موټر راولم بچېش فقط ور معرفي مې کړه

په خندا یې وېل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


- ها ورځ خو د له ځانه کاکا صالح راته جوړ کړو، دخلکو د مړکېدو غم درسره و، نن څه وشول؟

- هغه کیسې پرېږده، دا وایه چې چېر ته درشم؟

ادرس یې راکړو ګرګ ته تر ورسېدو وروسته د پنځسد فاملیو په ساحه کې دسمندر صیب په نوم یوه چاغ سړي ته ورغلو توره کونډۍ ګیره یې درلوده غټې غټې ګوتمۍ یې په ګوته وې، دسرك په سر یې د ایلکس موټر سیټ کې ورسره کېناستو، ګرګ د یوه زړور او راز ستونکي ملګري او ښه ډرېور په حیث ورته معرفي کړم، سمندر صیب ووېل:

- په لوګر او ګنړ کې راتلونکې جمعې ته دوه موټره بارګیري لرو، ماته یې مخ راوړولو وېل یې:

- ځوانه! نمبر دي راکړه.

ورغبرګه مې کړه

- سمندر صیب! د جمعې له ورځې مخکې به کوم یو آمده نشي؟

- پرون ملګرو له زابل نه یوه مازده راولېږله، ډرېور یې په لارو کم جراتي وکړه د وردګو دوراني سیمه کې یې پرېښوده، ورشه راېې وله، زه به آغا داود ته زنګ وکړم چې درته ویې سپاري.

- په څو؟

- د دشلو دقیقو لاره ده، خلوېښت زره (۴۰۰۰۰) افغانۍ درکوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


افغف له دې خوشحالۍ خلاصه تذکره (پېژند پاڼه) مې سمندر رانه واخيستله زه مازدا پسې روان شوم د دوراني بازار ته له رسېدو سره سم مې زنګ ورته ووهلو دځو لهذو له تېرېدو وروسته مې آغا داود يوه سپينه کرولا تر مخ ودروله ورسره وختلم، کوز د اندړو، بادم په ساحه کې له سرك نه وتلې هاخوا خامه کې ولاړه مازدا يې په لاس راکړه.

د هغه غټو ډمټرك مازاګانو نه وه؛ لاندې چاوديدونکي مواد و، په سر يې جغل يا چهارمغز مانند غټې غټې ګاټې ور اچولې و. لنډه دا چې حرکت مې راوکړو؛ که څه هم ما غټ موټر نه و چلولی لمړی ورسره نابلده وم کرار کرار ورسره بلد شوم ګېرونه مې پيداکړل؛ آغا داود ډېر لرې تر مخ رانه روان و، د ميدان ښار له چوك نه راتېر شوم چې آغا داود زنګ ووهلو وېل يې:

- د کوتل سر کې امنيت ولاړ دی مه پرې راځه، موټر مې د سرك څنډه ته ودرولو زه ترې راښکته شوم ټايرونه، ميرونه مې ډبول نيم ساعت وروسته يې بيا زنګ وکړو وېل يې:

- راځه ولاړل.

بيا مې حرکت وکړو د چوك ارغندۍ تلاشۍ ته په رسېدو مې زړه درب درب کولو خو ښه و عسکر بېخي له چوکۍ راجګ نشو، د سر په ښورولو سره يې د تللو اجازه راکړې، ما هم له موقع نه په استفاده پښه پرې تخته کړه ترې راتېر شوم څه چې راغلم داود اغا بيا زنګ ووهلو وېل يې:

- له چوك ارغندۍ راتېر شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


- هو!

- بېشکه ولانور بېغمه راځه دي خوا هېڅ ممانعت نشته.

مقصد ماښام شپږ بجې نکاش ته را ورسېدم دلته پولس ولاړ و، د شپې تر اوه بجو مخکې یې ښار ته غټ موټر نه پرېښول، زه هم پکې ودرېدم، سمندر صیب هم زنګ وکړو؛ ورته ومې ویل:

- نکاش کې ولاړ یم پولس تر اوه بجو مخکې غټو موټرو ته اجازه نه ورکوي،

لنډه دا چې په اوه بجو یې موټرو ته اجازه ورکړه له کمپنۍ چې راتېر شوم سمندر ته مې زنګ وکړو، ویل یې:

- د دېوان بېګي دټانګ سره د دغو، دغو نښو لرونکي دوه نفره درته ولاړ دي، موټر ورته تسلیم کړه؛ ځلوېښت زره پیسې او تذکره دې ترې واخله، نور دې موبایل فعال ساته د پنج شنبې په ورځ یوه بله بارکیري هم تیارېږي، په هغه کې دې بیا نازوم.

همداسې مې وکړل دټانګ سره مې موټر همغه نښو لرونکو کسانو ته تسلیم کړو، خپلې پیسې او تذکره مې ترې واخیستل، ډېر ناوخته کور ته ورسېدم، مور او خویندو مې د ناوخته راتلو له وجې ډېرې په قهر هم وې، خو خیر ډوډۍ مې وخوړله؛ د چای خوړلو په جریان کې مو حساب وکړو، دېرش زره ۳۰۰۰۰ دکور کرایه او پنځه ۵۰۰۰ زره روپۍ څو میاشتنی د برق بېل شو، لمړی مې دا پنځه دېرش زره افغانۍ مور ته ورکړې بیا راپاتې (۵۰۰۰) افغانۍ مې د کور د خرڅ لپاره ورکړې، دخویندو په شمول مور مې ډېر خوشحاله شوله،

(c) ketabton.com: The Digital Library


ولې دخوشحالۍ تر څنګ بار بار يې د راپيداکېدو د منبع پوښتنه هم وکړه؛ چون ما به يې په ځواب ځان تېر کړو، ددې مجلس تر پای ته رسېدو وروسته مې لمونځ وکړو، نور بېغمه ويده شوم؛ سهار تقريباً (۹) بجې وې د کوتسنګې ګلبار سلمانۍ کې مې وېښته جوړول، چې يو غرذ شو ډېره درنه چاودنه وشوه، ټول ګوتسنکی يې وښورولو له ګړنګاهار يې ښکارېده چې د ځينو تعميرنو شيشې هم راتويې شوې، په سلمانۍ کې علاوه ددې چې ځينې وسايل له مېز نه لاندې ولوېدل، تر سرپورې مو په چت کې راځوړند د ګروپ ګل ټالۍ وهلې ځونډې يې شرګېدل، له سلمانۍ بهر خلك ترېدلې، ترېدلې، يو تر بل تېرېدل، ډېريو يې سترګې د باغ بالاطرف ته نيولې وې، د څو دقيقو په تېرېدو سره تلوېزون ته تازه خبر راغلو وېل يې:

– دکارت معامورين په څلور لارې کې ډېره درنده موټړ بم چاودنه وشوه، چې زيات تلفات هم له ځان سره لري جزيات به څو دقيقې وروسته درسره شريك کړو.

بلاخېر د رسنيو کېمرې هم ور ورسېدلې دپيښې سيمه يې په ژوندۍ بڼه ښکاروله؛ افففف هغه شان د عرصات ورځ و، دخلکو نيمه نيمه تنې په ونو کې راځوړندې وې لکه په قالينو فرش سرك په وينو سور پور و، پولس او روغ خلك اخته و، مړي زخميان او پاشل شوې غوښې، يې ټولولې، لږ دې خوا چې کېمره راغله د يوه وړکې تك سپين ډډ بډ ماشوم بې لباسه نيمه تنه پرته وه، تر نامه پورته نه و، صرف دواړه پښې او څهاربند يې پاتې و، تر څنګ يې يو سور ټيکرۍ او زنانه يې کميس ته ورته يوه بله ګلداره لته پرته وه، فکر کړم ددې ماشوم مور به وه، تر لته چارپېر پاشلې غوښې به ددې وې، خو په هر

(c) ketabton.com: The Digital Library


حال ددې پېښې په لیدو مې لمړی همدې سلمانۍ کې خپل یخن ته تف کړل، بیا مې قصد وکړو چې دکوټسنګۍ له دې هوایي پله نه ځان راخطا کړم، ځان ته خپله سزا ورکړم؛ ولې بیا به مې د مور او خویندو په دې نابلده ځای پردي کور کې تنها پرېښودو اجازه رانکړه، خلاصه ټوله ورځ لکه په سر وهلی داسې تاو شوم، بیګاه ته چې کور ته ولاړم، دمور او خویندو مې هم چاودنه کې په مړو شو خلك ډېر زړونه بد و، حتا مور خو مې یې لا عامیلینو ته ښېرې هم کولې، زړه کې مې وېل چې ښېرې

مه کوه مورې! ځان به غرق کړې، خو په خوله مې څه ونه وېل، ډوډۍ موډۍ مو چې وخوړله دخوب بسترې ته مې ولاړم، خوب له کومه شو دشپې تر دریو بجو ویښ په ځای کې اوښتم راوښتم په دریو بجو جګ شوم لمړی اودس بیا مې دولس رکعاته د استغفار لمونځ وکړو وروسته مې سر په سجده دقسم په کولو له الله ج سره وعده وکړه چې نور مې که خور ځوك په قرض کې بیایي که مور، نه به له چاودیدونکو موادو بار موټر راولم، نه به مخدره توکي وپلورم، نه به دموټرو غلا وکړم؛ نه به بیا دسپیانو غوښو ته دپسونو، وزو په نوم قصابۍ جوړه کړم او همداسې د نورو ټولو کړو بدو کارونو دیادونې علاوه مې وعده ورسره وکړه، چې نه به د بل کوم ناروا کار هڅه وکړم، د همدې وعدې تر کولو وروسته مې دهغه ټولو ملګرو دموبایل شمارې وربندې کړې چې د مخدره توکو دپلورلو په وخت کې مې ورسره پېژندلې و، سر له سهاره مې لباس کار راسره وخیستلو د مزدورانو د چوك په لور ولاړم، ډېر وخت صرف تلم راتلم، کار نه و، ان تر دې چې بیا له سختې بې خرڅۍ سره مخ شوو، حیران وم چې خدایه اوس څه وکړم، شیطان ګام په ګام دهغه مخکنیو

(c) ketabton.com: The Digital Library


هلکانو سره بيا تماس نيولو ته هڅه ولم، خو لاهوالله والله قوت... به مې ووېل بيا به د الله ج په امید د پلکې په لور روان شوم؛ په داسې حال کې چې نور مې پلکې ته له راتلو هم استفراق راتلل، خو د خدای ج مهرباني وه، تر خپل امتحان يې بريالی ويستلم په همدې اساس وخت کې يوه ورځ چې د نور ورځو په څېر د پلکې په څنډه لباس کار په لاس کې ولاړ وم؛ يو سوزکی موټر مې تر مخ ودرېدو ډرېور يې تر شيشه سر را بهر کړو ويل يې:

- کارګر مې پکار دی؟

مخکې له دې چې مزد او يا د کار نوعيت ورسره معلوم کړم موټر کې ورکېناستم تر څو بل څوك ورسره ونه خېژي.

حرکت مو وکړو په لارو مې پوښتنه ترې وکړه:

- استازه! ودې نه وېل چې کار مو څه دی؟

- راځه وبه يې وينې، کار مې دايمي دی، دوه نور کارګر هم لرم، څه چې هغه کوي ته به يې هم کوې.

- څو معاش ورکوې؟

- مياشتانه ۸۰۰۰ افغانۍ ورکوم، پسې زياته يې کړه يو حمام او سلماني لرم البته خپل مې نه دي په کرايه مې نيولي دوه صفا کاران لري هغه رسېدګي نشي کولی ته به يې هم ملګری شې.

زړه کې مې ووېل: دا دحمامو او سلمانيو کار خو يوازې دخلفګانو يا په وطني اصتلاح د ډمانو کسب دی، کوم کليوال، شناخته مناخته مې ونه ويني؟ واپس

(c) ketabton.com: The Digital Library


مې فکر وکړو چې سړیه! له دې ښه دی چې مور دې بیا د کوم مسجد مخکې ناسته وي سوال کوي ډوډۍ پرې راوړي.

همدا و چې سر مې ورته وښورولو ګواکې صحیح ده.

سړي بیا وویل:

- خو کار درنه غواړم ځکه چې دمیاشتې مې په دولس لکه (۱۲۰۰۰۰۰) افغانۍ نیولی دا خو هم پوره کول غواړي؟

ددې په ځواب کې مې هم د موفقیت سر ورته وښورو.

لنډه دا چې د شارنو په مرکزي سیمه کې یوه ډېر ستر حمام ته ورننوتلو مخکنۍ برخه یې سلماني وه لسو سلمانانو همحال کار پکې کولو، او دې بل طرف ته یې مردانه آرایشګاه و، چې په دې کې هم لسو آریشګرو کار کولو، وړاندې برخه حمامونه و چې ټول ټال سل نمري حمامونه یې لرل، سمدلاسه یې د حمام دکار کونکو ځانګړی لباس، بورسونه، میکروب ضد ډیټول راکړل کار مې شروع کړلو، تر څو بلدې دمه مخکني دوه صفاه کاران مې تقیبول څه چې دوی کول ما هم همغه کار کولو وروسته له دوه دریو شپو بلد شوم نور مې خپل کار او د کار کولو طریقه زده کړه، کاشیان به مې په ډیټولو مینځل، د تشنابونو په نولو به مې فام کولو تر څو بندې نشي د سلمانانو له پښو نه مو ویښته جرو کول او همداسې نور کارونه زما او هغه دوه نورو صفاه کارانو مسولیت و، هغه دواړه سپینږیري هزارګان و، له دې وجې ما به نظر دوی ته ډېر کار کولو؛ څه وخت کار مې چې وکړو بله ورځ یو نوی فرونر موټړ دحمام تر مخ دسرك په څنډه ودریدو، یو ډېر ښکلی جګ ځوان ترې راښکته شو

(c) ketabton.com: The Digital Library


دحمام له منځ نه تر شیشه مې ورته کتل، هلك بېخي شناخته راته معلومېدو، صد فیصد یقیني وم چې دا ځوان مې چېرته لیدلی خو هر څومره زور مې چې په حافظه راوړو رایاد مې نشوای کړلی، هلك د موټر دروازه بنده کړه دحمام په لور راروان شو، زه هم له مخې چپ شوم فکر مې وکړو چې دومره شناخته راته ښکاري چېرته به مې لیدلي وي، شاید دی مې هم وپېژني، له سلمانیو وړاندې تېر شوم، په دې وخت کې دآرایشګرو هم پرې فام شو خپلو منځو کې يې زر زر يو بل ته وېل: دحمام ملك راغل، دحمام مالك راغلو...

هلك چې د حمام تر عمومي دروازه را داخل شو، د حمام مشر چې دروازې راسته لاس ته به دپیسو د دخل مېز ته کېناستلو، ددې ښایست ځوان هلك په لیدلو سره زر جګ شو له مېز نه دراوتلو په حال کې يې وېل:

– اووو انجینر صیب پخیر راغلې، نور سره غېږ په غېږ شول سترې مشي يې وکړه، هلك بیا سلمانانو، او رایشګرانو ته مخ ور واړولو جوړه لاسونه يې جګ کړل د سر دښورولو په اشاره يې هر يوه ته جلا جلا په جګ غږ وېل: سلام، سلام، سلام.... څنګه یاست؟

د سلمانانو او آرایشګر له خوا همچنان په ډېر احترام ځواب ورغبرګ شو، له دې وروسته د حمام د مشر په ځای د پیسو د دخل مېز ته په اېښې چوکۍ کېناستو د حمام مشر ته يې وېل:

– څه غورې دې رئیسه؟

– ولا تر اوسه خو خیرت دی، پسې زیاته يې کړه، د څه اشتیا لرې، چای، مېوه...؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


- ژوند، ژوند کار لرم ځمه، د دفتر صفا کار مې بېچاره مریض و، کار یې راپېښنود لاړو اوس تاته راغلم یو ښه تکړه صفا کار دې که راکړو ځواني به دې وي، مسکی شو زیاته یې کړه: ته خو هسې ورځ کې پنځه نیسې پنځه رخصتوې.

د حمام مشر زما همکار هزار کاکا ته د لاس په نیولو اشاره وکړه وېل یې:

- په سترګو بابه درسره بوځه!

هلك خندا کې ورغبرګه کړه:

- بابه قربان شم، زما د دفتر زیني خو دې لیدلې بابه بېچاره کله دومره انرژي لري چې په هغو کې ښکته پورته شي؟

دا چې دریم صفا کار ملګری مو هم سپینږیری و، مشر مو مجبور شو راناري یې کړي:

- اکبره!

نور به مې نو څه کړي وای ور روان شوم، څو متره لرې د هلك سترګې راباندې ولګېدې وېل یې:

- آه ریسه! دا ملګری صحیح دی.

چې ور نژدې شوم، له سلام وراچولو وروسته مې میلمه ته لاس ونیولو سترې مشي مو وکړه، پس له سترې مشي مو مشر سترګې راوړولې وېل یې:

(c) ketabton.com: The Digital Library


- د انجينر صيب، د دفتر صفاکار ترې تللی، اوس يې نو څنګه کړو، که خوښه دې وي ته به ورسره ولاړ شې؟

که څه هم زړه کې ډېر خوشحاله شوم، دلته وېرېدم که کوم شناخت مې ووينې ټول عمر به ډم راته وايي موږ پښتانه خو هسې خلك يو. بلخوا ډېر چټل کار هم وه، حمامو کې به مردار ويښته باد و، دشامپو په شان ټينګه او سرېښناکه مايع به غوپ غوپ په غولې پرته وه؛ واقعاً مينځلو يې زور غوښتلو.

اما د مشر په وړاندې مې مايوسانه رنګه وويل:

- ښا صحيح ده.

- ورشه لباس دې بدل کړه، په حساب پسې به دې څو ورځې ورسته راشې.

روان شوم له لباس خانې مې خپل لباس راوغوستلو واپس راغلم خدای پاماني مو وکړه انجينر مې تر مخ شو موټر ته وختلو حرکت مو وکړه، دهمدې حرکت په پيل کې يې موبايل راويستلو لږ لږ غږ مې اورېدلو د کومې ښځې سره په ګپ شو، وروسته، وروسته يې له خبرو پوه شوم چې خپله ښځه يې ده، خو ما ټوله لار سترګې په ده کې خښې کړې وې ځکه له يوې خوا يې څېره لاهم بېخي آشنا راته ښکارېده بل خوا يې د هوښيارې، چالاکه ښکلې دنګې ځوانۍ، سربېره شاته پرېښو په وليو پرتو او واپس پورته ورکلوله وېښتو بل شان خوند ورسره کولو، خو په هر حال تقريباً دنيم ساعت په تېرېدو سره دفتر ته راوسېدو؛ که څه هم ډېر لرې نه و، چون لاربندان و، کنې دپنځو دقيقو لار نه و، لنډه دا چې د رسېدو سره سم د دفتر ساتونکي دروازه خلاصه کړه، چې ورننوتلو ډېره يوه ښايسته حاويلي و، ټوله ځمکه يې چمن، چمن ګلان او

(c) ketabton.com: The Digital Library


ګلدانۍ وې نرۍ نرۍ په ګلدارو مزایکو پوښل شوې لارې پکې تېرې وې په همدې لارو ورتېر شو وړاندې یو وړکی دری پوړه تعمیر ته چې ډېره ښه نقشه یې وه، ور دننه شو، ددې لاندیني پوړ ډېره برخه یې یوه سالون نیولې وه، چې په قالینو فرش و، میزونه او کوچونه پکې اېښې و، د مهمان خانې کار یې ترې اخیستلو، هاخوا پاتې نوره څه برخه یې آشپزخانې نیولې وه، دوهم پوړ یې د بیلو بیلو دندو مخ ته وړونکو کارمندانو شبې وې، دریم پوړ مکمل خپله دې همدې انجینر دفتر و، دفتر ته درسېدو سره سم زنګ ورته راغلو موبایل یې اوکې کړو تقریبا پنځه شپږ دقیقې د چا سره ښه په ټوکو ټکالو او خندا وغړېدو، فکر کړم ښځه یې وه، څکه اخیر کې یې د عیاز په نوم ماشوم پوښتنه ترې وکړه، دوخت په تېدو مې وپېژندو عیاز خپله د همدې انجینر زوی وه.

د زنګ تر قطعه کېدو وروسته یې ما ته مخ راوړولو ویل یې:

- نوم دې څه دی؟

- اکبر!

- اکبر جانه! دفتر خو دې ولیدو؟

د سر دښورولو سربېره مې وویل:

- هو!

- ښا وروکه! بس همدلته لاندې باندې به ګرځې کوم کاغذ ماغذ، پاڼې یا بل داسې څه دې چې لیدل ټولوه یې کثافت دانۍ کې یې اچوه، د جمعې، جمعې

(c) ketabton.com: The Digital Library


په ورځ دې که په دې دهلېزو لږ لږ اوبه درسره تېرې کړې ډېر به ښه شي. بس ستا مسولیت به همدومره وي.

– سمده!

نور یې وېل:

– ښا چې سمده بیا نو داسې وکړه چې لمړی لاندې منزل کې د منشي شبې ته ورشه ځان دې ورته معرفي کړه؛ بیا آشپزخانې ته ورښکته شه آشپز ته ووایه چې اول خو یو چای درکړي ترڅو دمه دې جوړه شي وروسته به د سامانونو اطاق هم درته وښايي.

همداسې مې وکړل لمړی منشي ته راغلم منشي مې نوم؛ د داخېلېدو تاریخ او تذکري له مخې ادرس کتاب ته ورسولو، بیا لاندې منزل کې اشپزخانې ته راغلم آشپز ته مې د ځان تر ورمعرفي کولو وروسته، دسامانونو د اطاق راښودلو ووېل، که څه هم انجینر راته ووېل خو ما اشپز ته د چاي څښلو خبره ونه کړه، ولې آشپز ډېر ښه سړی و، خپله یې مېز ته اېښې چوکۍ ته په اشاره سره وېل:

ته کېنه یو ګلاس چای وڅښه، دمسکا په کولو سره یې پسې زیاته کړه: اطاق نه اطاقونه به بیا درته وښایم.

– مننه اشتیا یې نه لرم د چای څښلو وخت هم نه دی.

– اووووو د چایو لپاره چا وخت تعین کړی کېنه زورره.

(c) ketabton.com: The Digital Library


نور ما هم نه او نو ونکړل کېناستم، پوخته ساله، میانه چاغ اشپز کاکا کمه زېړ رنګه کونډۍ ګیره ښوروله ځان سره یې په ټیټ آواز زمزمه کوله چای یې راتیار کړو، له چای خوړلو وروسته مې تر مخ شو د اشپزخانې تر څنګ اطاق ور یې خلاص کړو، اطاق کې د غټ او واړو بورسونو؛ ستلونو، علاوه رنګ رنګ میکروب ضد تعمیر مینځلو مایع اېښې وې، اشپزکاکا خندنی شو وېل یې:

- امم نور دا ته، دا دې سامانونه!

- ښا مننه!

تر دې خبرې وروسته اشپز رانه روان شو، څو قدمه تللی و، بیا مې غږ پسې وکړو:

- کاکا! فتر د کارمندانو لپاره ځانګړی لباس کار نه لري؟

- انجینر عجاز پیسې درکوي لباس کار به دې خپله ځانته واخلې، دلته چې هر څوك نوي راشي پیسې ورکوي، تر هغو دې په همدغو لباس کې ګرځه.

- ښا صحیح شو مننه!

اشپز مې ددې جملې په ورغبرګولو سره دخپلې آشپزخانې په لور رخصت کړو، ما متې راونغړلې دانجینر د خبرې په تقیب لمړی مې د یونیم هاخوا دې خوا پراته کاغذو په راټولو شروع وکړه.

کرار کرار مې خپل ټول مسولیت ته غبرګه ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


زما علاوه دفتر شپږ خدمت ګاران نور هم لرل، چې دوه خپله همدا آشپز او شاګرد يې و، دريم يوازې د مهمان خانې حفاظت کونکی و، څلورم حويلۍ کې د چمن او ګلانو پالنه کوله، هغه دوه نور مسلحه ساتونکي و. خو په هر صورت زما کار دومره نه و، هسې به په تعمير کې ښکته پورته کېدمه، صرف د جمعې په ورځ د دهلېزونو او زينو مينځل څه ستونزمن و، نور ډېر ښه کار و، انجينر هم ډېر مهربانه او خوږ ژبی ځوان و، اګر چې دفتر ته به ډېر نه راتللو په هفته کې به يو ايلا که دوه ځله راغلو خو د راتلو سره به يې ډېره ګڼه ګوڼه شوه مېلمانه به ورسره و، کله ناکله به چې تنها راغلو بيا به نو زموږ هم ساعت ورسره تېر شو، بلا جالب مجلس يې کولو، اګر چې هغه به هم ډېری وخت په موبايل کې غږېدو.

د څه وخت په تېرېدو سره زما او اشپز کاکا کلکه ملګري شوه، دايم به مو چې وخت پيداکړو ديو بل څنګ ته به ورتلو د نور

بنداړ سربېره يګان راز به مو هم سره کولو، په همدې باب يوه ورځ مې ورته وېل: دا انجينر عجاز مې چې په لمړي ځل وليدو ببخي ډېر شناخته تر نظره راغلو اوس هم چې ورته ګورم داسې راته ښکاري لکه له مخکې مې چې چېرته ليدلی وي، اما هېڅ يې په ياد نشم راوړلی؟

آشپز راغبرګه کړه:

– ليدلی به دې وي دا دومره ډېر ګرځي، يو ځای په وزارت فوايد عامه کې د معين دنده مخ ته وړي، بل ځای په کوم شخصي پوهنتون کې استاذ دی، دوه يې ساختوماني شرکتونه دي دولتي ستر قراردادونه ټول دی نيسي ، دری يې

(c) ketabton.com: The Digital Library


په شارنو کې حمامونه دي، په کرایه یې ورکړي، شاید نور کارونه به هم مخ ته وړي.

- ای هی دا دومره کارونه په یوازې ځان څه رنګه مدیریت کوي؟

- امممممم دا داسې بلا بیدار سړی دی، اوس یې هم ښځې له کاره ایستلی کني دومره نور کارونه یې هم مخ ته وړل.

په خندنۍ لهجه مې وویل:

- ښځه یې څنګه له کاره ایستلی؟

- ته یې نه وینې چې ګرده ورځ یې موبایل غوږ ته نیولی وي، خاندي ټوکې ټکالې سره کوي؟ اففف بل شان پرې ګرانه ده، ته باور وکړه په ټولو ورځ کې دری برخې دخپلې ښځې سره لګیاه وي غږېږي، په دې یوه برخه کې یې دا نور ټول کارونه کوي.

- څه وایې؟

- ټوکه مې ونکړه، ته صبر کرار کرار به یې خپله وپېژنې، یو وړکی زوی یې دی، هغه هم ډېر پرې ګران دی، اوږده ساه یې ونیوله بیا یې وېل: اففف داسې ښه نوم یې و، له یاده مې ووتلو هووو فیاض نه، نه رښتیا عیاز نومېږي.

ددې خبرې له کولو وروسته له لاندې چا غږ وکړو، آشپز کاکا ورښکته شو، زه هم جګ شوم مجلس مو همدلته رنګ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


خو رښتيا هم لکه څنګه چې آشپز کاکا ويلي و، د وخت په تېرېدو مې خپله وليدو ډېر چلاك او بيدار هلك و دښځې سره د بې انتها مينې پاللو تر څنګه کوم چې آشپز کاکا يې يادونه کړې وه، ټول کارونه يې مديريت کول.

چون دا يې هم په هر حال راځم يوې بلې خبرې ته څنګه چې مخکې مې هم يادونه کړې ما او آشپز کاکا ځينې رازونه سره شريك کړي و، په همدې لړ کې ما دخپل غربت او سختو شپو ورځو حال هم ورسره شريك کړی و، همدا و چې هر ورځ به يې له ورځني کتغ (پخلي) نه يوه اندازه په وړکي پلاستيکي ستل کې راته ستون کړی و، له مازديکر به يې راکولو ترڅو کور ته يې راسره يوسم، او ددې علاوه هر هفته کې به يوه بوجۍ له مهمانخانې نه را زياتې شوې د وچې ډوډۍ ټوټې هم برابرې دې دا به يې هم ماته راکوله ترڅو خرڅه يې کړم، خو له بد مرغه يوه ورځ چې د وچې ډوډۍ بوجۍ مې په شاه و، ستل مې لاس کې و، څنګه چې تر دروازه ووتلم کغغغ شو انجينر مې د مخې سره برېك ونيولو موټر يې ودرولو، له شيشې نه يې زما په شاه بوجۍ ته په سترګو اشاره وکړه ويل يې:

– اکبرجانه: دا څه دي؟

ايششش په داسې حال د انجينر له ليدلو سخت خجالت شوم؛ هغه د چا خبره که چاره دې را اچولې وای څاڅکی وينه به نه وه، رانه تللې، خو بله لار نه وه، په غلي غږ ګنګړو مې وويل:

– وچه ډوډۍ ده.

انجينر مې له خجالته په خراب وضعيت پوه شو زر زر يې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


- ښا، ښا ډېر ښه دې وکړل، ورځه چې سترې کوي دي، که څه هم انجينر خو ددې شيانو کيسه کې نه و، نه پسې ګرځېدو.

ولې زما وضعت تر ډېره خراب و، فکر مې کولو د انجينر تر نظره به څومره خستوز ورغلی يم؟ يا به انجينر فکر کړی وي چې څومره غل سړی دی پرته زما له اجازې يې وچه ډوډۍ په شاه کړې وه، نور به څومره شيان وړي؟ چون دا زما فکرونه و، ولې خبره برعکس وه، سبا چې ورغلم آشپز کيسه راته وکړه انجينر زما له را روخصتولو وروسته دفتر ته ننوتلی و، له آشپز نه يې زما د ستل او وچې ډوډۍ په اړه پوښتنه کړې وه، څنګه چې ما ورته ويلي و، آشپز هم زموږ دغربت او سختو مجبوريتونو ټوله کيسه ورته کړې وه، انجينر دخپل نرم زړه له مخې د آشپز د خبرو په آورېدو ډېر خپه شوای و، په مقابل کې يې آشپز ته ويلي و، هېڅ وخت بې کتغ درنه ولاړ نشي سپورې ډوډۍ هم ورکوه؛ ولوکه که زموږ ميلمانو ته کمې ده هم.

د آشپز له خولې ددې خبرې په خبرېدو خوشحاله شوم د کوم څه له وېرې چې ما د انجينر له ديدګاه ځان کړولو انجينر زما په اړه هغه فکر نه و کړی، خو په عين حال کې مې لاهم د خجالت احساس کولو، زړه کې مې ويل: کاشکې دې سړي په دې حال نه وای ليدلی، اما اوبه تر ورخ تېرې وې، څه به مې کړي وای؟ واپس مې په خپله صفاکاري پيل وکړو، له دې پېښې درې ورځې تېرې شوې انجينر دفتر ته رانغلو څلورمه ورځ تقريباً لس بجې وې په دوهم پوړ کې په خپل کار اخته وم، د دروازې کړپار شو، تر کړکۍ مې ور وکتل ساتونکي دروازه خلاصه کړه، دانجينر موټر حاويلۍ ته راننوتلو وړاندې راغلو سره د يوه وړکی ماشوم له موټر نه راښکته شول، لاندېني پوړ کې دمهمان خانې له

(c) ketabton.com: The Digital Library


محافظت کونکي سره یې د سلام علیك غږ ولګېدو، بیا یې د آشپز سره جوړ پخیر شروع کړل، زه نو زر زر په صفاکارۍ اخته یم دسترګو تر کونجو زینو ته ګورم چې اوس به رجګېږي، اوس به راجګېږي، د سږي وخت ووتلو، چې کتل مې آشپز د زینو له نیمی نه غږ راوکړو وېل یې:

ـ راشه انجینر دې غوړي!

دښځو خبره زړه مې د پښو تر تلو تېر شو ووېرېدم چې دهغه ورځې ډوډۍ ایستلو څه غم نه وي، خو بله چاره نه وه ور روان شوم، انجینر مهمانخانه کې په کوچ ناست و، سلام مې وراچولو سترې مشي مو وکړه، بیا مې ماشوم په دوه ګوتو نرم تر دې یوه اننګي ونیولو لطفي خوش مې ورسره وکړو، دکیناستو سره سم انجینر دمخ په را اړولو سره ووېل:

– اکبر ګله! تاپسې راغلی یم دې خاله نادیه څوك مریضان دي، دا دوې هفتې نه ده، راغلې د کور برنډې مو سختې خیرنې شوې، نن دې هغه راته مینځلې وای، بل شان ثوابونه به دې شوي و. آشپز وخندل، ما ته یې هم دا د ثوابونو کلمه څه جالبه ښکاره شوه مسکی شوم، د سر د ښورولو سره موازي مې ووېل:

– ښا صحیح ده!

نیم ګلاس چای ئې ځای په ځای پرېښودو جګ شو وېل یې:

– څه نو چې تا ورسوم، بیا مې میداني هوایي کې لږ کار دی ناوخته نشي.

بلاخېره راروان شو، په لارو مې د ماشوم سترګو، پوزې، خولې او همداسې دمخ نور جوړښت ته ور فام شو سره ددې چې ماشوم خپله هم ډېر ښکلی و،

(c) ketabton.com: The Digital Library


ولې سترګو، پوزې... ته په کتو يې هاخوا د ماشوم له وجود نه يو قسم ډېر مزدار بهرنی خوند مې ترې حس کوو، هېڅ نه پوهېدم چې دې کې څه راز دی، ولې مې دې ماشوم ته کاته دعشق رنګينې دنيا ته وړې؟ او په عين حال کې لکه مخکې له مخکې مې چې ډېر ليدلی وي، تر پلار نه يې ډېر شناخت راته ښکارېدو، په داسې حال کې چې لمړی ځل دی وينم يې، زړه کې مې وېل: انجينر به کوم تعويذ معاويذ کړی وي، ځنګ ټول داسې شناخت ښکاري؟ همدې فکر کې ډوب وم، چې د کارت پروان ساحه کې انجينر جلب ووهلو موټر يې له عمومي سرك نه فرعي سرك ته ويستلو په څه مخکې تلو سره د يوې لوئې کوټې خوله کې څلور پنځه پولس ولاړ و، د ډبلې اوسپنې په واسطه يې لاره بنده کړې وه، موټر ته يې راوکتل د انجينر سره يې سلام عليك وکړو اوسپنه يې جګ کړه تېر شو، د کوټې دواړو خوا ته ډېر ښايښته تعميراتي کورونه و، دځينو دروازو مخکې ساتونکي هم ښکارېدل داسې انګېرل کېده چې ټول به دې دولتي غټو چارواکو کورنه وي.

خو په هر حال له څو کورونو چې تېر شو انجينر د يوې فولادي غټې دروازې مخته موټر راتاو کړو آورنګ يې وکړو، سم دلاسه يوه سپينږيري له قده ټيټ بابه دروازه خلاصه کړه، ورننوتلو تر څه وړاندې تېردو وروسته له موټر نه راښکته شو که څه هم حاويلي تر ډېره د دفتر حاويلۍ ته ورته وه، همغه شان چمنونه، رنګ رنګ ګلان او په ګلدارو مزايکو فرش نرۍ نرۍ لارې پکې تېرې وې، ولې تعمير يې د دفتر له تعمير نه بلا ښکلی و، بېخي نمونه نقشه يې وه؛ ددې سربېره عجيب غريب جذاب ورونه؛ کړکۍ، پنجرې يې پکې نصب

(c) ketabton.com: The Digital Library


وې، او همداسې رفقونه، منارې، په بېلو بېلو برخو کې مصنوعي جوړ شوي ګلان ډېر جالب و.

خو تر څو کیسه اوږده نشي له تشریفاتي خبرو به راتېر او راساً به دې ځای ته راشم انجینر تر تعمیر چارپېره برنډه، بورسونه، دتعمیر شویی مایع دابو پیپونه راته وښودل، اخېر کې یې تر برنډه لاندې د حوض کونج کې کوټ وچې ډوډۍ ته لاس ونیولو وېل یې:

- دا ډوډۍ دې هم که له دې ځای نه درسره ورکه کړه، څومره به ښه شي، که څه هم د انجینر مطلب دا و، چې ګواکي درسر یویې سه، لکه د دفتر نه دې چې یوړه د ځان لپاره یې دې خرڅه کړه، خو دخپل انسانیت له مخې ترڅو خجالت مې نکړي خبرې ته یې دا رنګ ورکړو.

خدایې چې شي زه هم ورته خوشحاله شوم ډېره ډوډۍ وه، زړه کې مې وېل: شپږ، اوه سوه روپۍ خو کېږي، چون ده ته مې عادي ووېل:

- ښا سمده

نور مې په خپل کار شروع وکړه برنډې ته مې د ابو پیپ ونیو، انجینر یې څو دقیقې دکور داخیل کې ورك و، پس له څو دقیقو په عجله راووتلو موټر ته یې وختلو ولاړو.

یو، یونیم ساعت وروسته زما برنډې هم پاکې شوې، پیپونه میپونه مې خپل ځای ته ورټول کړل. د وچې ډوډۍ په بوجۍ کولو مې شروع وکړه، ډوډۍ زیاته وه، د بوجۍ تر ډکولو وروسته مې دغاړې دسمال ورته وغوړولو دا باقي مې

(c) ketabton.com: The Digital Library


په دې کې راپنډوکی کړله، دهمدې پنډوکي په پېڅو غوټه (ګنډه) کولو اخته وم، په دې وخت کې مې د سترګو له کونجو تر څنګ په برنډه د یوې ښځې څېره تر سترګو شوه چې زما په لور را روانه و. نور مې سترګې ور پورته نکړې چې زړه یې که ځوانه یې حتا بېخي مې ځان پرې پوه نکړو چې ګواکې زه دې وینم، ښځه راغله، راغله زما حد ته په رارسېدو یې جوړه لاس د برنډې په پنجره کېښودل، په سیل مې ودرېده.

ما لا هم ځان ناګومانه پرې اچولی و، دخپل پنډوکي په غوټه کولو لګیاه وم، د پنډوکي تر غوټه کولو وروسته مې بوجۍ ته شاه ووهله دا مې راجګه کړه غوښتل مې چې پنډوکی مې لاس کې راسره واخلم نور همدسې راووځم خو څنګ مې چې پنډوکي ته لاس ورښکته کړو ښځې غږ وکړو:

- اکبر نه یې؟

په حیرانتیا مې سترګې ورپورته کړې چې یوه تك سپینه ډډه بډه د سپوږمۍ په شان ښکلې او لکه تازه د واده په تخت ولاړه ناوې، سینګار کړې نجلۍ ولاړه ده، که څه هم ډېر وخت وتلی و، قوارې یې څه نا څه تغیر کړی و، چاغه شوې وه بل خوا ښکلایې هم بېخي سرشارې کوله، خو د اننګې له پاسه د پرېکړو ویښتو په لام مې فوراً وپېژنده چې مرواء ده، ددې سربېره هغه ورځ په خوب کې مې چې سېلاب ته وغورځوله دسېلاب منځ کې چې د ښکلې ځوان سره په تخت ناسته وه، عیني شان سینګار کړې وه، او همدغه اوسنۍ جامې یې په تن و، کټه مټه ښکلاء یې پنځوله. او ورسره پیوسته دا خبره هم ذهن ته

(c) ketabton.com: The Digital Library


راغله اوووو هغه ځوان خو همدا انجینر و، چې مرواء سره د سیلاب منځ کې په ګل پوش کړي تخت کې ناست و، ځکه شناخته، شناخته راته ښکارېدوه.

خو په هر صورت، څنګه مې چې وپېژندله پرته له دې چې د خبرې ځواب يې ورکړم، په شاه کړې بوجۍ مې واپس ښکته په شاه وښويوله ځمکه ته مې خطا کړه، قدم مې ور واخيست په داسې حال کې چې مرواء مې دګېډې په اندازه جګه د برنډې په څنډه ولاړه وه، دپنجرې له دې خوا يې پښو ته ټيټ شوم، دټيټېدو سره سم مې وويل:

- ما وبښه دخدای ج په لحاظ، همدومره غذاب مې بس دی په کوم حال مې چې وينې او څه چې په ما تېر شول يو الله ج وليدل، دا هر څه ستا له آزار پرته نور هېڅ نه دي.

مرواء ديو قدم په اندازه شاته تللو سره په خواشني انداز وويل:

- پورته شه پښو ته مه ټيټېږه آسمان به راپرېوځي، کني رښتيا، که څه هم ما به آزار نه کولو خو تر زړه مې غيرې ارادي سوي آهونه درپسې وتل مګر دومره خوار مې هم نه غوښتې لکه وينم دي چې، اما ځار دخدای ج تر خدايۍ.

له دې خبرې وروسته يې دواړه لاسونه جګ کړل يو زېړ ځينځير چې غټ لړم غوندې ګل هم پسې زنګېدو له خپلې غاړې راخلاص کړو پسې زياته يې کړه: اممم دا وخله ولاړ شه خرڅ يې کړه، لمړی يوې سلمانۍ ته ولاړ شه دا ويښتان او ګيره دې جوړ کړه، بيا ښه صحيح يو حمام وکړه؛ له هغه وروسته يو دوه جوړه موسمي څپلۍ او کورتۍ واخله همداسې تر څو چې پرې کېدل وغيره ضرورتونه دې پوره کړه، نور به بيا غږېږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


- نه، نه، ځینځیر دې نه اخلم، صرف یو ځل د زړه له خلاصه ښښنه راته وکړه، خیر دی؟

په جدي انداز یې راغبرګه کړه

- اممم واخله لمړی دې دا کارونه وکړه. بیا که رښتیا زما نه ښښنه غوښتل دومره درته مهم و، سبا راشه.

ګوتې مې ورتېرې کړې ځنځیر مې راوخیستلو جیب ته مې واچولو نور ورتېت شوم د پنډوکي په غوټه خلاصولو مې شروع وکړه؛ زړه مې و ډوډۍ واپس ترې تشه کړم، دسمال ترې راخلاص کړم په اوږه یې واچوم خو مرواء غږ وکړو:

- پرېږده یې څه دسمال هم بل واخله.

ددې خبرې د آورېدو سره مې نرم لاس ترې راټول کړل جګ شوم دجګېدو سره سم مې کرار وویل:

- دخدای پمان!

- خدای دې مل شه!

دلاسو لړزې، ژبې بندېدو او ځیني نورو بې واکه غېر نرمال حرکاتو ته په کتو مې یې زیاته کړه: سبا حتماً راشه شرمېږه مه خیر هېڅ خبره نه ده.

خدایي چې شي دې خبرې یې اوچت راتیکه کړم سر مې وښورو ګواکي سمه ده نور ترې را روان شوم له دروازې نه راوتلو کې مې دسترګو تر څنګو لږ ور وکتل مرواء لا هم په خپل ځای حیرانه، بریانه خواشونې راپسې ولاړه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


عمومي سرك ته تر راوتلو وروسته د کوټسنګي موټر کې راسور شوم، د مرواء لیدلو مې دعجیبې غریبې کیسې په حیث ذهن اشغال کړی و، دا هم په هر حال هغه کالونه مخکني لیدلي خوب ته مې ښځی عجیب وم چې کالونه مخکې مې مرواء او خاوند یې انجینر عین شان ښکلي، خوشحاله او همدغو لباسو کې لیدلي و، انجینر مې هم چې لمړی ځل دحمام له منځ نه ولیدو ګټ مټ لکه څنګه مې چې خوب کې لیدی و، سپین کالي تور واسکټ شاته پرېښو په ولیو پرتو ویښتو څوکې یې واپس د سر طرف ته راتاو وې بل شان خوند یې ورسره کولو.

ددې سره جوخت دا هم ذهن ته راغلل اووووو هغه پرون مې د انجینر ماشوم زوی ته په کتو چې حواسو رنګینې هواوې کولې دې کې خو د مرواء رنګ و.

په همدې فکرونو کې ډوب وم چې کلنډر غږ وکړو.

- بیایې بخیر تا شوې.

چې سترګې مې وغړولې کوټسنګي ته رارسېدلي و، رابښکته شوم د مرواء دخبرې مطابق لمړی طلاء فروشۍ ته ولاړم ځینځیر مې په اوه دېرش زره (۳۷۰۰۰) افغانۍ خرڅ کرو،

البته له یادولو دې پاتې نه وي کله مې چې له جیب نه راویستلو یو قسم مزدار د مرواء دبدن بوی یې لګېدلو لمړی مې په موټې کې راغونډ کړو، دیوې شیبې لپاره مې کلك په اننګې ونیولو؛ وروسته مې طلاء فروش ته ورکړو که څه هم په خرڅول مې یې بلکل زړه نه کېدو، خو دغم مجبوري دې شي، خدای ج دې په سپي نه راولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


خلاصه تر خرڅلاو وروسته یې سلمانۍ ته ولاړم ویښتان او ګیره مې هغه د محصیلۍ د دورې غوندې ښه په طبعت جوړ کړل او همداسې حمام مې وکړو، لکه څنګه چې مرواء ویلي و، له دې وروسته مې دوه او درې جوړه ښه ښایسته، ښایسته روزې موډ لباسونه راونیول، چې حساب مې وکړو ټول ټال دولس زره افغانۍ مې مصرف کړې وې، له باقي پیسو مې درې زره ۳۰۰۰ نورې هم رابېلې کړې یوه نیمه کیلو غوښه، ترکاري، څلور پنځه نوعه تازه موسمي میوه مې راسره وخیستل دکور په لور روان شوم، ناوخته د ماښام ساه په ختو وه، کور ته ورسېدم، مور او خویندې مې دخوشحالۍ تر څنګ زما په پخواني ستایل ګیرې او ویښتان جوړېدو، او همدارنګه د رنګ رنګ لباسونو وغیره سودا رواړلو دپیسو منبع ورښودلو په پار زما خولې ته غوږ په آواز وې.

ما هم ډېرې انتظار ته ورنکړې، ولې بیا هم لمړی مې جیب ته لاس کړو پاتې اولس زره افغانۍ مې راویستلې د مور او خویندو تر مخ مې کېښودې، ومې وېل:

– امممم دا پیسې واخلئ لباسونه یې کوئ، چکرې پرې وهئ، کومو خواړو ته مو زړه کېږي پرې اخلئ یئ، مقصد هر څنګ مو چې طبعت وي، هغه شان یې مصرف کړئ، خاص د همدې لپاره خدای ج راکړې، پاکې صفا حلالې پیسې دي، اینده کې هم هېڅ وولول نه لري، نه مې له چا غلا کړې، نه مې راقرض کړې، نور مه پسې ګرځئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څه هم مستقیماً مې ورته ونه ویل چې د کومه مې کړې؟ ولې دا چې له مخکې نه مې هېڅ وخت دروغ نه ورته ویل، ددې پیسو په حلال والي او له نورو ستونزو په پاکولي هم باوري شوې، نور ددوئ په تندیو هم د خوښیو د مېتر ستنې یوسلو اتیاو ته جګې شوې، مور مې لاس ورښکته کړو پیسې یې ورپورته کړې.

هو رښتیا د پیسو ورپورته کولو په جریان کې یې مدینې ته په سترګو ور اړولو سره دا هم وویل:

- سهار مې درته ونه ویل: چې پیسه دار کېږو بېګاه مې مرداري په خوب لیدلې؟

ددې خبرې په کولو سره مور ډېر ورته و خندل.

خو په هر راز له کورني مور او خویندو سره دمجلس نه به هم راتېر شم لنډو کې به ووایم چې شپه تېره شوه، سهار له چای خوړلو وروسته مې په نویو لباسونو کې تر ټولو ښکلی لباس واغوستلو، په وینښتو مینښتو مې ګوتې ووهلې نور نو د مرواء سره دکړې وعدې له مخې ور روان شوم.

اګر چې نظر پروني زما پوډري مانند خبرې او نن ددې د غاړې د ځینځیر خرڅولو په پیسو له ځانه شازاده جوړول او ددې علاوه په پخواني ورسره کړې ناځواني مخې ته په ورتلو ډېر ترې شرمېدلم هم.

خو څنګه کړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


بلاخپره کارته پروان ته په رسېدو سره د دوئ د کوڅې خوله کې کوڅه ساتونکو عسکرو ودرولم وېل يې:

- چېرته ځې؟

- د انجينر عجاز کور ته ځم!

پولس موبايل راويستلو زنګ يې ورته ووهلو زما نوم او نښې يې ورته ووېلې بيا يې په غوښتنه ګوشې ماته راکړه، تر سلام عليك وروسته يې ووېل:

- چېرې روان شواى يې؟

ځواب رانه ورك شو، حيران بريان خاموش ولاړ وم، زړه کې مې وېل که ورته ووايم چې مرواء ورغوښتې يم هسې نه بده پرې ولګي، شيبه وروسته چې لا مې هم ځواب نه و ورکړى په له لاسه ورکړو روحياتو او رانه ځواب ورکي حالت مې پوه شو ويې خندل وېل يې: ګوشې قومندان ته ورکړه، موبايل مې همغه شان په پټه خوله واپس عسکر ته ورکړو، انجينر زما د پرېښولو ورته ووېل، فکر کړم زما په باب او بيا راغوښتلو په اړه مې مرواء ورته ويلي و.

خو چې هر څه و مقصد عسکرو مخه راکړه دروازې ته درسېدو سره سم مې د دروازې د زنګ په بټنه ګوته تخته کړه، دروازه ساتونکي بابه دروازه خلاصه کړه، که څه هم څه يې د پرونۍ ليدنې له مخې پېژندلم هم، ولې بيا هم ځان مې ورته معرفي کړو، او د کور داخيل ته دتلو مې ورته ووېل، بابه ليني ګوشې راجګه کړه زنګ يې ووهلو زما دنوم په اخيستلو د ورتلو مې يې ورته ووېل، له هغه خوا ځواب مثبت و، بابه لار راکړه، مخکې له دې چې تعمير ته ور

(c) ketabton.com: The Digital Library


ورسېږم مرواء د تعمير له برنډې په زينو کې ميده ميده حاويلۍ ته راښکته شوه همدلته سره مخامخ شو د درې څلور متره فاصيلې په لرلو سره مې سلام وراچو په ټيټ آواز يې د سلام جواب راکړو بيا يې دسترګو په معمولي حرکت چپ لاسه دګلانو په سريو کې چارپېر څهار کونجه چمن کې ميز او چوکيو ته اشاره وکړه، ورتاو شوم خو قدم مې ونيولو دا مې تر مخ کړه چمن کې لکه د وادونو تالار کې دطعام خورۍ دوه ګرد مېزونه اېښي و، چوکۍ ور چارپېرې وې مرواء همدا د مخې مېز کې کېناسته زه وړاندې دوهم مېز ته تېر شوم چې تقريباً يو نيم متر ددې مخې له ميز نه هاخوا اېښی و، مخامخ ورته کيناستم، په دې وخت کې فکر کړم انجينر زنګ ورته ووهلو، ځکه دې ورته ويل هو راوسېدو، دلته راسره ناست دی، نور خدايزده هغو څه ورته ويل غږ مې يې نه آورېدو خو دا ورته مسکه مسکه کېدله.

د تليفون له قطعه کېدو سره سم يې ما ته مخ را واړولو په توند لهجه يې وويل:

- ما فکر کولو چې تر دې وروسته به ټول کارت پروان ته له شرمه رانشي دلته خو لاڅه کوې اما داسې ښکاري چې دشرم او حيا په نوم هېڅ نه پېژني، ايا ته په کومو سترګو له ما نه دبښنې هيله کوې؟ ستا خو هغه مسلماني او ترحم وه چې زما په وړاندې دې کار ترې واخيستلو؛ هسې خدای ج مې مل و، کنې تا خو دهغه طوفانو په خوله ورکړم چې تصور يې نکېږي، په داسې حال کې چې زما لمړی خدای ج ته هيله و، بيا تاته، چون تا زما دهيلې برعکس زه د مرګ اخيري سلګۍ په خوله دې خوا راولېږلم، ددك مې له جګرخون نه دريمه ورځ سکته وکړ مړ شو، څړي څړوکي مو کاکا چور کړل، بلاخېره په دروازه مو قلپ

(c) ketabton.com: The Digital Library


ولوېدو په ضرب دې دوو ورځو کې مو سر، ملك او مل ستا له لاسه ورك شول، او نن بيا په ټوله سپين ستر ګي سره راغلې يې ښنه غوارې؟

ددې خبرې په کولو سره مې يې تر هر وينته خولې وبهولې، نور د خبرو کولو تاب راپاتې نشو صرف دومره مې وويل:

– منم همدا وجه ده، چې نن دې په ټوله آجزۍ پښو ته تېتېږم ښنه غوارم، خو ستا خبره رښتيا هم زه د دومره ظلم کولو سره چې ستا او همداسې خپل ځان په وراندې مې وکړو د ښنې لايك نه يم، پرېږده چې حال مې تر دې بدتر شي، په راجګېدو کې مې پسې زياته کړه دخداى ج پامان ولاړم.

ددې خبرې سره دا هم اچت جګه شو لاړ يې ونيوله په يوه ساه يې وويل:

– نه، نه، نه، ته کينه، ته کينه ولاړ به شي يو ځل غوږ ونيسه!

لاهم ځو شيبې ولاړم ددې تر څه نور ټينګار وروسته واپس نرم په خپله چوکۍ کېناستم، مرواء په مسکاه سره زياته کړه:

– وېرولې مې خو دومره هم نه فکر کړم زياتى مې وکړو په ښنې سره، که څه هم ډېره دردېدلې وم، ولې داسې حال مې هم نه درباندې لورېدو لکه پرون مې چې دځنګلي په شان ببرسر، ګيره، چتلې زړې جامې او ګازي چپلکې په پښو وليدې هغه هم په داسې حال کې چې وچې ډوډۍ دې ټولولې، نور به په هغه خبرو دروند کاڼى کېږدو، ځکه ستا همدومره سزا بس ده، طبعاً چې ته په دې حال يې خاله به هم څه ناڅه په خپله سزا رسېدلې وې، ( زړه کې مې

(c) ketabton.com: The Digital Library


ويل چې بيچاره خو په مسجدونه کې د ډوډۍ لپار سوال وکړو نور به نو سزا څنګه وي؟) خو دې ته مې غږ ونکړو.

مراوء زياته کړه: زما لپاره يې په مقابل کې همدومره اجر بس دی چې دټول اشرف المخلوقات، شريف انسان عجاز يې راکړو قربان دخدای ج تر مهربانۍ.

اما اوس له دې وروستۍ کيسې هاخوا کومې نيکۍ چې خاله، مدينې، فريښتې او خصوصاً تا راسره کړې غواړم سترګې پرې پټې نه کړم په عوض کې يې دې لاسنوی وکړم، وايه څه درسره وکړم؟

– يوازې ستا په وړاندې کړي غرور او سهوې په خاطر مې داسې يوه ښه د زړه له خلاصه ښښنه راته وکړه او بس.

په خندا شوه بيا يې وويل:

– هو رښتيا خاله، مدينه، فريښته ښې دې، او دملګرې نوم دې څه دی، ښه ده؟

– الحمدالله ښه دې.

تکرار يې وويل:

– ملګرې دې څه نومېږي؟

– ملګرې پسې مه ګرځه، ورکه وه يې.

– څنګه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


په دې وخت کې مخکې له دې چې ځواب ورکړ یوې چاغې تقریباً د پرش کلنې ښځې چای راوړو د نورې وچې مېوې علاوه په یو قاب کې ډېرې ښې سمبوسې وې، ددې نیك مرغو سره زما ډېره جوړه هم ده. خدایې چې شې ورته خوشحاله شوم. ښځې مو چای تر مخ کېښودو دا ولاړه له آشپزې لباس نه یې پوه شوم چې آشپزه ده. مقصد د چایو په څښلو مو پیل وکړو؛ په دې وخت کې یې بیا رافام شو وېل یې:

- د ملګرې خبره دې پرېښوده!

- ربنتیا درته ووایم؟

- هو!

کیسه مې ورته شروع کړه دا مې ټول ورته ووېل چې عاشق یې مزار ته راغلو عکسونه یې راوړې و بلاخېره ور پرې مې ښوده. وروسته له یوه کال نجلۍ بیا زنګ راته وکړه وېل یې عاشق مې مړ شو. زه غواړم واپس ستاسره واده وکړم، خو ما ځواب ورنکړو. که څه هم ډېرې زارئ یې وکړې اوس هم وخت ناوخت مسېجونه کوي ځان نه پرې پوهوم.

په مسکا کې یې راغبرګه کړه

- لېونی شوی نه یې دا څه وایې؟

- که یې نه منې مسېجونه درته وښایم؟

نور مې ددې ځواب ته غوږ ونه نیولو سم دلاسه مې جیب ته لاس کړو موبایل مې راویستلو لمړی مې هغه اولیني لوی لوی متني مسېجونه دصفحه سر ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته راوستل موبایل مې ورکړو دمسېجو په لوستلو یې پیل وکړو خدایزده تر کوم ځای به یې لوستی و چې سترګې یې راډکې شوې، لاس یې ورجګ کړو اوښکې یې وچې کړې بیا یې په لوستلو پیل وکړو، شیبه ورسته یې وېل:

ـ ما ته مې یې هغه خپلې خبرې رایاد کړې، مزار ته مې چې زنګ دروهلی وه، یاد دې دي؟

ددې خبر په کولو سره ئې اچت خوله کې لاړې را وچې کړې، خو خیر

سترګې مې ښکته واچولې لمړی مې سر وښورولو ګواکي هو! زر بیا دا خبره ذهن ته راغله ومې وېل:

– نه بابا تا خو همغه یوه ورځ ووېل او بس دا داسې شله انسان دی ته صبر چې زه یې وتېساف ته را استولي صفتي مسېجونه درته وښایم.

زر زر واتېساف ته ولاړم د صدف صفحه مې را وسپړله له وروستیو را استولو پنځو پیامونو مې لمړی پیام پلې کړو،

پکې ژړل یې زارئ یې کولې،

بیا مې بل پلې کړو وېلي یې و:

– دخدای ج په لهذ، د قران په لهذ غږ مې واوره.

دریم پیام مې پلې کړو:

په دې کې یې هم په چیغو چیغو ژړل همداسې څه عذري الفاظ یې ویلي و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دریم وروسته مې په صفحه زر زر له پورته نه ښکته ګوته کش کړه ومې ویل:

- دا سلګونه پیامونه ټول ددې دي ټولو کې یې همدا یوه غوښتنه کړې.

نور مې لاس راټول کړو له واټساف نه راووتلم موبایل مې دمېز له پاسه تر مخ کېښودو.

مرواء یوه لهذه هیجاني هیجاني راته وکتل وروسته یې ساه وخیستله لاړې یې تېرې کړې ویل یې:

- هغه پوهنتون دې څنګه کړو، ودې ویلو کنه؟

- هو پوهنتون مې وویلو اسناد مې یې واخیستل.

- بیا نو ولې دخلکو له کورونو وچه ډوډۍ ټولوې یا یې صفاکارۍ کوې؟

- بس نصیب دی، کني دپوهنتو علاوه دخپل مسلك مربوط ډېر وخت مې کورسونه وویل انګلسي او کمپیتر مې ښه سم زده کړل، او داسې هم نه ده چې زه دنده پسې نه یم تاو شوی، باور وکړه پښې مې پسې تڼاکې کړې، داسې لویه او کوچنۍ اداره به نه وي، چې ما مې سبویګانې، نه وي ورسولې یا مې امتحان نه وي ورکړی.

- پوهېږې دا ټول د صدف آزار دی؟ هغه بېچاره سلګونه متني او صفتي پیامونه درته استولي په چیغو چیغو یې پکې ژړلي، ولې تا ظالم بیا هم...

(c) ketabton.com: The Digital Library


نور یې څه ونه وېل خبره یې په همدې ځای نیمګړې پرېښوده، ما ورغبرګه کړه:

- نه، نه، دا چې ستا خبره نن راغلی یم په ټوله سپین سترګۍ دې مخ کې ناست یم ښښنه غواړم، آزار یوازې ستا دی او که مې ونه ښښې کېدی شي یوه ورځ ذهر راباندې وخورې. د صدف مدف سره ما کوم ظلم نه دی کړی.

- ایا دا ظلم نه ګڼې چې یو انسان دې چاته دومره وژاړې عذرونه او زارۍ دې وکړې هغه دې ځان نه پرې هوپوي؟

- ایا نو ته مناسب ګڼې چې زه دې ددې نجلۍ سره واده وکړم په داسې حال کې چې عاشق مې یې په خپلو سترګو ولیدو، او خپله نجلۍ هم راته ووېل چې کالونه کالونه مې مینه ورسره کړې، ستره بغیرتي به نه وي؟

- اممم ته چې دومره ننګ یالی یې بیا دې له ما ولې مچو اخیستله ایا داسې دې نه وېل چې دا به دچا لور وي، اینده کې به د چا ناموس وي، که نه دا غیرت دې یوازې د ځان لپاره خوښېږي؟

افففف خبره نه وه، تا به وېل تناره کې یې غوپه کړم تر ټول وجود مې سور تاو جګ شو، حیران بریان شوم چې څه ووایم زر زر مې بانه ړپول څو یو ځواب را زده کړم، خلاصه وخت ووتلو ذهن ته څه رانغلل همداسې  مې خاموشي پسې اختیار کړه

مرواء بیا ووېل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


- لکه څنګه چې وايي که رښتيا له ما ښښنه غوښتل همدومره درته مهم وي، نو قسم ده، تر څو دې دا غرور له رګونه نه وي وتلی، که مې ښښلی وې، حال دې تر دې بدتر غواړم.

- يعني صدف سره واده وکړم همداسې وايې؟

- صد فيصد خو په دې شرط، ته يې نمبر راکړه يو ځل زه ورسره غږېږم که اوس هم جدي وه، خبرو کې يې اخلاص و، او لکه څنګه يې چې مسېج کې ليکلي خپل پېغلتوب يې ساتلی و، صرف لفظي مينه يې کړې وه.

که څه هم ډېرې بهانې چونې مې وکړې خو مرواء په همدې يوه خبره ټينګار کولو، بلاخېر و مې وېل:

- سمده ولې اوس خو له اقتصادي پلوه هم واده کولو ته نشم آماده کېدلی.

خو دې خبرې مې هم آنتن ورنکړو وېل يې:

- څه د مصارفو نه يې هم ته خلاص يې مصارف يې زما په غاړه، ددې سربېر عجاز ته وايم چې سر له سبا يوه ښه دنده هم درته پيدا کړي.

مخکې له دې چې زه څه ووايم سم د لاسه يې اعجاز ته زنګ ووهلو، له لمړي سلام کلام وروسته يې د ټوکې په انداز ورته وېل:

- افقف ته څومره ظالم سړی وختلې؟

موبايل بلندګو و عجاز هم په خندا ووېل؟

- څه شوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library


– ته وګوره اکبر دولس کاله لیسه ویلې، څلور کاله یې پوهنتون ویلی ددې علاوه څومره کورسونه یې ویلي انګلسي او کمپیټر یې زده دي او ته صفاکاري پرې کوې؟

عجاز ور غبرګه کړه:

– دا خو رښتیا هم ظلم دی اما ظالمان خپله تاسو یاست چې تر دې دمه مو حتا دا هم نه و، ویلي چې موږ کلیوال یا دېوال په دېوال ګونډیان یو خو څه ښه شو چې اوس مو هم وویل کني ما به تر څو فکر کولو چې اکبر خلیفه (ډم) دی ځکه ما خو له حمام نه راوستلو، حمام کې خو ټول...

تر څو یې خبره بشپړوله دواړه په خندا شول خبره یې همدلته نیمګړې پاتې شوه په عین حال کې زه یې هم ښه خولې کړم خو په هر حال تر یوه ښه شیبه خندا وروسته مراوء ورته وویل:

– دغه دي اوس خو مو خبر کړې، معلوم شي چې سبا یوه ښه دنده ورته پیدا کړې.

– حتما انشاءالله که نور نه وي، خپله چوکۍ خو مې شته چې ورته ویې سپارم ستا له لاتجې ځان وژغورم.

دلته بیا دواړه په خندا شول همدې خندا خندا کې مرواء ورغبرګه کړه:

– څه خدای ج دې مل شه موبایل بلندګو دی اکبر دې هم غږ آوري.

نور یې تماس ورقطعه کړو ماته یې سترګې راواړولې ویل یې:

(c) ketabton.com: The Digital Library


- دا دي عجاز به سبا پخير دنده هم درته پيداکړي، راکړه اوس د صدف نمبر!

نور به مې نو څه ويلي و، سر مې ښکته واچولو په موبايل اخته شوم شماره مې ورکړه، بيا يې وېل:

- خپله شماره دې هم راکړه، چې څه کېږي زه بيا زنګ درته وهم.

خپله شماره مې هم ورکړه، تر شماره نيولو وروسته يې وېل:

- مننه، چې خبره مې دې ومنله که دې نه وای منلې منه چې يوه ورځ به دې ددې نجلۍ له آزاره د آسمان ستوري شمارل، ځکه چې دا نجلۍ ما درك کړه دا درد ما ليدلی، پسې زياته يې کړه له دې وروسته نه يوازې دا چې ما فللا ښنلی يې بلکې دعا به هم درته کوم، څه خدای ج دې پاچا کړه.

- مننه ژوندۍ اوسې همداسې تا دې هم الله ج نه خپه کوي چې زما په واړه بدو دې سترګې پټې کړې ښننه دې وکړه بيا هم نړۍ مننه درنه کوم. ساعت ته مې وکتل پنځلس پاتې وې يولسو ته پسې زياته مې کړه: که اجازه وي نور زه ځم، شماره خو مې درکړه که څه خدمت و، بيا به زنګ وکړې.

- کينه ډوډۍ وخوره زموږ آشپزې لکه چې نن د مکرونيو تصميم درلود.

- خير يوسې سمبوسو ډېره ښه مزه وکړه د ډوډۍ اشتيا نه لرم.

دهمدې خبرې سره راجګ شوم، نور مې د خدای پاماني ترې راخيستلو سره مرواء په خپله چوکۍ کې ولاړه پرېښوده راروان شوم. له عمومي سرك نه دکوتسنګي په موټرو کې راوختلم دسيلو په ساحه کې مې موبايل ته زنګ راغلو چې اوکې مې کړو سلام عليك مو وکړو په فارسي يې وېل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


– برادار! از وزارت زراعت زنګ زدم شما که برای وظیفه ګرفتن امتحان داده بودي، تبرکي ایشان میګم کامیاب شودي، سر از روز شنبه بیایي.

همداسې څه یې وویل، مقصد فارسي مې نمجنه ده که غلطي مې کړې وي وبښئ، خو پوه شوم مننه مې ترې وکړه په داسې حال کې چې دا امتحان مې تقریباً یو نیم کال له مخه ورکړه و، خو په هر حال زړه کې مې وویل: د شنبې تر ورځې دوې درې شپې وخت شته که انجینر په دې دوه دریو شپو کې کومه سمه دنده راته پیدانکړه هرو مرو به همدې ته ورځم.

څه سر مو خوږوم، کوټسنګي ته تر رسېدو وروسته کمپنۍ ته ولاړم تر څو واپس راتللم ورځ تېره شوه، ماښام د کلا واحد په خامه چټله کوڅه کې دکور په لور روان وم، چې جیب کې مې د موبایل کړنګار شو، را ومې ایستلو له یو ناشناخت هغه هم خارجي غونډې نمبر نه زنګ و، چې اوکې مې کړو مرواء وه، له جوړ پخیر وروسته یې ویل:

– د صدف سره وغږېدم، ویډیویي زنګ مې ورته کړی و، ډېره ښایسته او هوښیاره نجلۍ وه، مسېجونو کې یې چې څه ویلي دي، د زړه له تله یې ویلي وه، ډېرې کیسې مو وکړې بلاخره ددې میاشتې تر اخیره مې د واده کولو وعده ورسره وکړه.

– نه بابا دومره زر هم نه، ته صبر بیا زه درته وایم.

– ته اوس کیسې مه پکې لټوه، او مه دې ځان ته په غوره کې کېږه، دا نجلۍ په تا نه وه مئینه، ته یې له سره لیدلی نه وې، صرف چا دې دښه خوی او بااحساسۍ ورته ویلي و، خصوصاً له هغې خبرې دې ډېره متثره شوې وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې پرته له کوم شور او شره دې هغه بل هلك ته ویلي و: (تاته دې مبارك وي) په عین حال کې په دې خبره یې ډېر زړه هم درباندې سوی و، مقصد د خپل ښکلي احساس له مخې یې انتخاب کړی وې، دا طلایي چانس له لاسه مه ورکوه، کني که په داسې حال یې ولیدې لکه هغه ورځ چې ما ولیدې صدف خو پرېږده، منه که شاوګله انا هم زړه درته ښه کړي، ولو که له اخلاقو دې بېخي...

نور خندا واخستله خبره همدلته نیمګړې ترې پاتې شوه. تر یوه شیبه خندا وروسته یې ځان بیا کابو کړو پسې زیاته یې کړه: زما هم صرف په دې نجلۍ زړه وسو مسېجونو یې دې ته لېواله کړم، کني نور...

دلته یې بیا خبره نیمګړې پرې ښوده،

د اوږدې ساه اخیستو په بهانه یې په بشپړولو پسې اوبه وڅښې، آخېر کې یې هغه هم په ګواښي انداز فقط دومره ووېل: څنګه دې خوښه ده؟

څه به مې وېلي و؟ په غلي غږ مې ورغبرګه کړه:

- ښا صحیح ده، څه نو توکل په خدای ج!

- آفرین، پس داسې وکړه کله دې چې وخت پیداکړو یو چکر دېخوا راشه زه یو څو روپۍ درکړم، کور ته یې یوسه تر هغو به مدینه دوئ د ځانونو لپاره جامې مامې پرې برابرې کړي.

ددې خبرې په ځواب کې یې غلی شوم.

خو ښه وه زما ځواب ته ډېره په طمعه پاتې نشوه زر یې ووېل:

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځه نور دې په خدای ج سپارم ښه شپه!

- همداسې تاته هم ښه شپه، خدای ج دې مل شه

موبایل قطعه شوه، نور نو کور ته هم رسېدلی وم، دروازه مې ټک ټک کړه، فرېښتې رامنډه کړل د دروازې خلاصولو علاوه، خلته مې يې هم له لاس نه وخیستله، په حاویلۍ کې مې د مور سره ولیدل، د مدینې په آشپزخانه کې کړپ او کړوپ و، لنډه دا چې شپه تېره شوه سهار بیا د دفتر په لور روان شوم، که څه هم ناوخته شوه تقریباً لس بجې وې چې ورسېدم دفتر د مېلمانو ډك و، دمېلمانو تر تللو وروسته دتعمیر مخ کې رحمت ګل دتاق بورۍ کچې پرې راخیستې وه، دګلانو سرۍ يې اصلاح کولې، زه هسې ورته ولاړ وم مجلس مو کولو، چې انجینر راووتلو خندل يې، اګر چې تل به همداسې خنده رویه و، خو دلته يې په ما تاثیر وکړو وشرمېدم داسې راته ښکاره شوه، لکه زما ستاېلي سر او ګیرې جوړولو؛ نویو پاکو جامو، بوټونو یعني یو دم له ځکې نه اسمان ته ختلو چې خندا وروستلې وي، خو په هر حال ستړي مشي مو وکړه؛ په ستړي مشي پسې پیوست يې وېل:

- پرون دې کلیوالې د پوهنتون خبره وکړه ټوکې يې وهلې که رښتیا وايې؟

- هوو انجینر صیب! د مزار پوهنتون کمپیوتر ساینس له څانګې فارغ یم.

- ظالمه! نو ته خو بیا پوره سړی يې ولې دې مخکې نه وېل؟

- سر مې کوږ کړو په خوله مې څه ونه وېل، ولې زړه کې مې وېل: چې په همدې درس وېلو وغولېدم، دا دومره وخت په دنده پیداکولو پسې بې کاره

(c) ketabton.com: The Digital Library


شوم؛ کني چې لمړی مې په دې مزدوريو شروع کړې وی، منه که داسې شپې ورځې راباندې راغلې وای.

بيا يې په کمپيوتري پرګرامونو کې ځو علمي پوښتنې وکړې.

دا مې هم ورځواب کړې، ددې ځواب په ورکول سره مې يې وېل:

- اووو سړيه ته خو نابغه وختلې تر لاس يې ونيولم دموټر په لور يې ورسره روان کړم، پسې زياته يې کړه پوهېږې چې زه مې په رسمي دنده کې ستا په شان يوه مرستيال ته ځومره اړتيا لرم؟ اما ته ناځوانه هيڅ ځان نه پوهوې.

بيا مې هم په مسکا سره تېره کړه نور مې غږ ونکړو اصلاً پوهېدم هم نه چې ټوکې وهي که رښتيا وايي، خو خلاصه موټر ته وختلو تر دروازه چې ځنګه بهر شو، عمومي سرك ته د ورګډېدو سره سم يې موبايل ته زنګ راغلو تر اوکې وروسته په لمړيو خبرو يې پوه شوم چې زنګ مرواء وهلی؛ که څه هم غږ مې يې نه اورېدلو خو فکر کړم مرواء پوښتنه ترې وکړه چې څېرته يې، يا چېرته ځې، ځکه دده له ځواب نه داسې ښکارېده په ټوکيز رنګ کې يې ورته وېل:

- امر دې په ځای کوم اکبر راسره دی د وزارت طرف ته روان يو.

نه پوهېږم چې هغه په ځواب کې څه ورته ووېل: خو دواړو ښه وخندل، همدې خندا خندا کې يې تماس سره قطعه شو،

شيبه وروسته اوس مې هېر دي چې کيسه د څه نه رایاده شوه، خو انجينر په روغتون کې د مرواء د مندلو کيسه راوچوله پسې زياته يې کړه دری ورځې

(c) ketabton.com: The Digital Library


وروسته په هوش راغله ولې حافظې يې لا هم کار نه کولو نه يې شواى ويلى چې دکوم ځاى يم، دچا لور يم، روغتون ته چا راوستلې يم، پنځمه ورځ له روغتون نه دخارجېدو په محال چې لا يې هم پاىواز نه و پيداشوى، کور ته مو راوستله مور مې دې الله ج وبښي ډېره مهربانه ښځه وه، دخپلې لور په شان پالنه يې ترې وکړه، ددې د اړتيا وړ خواړه يې ورته تهيه کړل، ښکلې، ښکلې جامې يې ورته واخيستلې، علاوه له دې د روغتون نه د خارجېدو په محال د ډاکترانو د توصيه سره سم، هره هفته به مو روغتون ته ور وستله، دوا به يې ورته تبديلوله، پس له شپږ مياشتې مسلسلې تداوۍ وروسته يې حافظې کار وکړو، سم دلاسه يې په ژړا او زاريو پيل وکړو په يوه ساه يې وېل، ما مې پلار ته ورسوئ، ما مې پلار ته ورسوئ هغه سخت ناروغ دى بل هېڅوك د خدمت نه لري، سره ددې چې نه پوهېده دلته چا راوستلې يم، ولې يې راوستلې يم؟ څومره وخت مې وتلى

صرف په همدې يوه خبره پلار ته په رسېدو يې ټينګار کولو، مازديګر و، مور مې سهار ته د وروستلو وعده ورسره وکړه، ددې سربېره پوښتنه يې ترې وکړه:

– په دوستانو کې دې دچا شماره ياد کې نشته ترڅو زنګ ورته وکړو، چې دپلار پوښتنه دې ترې وکړې؟

که څه هم څو ځل يې يوه شماره ووېله، چون غلطه به وه، ايله لماخوستن وتوانيده چې صحيح يې راياد کړي، شماره يې د مشرې خور وه، کوټې ته يې زنګ ووهلو، خور ئې دمرواء دغږ په اورېدو له ډېرې خوشحالۍ په ژړا شوه، بلاخېر مرواء ته يې ووېل: تر هغو همدغلته اوسه سبا زه درځم، همدا و چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


سبا ماښام يې دکابل ښار له دلويديځ برخې کمپنۍ نه، زنګ وکړو، پسې ورغلم خاوند يې هم ورسره و کورته مې راوستل، دمرواء سره يې وليدل له مرواء نه دښې پالنې له وجې يې زموږ نه هم مننه وکړه، دسهار په رارسيدو سره مرواء له دوئ هم زر تر زره پلار ته ئې ددې په ورسولو غوښتنه او ټينګار کولو، بلاخېره خور يې اړ کړه ترڅو دپلار دمړينې يې ورته ووېل، او پسې زياته يې کړه چې له موږ سره به کوټې ته ځې، دا چې ددې خبرې له کبله د مرواء وضعيت بيا ډېر خراب شو، اجازه مو ورنکړه ترڅو نن ولاړشي دبلې شپې لپاره مو هم راپاتې کړل، د دوهمې شپې په لماخوستن د مرواء خور زما مور ته د خپلې او خصوصاً مرواء د بې کسۍ کيسه کړې وه، دا چې مور مې ډېره مهربانه او په زړه نازك ښځه وه، بيا هم وايم الله ج دې جنتونه ورکړي، ښې سلګۍ يې ورته کړې وې، خلاصه همدلته يې زما دمور د غوښتنې له مخې زما او مرواء د واده موافقه هم کړې وه، کله چې زه او مرواء خبرېږو خدايزده چې د مرواء احساس به څنګه و، ولې خدايي چې شي زه ډېر خوشحاله شوم، په جريان ددې شپږو مياشتو کې اګر چې لا هم سخته ناروغه وه حافظې يې په فعاليت پيل نه و کړی خو بيا هم دښاپېرزادې څېرې، باانسانيته ناستې پاستې، سربېره په باطن کې مې يې درياب، درياب مينه درك کړې و، د همدې پرېکړې دشپې تر تېردو وروسته سبا تقريبا يولس بجې وې له، شرکت نه کور ته راغلم موټر مې حوېلۍ کې ودرولو، يوه اطاق، بل او بل ته مې سر ورلرې کړو هېڅوك هم نه و، اشپزخانه کې کړپو کړوپ و، په وره کې ور ودرېدم چې کتل مې مرواء په سلاټ جوړولو لګياه و، د مور پوښتنه مې ترې وکړه وېل يې:

(c) ketabton.com: The Digital Library


- هغه مې د خور سر پارك ته وتلې.

- ښا څه ښه يې کړې، دهمدې آرامې فضاء نه په استفاده مې پسې زياته کړه: رښتيا بيګاه يې چې زما او ستا په باب کومه موفقه کړې ترې راضع يې؟

څو شيبې يې ځواب ته غوږ په آواز وم، اما هېڅ غږ يې ونکړو بيا مې ووېل:

ګوره ته نجلۍ يې په نجينو کې هم بيا هغه مظلومه بې وسه او بې کسه نجلۍ که خوښه دې نه وي، يوه ذره هم چاته اجازه نه ورکوم چې جبراً خپله اراده درباندې تحميل کړي، ان تر دې چې که له ما سره واده کولو ته دې زړه نه وي، لکه تېرې شپږ مياشتې د تل لپاره دخور په صفت راسره اوسې هم د سر تورې سترګې مې يې، ولو که بل چېرته دې خوشحالي وينې هم همداسې؟

نجلۍ اوښکلنې سترګې راواړولې په پرې، پرې غږ يې ووېل:

خو زه يو عيب لرم دا که درنه پټه ومه طبعاً په وړاندې به دې ټول عمر ځان وجداً خجالت ملامت او يوه بده ميرمن احساسوم.

او که وروسته د نکاح درته وايم ممکن ته ووايې: چې ولې دې تر مخ نه وېل، هغه داسې دی چې ايا پوهېږې ولې د داسې شديدې عصبي حملې ښکار شوم؟ دا ځکه چې زموږ يو ګونډی هلك و، که څه هم ځوانۍ کې دومره ښايسته نه و، ولې له ښو اخلاقو، عادتونو، ځانګړتياو يې سربېره له موږ سره د کړو همکاريو له مخې مې خورا مينه ورسره لرله، په ټوله هيله مې غوښتل چې همدا هلك مې د ژوند ملګری شي، ان تر دې چې په ډېرو مظلومو الفاظو مې وړانديز هم ورته وکړو، ولې هغه ونه منلو د بلې نجلۍ سره يې واده وکړو،

(c) ketabton.com: The Digital Library


ددې پېښې دهمغه اول ځل خبرېدو سره نور په ځان نه یم پوه شوې مګر دغه دي چې پس له شپږو میاشتو خپل نورمال حالت ته راوګرځېدم، مقصد عاشقي يې ګڼې، ګناه يې ګڼې همدومره يو کار رانه شوی.

په خندا مې ورغبرګه کړه:

– اوووو ظالمې ودې وېرولم ماویل څه کفر دې کړی، د وړاندیزنو رد خو که ګناه وي زه هم منه که جنت په سترګو ووینم،

خو ښه وه، چې دا کیسه دې خپله وکړه که له کومې بلې خوا خبر شوای وای ډېرو شکونو ته به يې وړی وم.

ددې خبرې سره يې شین چراغ راکړو يعني مسکۍ شوه واپس يې په خپل سلاټ تهیه کولو لګیاه شوه، نور زه هم دخپل اطاق په لور ترې راروان شوم.

البته دا کیسه مې له دې خاطره درته وکړه چې زما په خوشبختۍ کې مستقماً ستا لاس دی، کني زه بېچاره چېرته او دا دجنت فردوس دحورو میره مرواء چیرته؟ ستا لاس ځکه دی، هغه ورځ مې چې د برنډو مینځلو لپاره راسره بوتلې کله چې مرواء لیدلی وې ماته يې زنګ وکړو ویل يې:

دا صفاکار دې چې راوستلی هغه زموږ ګونډی هلك دی چې زما وړاندیز يې رد کړی و، ما له دېخوا ټوکتاً ورته ووېل:

– ته او خدای ج نو د تا سترګې وې کنه؟ چې په دې پسې دې شپږ میاشتې حافظه...

(c) ketabton.com: The Digital Library


نور وزارت ته راورسېدو دانجینر کیسه د همدې حافظې په لفظ پاتې شوه له موټر نه ښکته شو، که څه هم په دفتر کې يې چې ووېل، ما فکر وکړو ټوکه يې راسره وکړه، ولې وزارت ته په راسېدو سره يې رښتیا هم دخپل ځان سره يعني معين د مرستیا په حيث زما په دنده ګمارنه پيل وکړو، د وزير سربېر د وزارت په لوی او واړو مامورينو يې ډېر ناز چلېدو ټولو ډېر درناوی ورته لرلو، همدا وجه وه چې په تول د دريو ورځو کې يې ټول کارونه راته خلاص کړل رسماً يې په (۴۲۰۰۰) دوه څلوېښت زره افغانۍ معاش سره خپل مرستيال وګمارلم، ددې علاوه د وزارت په فاميلو کې کوم چې د وزارت لوړ رتبه مامورين پکې اوسېدل يو درې اتاقه کور راته تسليم کړو، دريمه ورځ مې د کلا واحد له کوټې خپل څړې څړوکې ورټول کړل ورغلو، او همداسې په دنده مې پيل وکړو، پنځه ويشت ورځې وروسته دمرواء دفشار او مالي ملاتړ په مټ مو د فاميليو په تالار کې يو متوسط دواده محفل ونيولو صدف مو راناوې کړله، که څه هم نور مو ژوند ښېخې عالي شوه د کلا واحد خامې د مردارو ابو ډکې کوټې او زاړه خاورين کور کې ژوند او غربتونه ته په کتو، داسې احساس مو کولو لکه دوزخي چې په دوزخ کې ګناه وتوغي جنت ته راشي، ولې بيا هم يو دروند درد مې زړه کې دېره و، پټ پټ يې رنځولم لا ځوروي مې، هغه دا چې که څه هم صدف په ښکلاء کې له موره يوه وه او همداسې ښه بادبه، هوښياره، باتعليمه، مينه ناکه نجلۍ وه، ولې صرف هغه عاشق ته په کتو يې چې ان تر مزاره راپسې راغلو، دموبايل شماره او تصويرونه يې ورسره و، لکه څنګه چې ښايي يا لکه څومره چې دا ښکلې وه، هغه شان رجع مې نه ورته کېده، ځان يو قسم بې غيرته راته ښکارېدو، اګر

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې خپل پېغلوب يې ساتلی و، اما بيا هم زړه کې به مې وېل: رغړولې رارغړولې مچوګانې خو به يې ښې ډېرې ورنه اخيستې وې، ددې سره سم به له مرواء نه ما اخيستې مچو رایاد شوه او په څنګ کې به مې يې هغه حديث شريف نيغ سترګو ته ودرېدو چې حضرت محمد (ص) فرمايلي: که مو دنور خلکو د ښځو حيا ته زيان ورسولو، دخپلو ښځو عزت به مو دنور له خوا لوټ يا خپلې ښځې به مو بې حيا شي.

(پــــــــای)

ليـــــکوال

ورور مو محمدنعيم وردګ

**Get More e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**